# ابوذر غفاري (رض)

## تاريخي داستان

ليکوال:
عبدالحمید جودة السحارة
ژباړن:
عبدالکافي

بسم الله الرحمن الرحيم

# ابوذر (رض)

## تاريخي داستان

ليکوال:
عبدالحميد جودة السحارة
ژباړن:
عبدالکافي

د کتاب ځانګړنې:
د کتاب نوم: ابوذر غفاري (رض)
ليکوال: عبدالحميد جودة السحارة (مصرى ليکوال)
ژباړن: عبدالکافي
د کتاب سايز: ۱۰×۱۸
مخونه:
د چاپ کال: ۱۳۹۰ ل – لومړى
د چاپ کال: دويم -
شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

# لړلیک

لړلیک ........................................................... ٥

د ژباړن خبرې ............................................................ ٧

د لمر څرك ............................................................. ٩

نور به کله هم یو بل و نه گورو ........................................ ١٩

یثرب مسلمانېږي.......................................................... ٤٢

غفار غفرالله لها.......................................................... ٤٨

یثرب ته روانېدل ........................................................ ٥١

حضرت ابوذر(رض) ؛ ........................................................٥٥

"چوتره مېشت" صحابي و .................................................٥٥

وصیت ...........................................................................٥٨

حضرت ابوذر(رض) ...........................................................٦٦

د مکې په سوبه کې له خپل محبوب سره و ..............................٦٦

حضرت ابوذر(رض) تر ځمکې، په اسمانو کې ..........................٧٤

ښه پېژندل شوی .............................................................٧٤

ابوذر به څنگه پکې نه وي؟ !.......................................... ۷۸

حضرت ابوذر(رض) د الله په لار کې............................ ۸۵

پر مبارزه وياړي..................................................... ۸۵

د يارانو بېلتون....................................................... ۸۹

حضرت ابوذر(رض) د لومړي خليفه په پېر کې........................ ۱۰۰

حضرت ابوذرغفاري(رض) د دويم خليفه په پېر کې ...................... ۱۰۵

حضرت ابوذر غفاري(رض) خلك پر احاديثو پوهول ....................... ۱۱۰

انقلابي .................................................................... ۱۱۳

د بېوزليو په پلوی ټولنيزه مبارزه........................................ ۱۱۸

حضرت ابوذر(رض) ربذې ته شړل کېږي ..................................... ۱۳۰

حضرت ابوذر(رض) په ربذه کې ............................................ ۱۵۲

يوازېنی ربنتين .............................................................. ۱۵۸

د لوړې پر ضد د مخکښ مبارز ............................................. ۱٦۲

د ژوند ويرجنه پای............................................................ ۱٦۲

## د ژباړن خبرې

اروانباد ګل پاچا الفت په خپل اثر (د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش) کې لیکي:

((د رسول الله په اصحابو کې "حضرت ابوذرغفاري (رض) " د قارونیت پر ضد پر تبلیغي مبارزه لاس پورې کړ او په دغه جهاد کې یې ډېر تکلیفونه ولیدل، چې بالاخره د "ربذې" بېدیا ته نفې بلد (تبعید) شو او هلته د ډېر غربت په حال کې ومړ او لارویو یې خاورو ته وسواره.

د حضرت ابوذر (رض) او یو شمېر اصحابو د تبلیغ دغه معارضه، د حضرت عثمان (رض) په خلافت کې ډېره توده شوه، د حضرت ابوذر (رض) تبلیغ، چې څومره پر شتمنو او بډایانو بد لګېده، هومره یې خواران او فقیران ځان ته راجلبول او پلویان یې ډېرېدل.

حضرت علي او ابوذر (رضی الله عنهما) په دې ګروهه ول، چې د یوه کال د نفقې لپاره څلور زره درهمه ساتل جایز چار دی او تر دې ډېر مال زېرمه کول ممنوع کنز شمېرل کېږي.

په ډېرو نبوي احادیثو کې دا مطلب ښه روښانوي، چې اسلام فاحشه غنا بده ګڼي او دا نه خوښوي، چې ځینې په مزوچړچو کې ډوب وي او نور په لوږه او تنګسه کې ژوند وکړي. )) (۸٤ مخ)

موږ دلته د "حضرت ابوذر" رضی الله عنه پر شخصیت ښه تر ښه پوهېدنې لپاره د مصر د وتلي لیکوال "عبدالحمید جودة السحارة" "ابوذر" نومې کتاب ژباړلی، چې اروانباد ډاکټر "علي شریعتي" پر ۱۳۳٤ل له عربي فارسي کړی او موږ د خپلې ټولنې د شرایطو په پامنیوي، په پښتو وژباړه، چې تر پایه لوستل به یې د اروانباد "الفت" د پورته لیکنې په پوهېدنه کې لاسنیوی وکړي.

په ټولنه کې د فرهنګي ویښتیا لپاره د خپلو سترو شخصیتونو د افکارو راسپړل، د روښانسوچې مبارزې ځانګړنه ده، داچې استاد د هېواد ستر "ادیب اسلامپوه" دی؛ نو ځکه موږ یې پر افکارو د پوهېدو لپاره دا ګام پورته کړ.

د ځوان نسل د ویښتیا لپاره دا ډول فرهنګي زیار ایستل ((ملي - دیني)) دنده ده او له نوي کهوله هیلمن یو، چې زموږ دا هیله به د خپل علمي تړاو په بېدیا کې انګازنه کړي.

او همداراز مو له دې ژباړې موخه داده چې: (۱) حضرت ابوذر غفازي (رض) ځوان کهول ته ((د اقتصادي تقوا)) او ((طبقاتي تضاد)) له منځه وړو په لار کې بېلګه وي: او د هغه (( وسواس الخناس)) پر وړاندې یو ډال وي، چې زموږ د نوي کهول په سینو کې په بېلابېلو بڼو اچول کېږي. (۲) دا یوه ګټوره تاریخي کره کتنه ده، چې د پوهنتوني ځوانانو لپاره، چې د خپلې بېلارې او پردي پالې ټولنې د سمون ارمان یې د ژمن او ویښ ضمیر سترګې همېشه برېښوي (۳) او بالاخره د عرفاني ادبیاتو زدکړیالانو ته کره ماخذ دی.

د یادونې وړ ده، چې ددې مصري لیکوال دا دویم کتاب دی، چې په پښتو ژباړل کېږي.

په درنښت

عبدالکافي

۱۳۹۰ ل

## د لمر څرک

د غفار ټبر مشران راغونډ شوي ول، ډېر وخت باران نه و ورېدلی، د غفار ټبر تنګسې او تنګلاسۍ ښکېللي و او څاروي یې سخت ځپلي ول، ټولو یو بل پوښته: دوی ولې خپل خدای (منات) هېر کړي، حال دا، ډېر عبادتونه او قربانۍ ورته کوي.

د باران موسم تېر شو، نه په اسمان کې ورېځې وې او نه د باران نښه وه. ایا بې لارې شوي؟ او خدای پرې غوسه دی.

نه! د خدای د رضا لپاره قربانۍ شوي، وینې تویې شوي او دعاوې شوي دي. نه! بې لارې شوي نه دي او نه خدای پرې غوسه شوی؛ خو له اسمان سره به څه کوو؟

د غفار ټبر هېڅ نشي کړای؛ خو داچې د دوی لوی خدای؛ «منات» باران واوروي او شاړې ځمکې یې بېرته ښېرازه کړي.

هېڅ چاره نشته؛ خو داچې ټول یو ځای؛ ښځې او سړي، په زارۍ او ژړا شي او د منات لورنې ته په تمه شي، کېدای شي پرې ولورېږي او باران واوروي او شاړې ځمکې یې بېرته ښېرازې شي.

ټبر د منات د عبادت لپاره تګ ته چمتو شو او ټول پر اوښانو سواره شول، انیس هم پر خپل اوښ سور او له ټبر سره د منات پر لوري شو.

انیس شاوخوا تر سترګو تېره کړه، خپل رور یې و نه موند، اوښ یې پر ګونډو کړ، په منډه کور ته ورغی، غږ یې وکړ: جندبه! جندبه! کور ته رانںوت، و یې لیده، چې جندب غلی په بستره کې پروت دی.

ـ د خلکو زوړ نه اوري؟
ـ ولې نه؛ خو له مناته کرکجن یم.
ـ غلی شه! ښښنه ترې وغواړه! که خبره دې واوري او بلا راښکته کړي؛ نو بیا؟
ـ سوچ کوې، موږ وینې یا زموږ خبرې اوري؟
ـ دا پر تا څه چل شوی؟ ! پېریانو نیولی یې که رنځور یې؟ گوره! توبه وباسه، کېدای شي، توبه دې قبوله کړي.
ابوذر پر اړخ واوښت، سملاست او څه یې و نه ویل.
انیس: پاڅه! پاڅه! کاروان روان شو، چې له خلکو پاتې نه شو.
ودرېد، ابوذر یې له ځان سره بوتله. انیس چټك پر اوښ سپور شو. ابوذر زړه نازړه د اوښ پاو روان شو. انیس خپل رور ته مخ کړ، و یې ویل: له دې وډار شه، چې خلك ستا پر گروهه پوه شي؛ ځکه خلك به د خدای د غوسې او سوکړې لامل تا وبولي او سخت به دې وځوروي او بیا یې ورته د منات ستاینې وکړې. حضرت ابوذر (رض) له ناکامه دا خبرې اورېدې؛ چوپ و، څو ورځې روسته، کاروان منات ته ورسېد، چې ټول یې د لیدو لېوال ول. اوښان یې چو کړل او له ځان سره یې راوستي څاروي په عاجزۍ او زارۍ بلهار کړل. حضرت ابوذر (رض) د نورو په څېر له مناته وچورلېد او د خپل ټبر دې ساده توب او ناپوهۍ ته په سوچ کې و، چې ولې ډبرین خدای لمانځي، حال دا، هېڅ یې له لاسه نه کېږي او هم څه یې چې په مخ کې تېرېږي، بې خبره ترې دی؛ خو بیا هم دوی خپله لار نیولې او منات نمانځي.

شپه شوه؛ د تورې تيارې څادر خپور شو، په اسمان کې ستوري او پر ځمکه د غفار ټبر د اور انګار ځليږي. خلك ډلې ډلې کېناستل، بنډار غونډه توده شوه، حضرت ابوذر(رض) هم د ټبر له مشرانو سره کېناست، د لات او عزی د مقام او منزلت په اړه (چې العياذبالله د خدای لونړې يې ګڼلې) خوږې او خوندورې قيصې ويل کېږي. يوه د سعد د مقام او منزلت په اړه خبرې کولې، چې يوه يې په خبرو کې راټوپ کړ، و يې ويل: دهغه سړي قيصه مو اورېدلې، چې سعد يې کنځلی و؟ ټولو په يوه غږ وويل: نه! څه شوي ول؟ يو سړی سعد ته ورغی، چې خپل اوښان ورته وقف کړي، څنګه چې سعد ته ورنږدې شو، اوښانو يې تور وخوړ او وتښتېدل. سړی د اوښانو په لټه کې شو؛ خو و يې نه موندل او سټړی سعد ته راغی او په يوه ډبره يې پر سر و ايشت، و يې ويل: ته چا ته څه خير نشې رسولای، له سعد نه يې مخ واړوه او په اوښانو پسې ولاړ، په لار کې يې له ځان سره وويل: په سعد پسې راغلو، چې سره راټول مو کړي؛ خو هغه خو موږ يو له بله بېل کړو، نور سعد نه نمانځم؛ سعد خو يوازې يوه بې ساه او مړه ډبره ده، چا ته خير او شر رسولای نشي.

دا مهال يو سړي غوسه وويل: پر خدای دا سړی کافر شوی دی. خلکو وويل: ښه نو بيا څه چل وشو؟ هېڅ هم و نه شول. ټولو سرونه ښکته واچول او په سوچ کې ډوب شول.

دې قيصې د حضرت ابوذر(رض) زړه نور هم ډاډمن کړ او همدا قيصه وه، چې خلکو ته يې مړانه ورکړه، چې د دې بوتانو په اړه سوچ وکړي.

په دې کې يو سړي وويل: د عدی بن حاتم کيسه مو اورېدلې، چې د فلس عبادت يې پرېښی او نصراني شوی دی؟
خلکو وويل: نه! څه چل شوی و؟
صيفي د فلس چوپړيال/ چوپړيال يوه اوښه، د بني عليم له ټبره (چې د مالك بن کلثوم گاونډی و) په زور واخسته، چې فلس ته يې بلهار کړي. د اوښې څښتن مالك ته راغی، چې خپله اوښه د فلس له چوپړياله واخلي.
مالك پر لوڅ اس کېناست او نېزه يې راوخسته، چې چوپړيال يې له فلس سره نږدې وموند، خپله نېزه يې چوپړيال ته ونيوه، و يې ويل: د گاونډي اوښه مې راکړه!
صيفي: ته د خپل خدای سپکاوی کوې؟
مالك په زور له صيفي د اوښې پړی واخست او چوپړيال، فلس ته پناه يووړه او څنگ ته يې ودرېد او په ژړا او زاری يې لاسونه پورته کړل. مالك ته يې په اشاره وويل: پالونکيه! مالك بن کلثوم نن له تا يوه ښکلې اوښه واخسته او سرغړونه يې وکړه. پالونکيه! تر ننه چا پر موږ تېری نه و کړی. صيفي ډېره خواري کوله، چې فلس د مالك پر خلاف راوپاروي او مالك وځوروي. عدی بن حاتم او هغه بل سړی (د اوښې څښتن) له فلس سره نږدې ولاړ ول او دا پېښه يې ليده.
عدی وويل: گورو، چې نن پر مالك څه کېږي؟ له دې پېښې ډېرې ورځې تېرې شوې؛ خو هېڅ و نه شول، عدی هم د فلس او نورو بوتانو عبادت پرېښود او نصراني شو.

حال دا، د ټولو خلکو رنگونه له هېښنې تور اوختي ول، سرونه يې ټيټ کړل او په سوچ کې شول.
دې قيصې هم د حضرت ابوذر(رض) پر زړه يخې اوبه تويې کړې او روح يې ارام شو. ډلې يو له بله بېلې شوې او د منات په شاو خوا کې يې بسترې هوارې کړې او پر ښخ خوب ويده شول. ټول ويده دي، چوپه چوپتيا ده؛ خو حضرت ابوذر(رض) سترگې اسمان ته نيولې، ستوري څاري او په ننني غونډه کې يې د بوتانو پر اوربېدليو قيصو سوچ کاوه. د بوتانو له الوهيت او ځواکه يې انکار کاوه او له ځان سره يې ويل: منات يوازې ډبره ده، چې نه چاته خېر رسولای شي او نه له چا شر تمبولای شي. په همدې وخت کې سوچ ورغی، له ځايه راولاړ شو او منات ته ورغی. منات ته چې ورسېد؛ نو گوري، چې بې ساه مجسمه ده، چې نه اوري او نه ليدای شي. د ازمېښت لپاره يې منات په کاڼي وايشت، چې يوازې يې کړنگ واورېدل شو.
حضرت ابوذر(رض) په سوچ کې شو او له غوسې يې وويل: ته بېوسه يې! نه وسمن او ځواکمن! مخلوق او تورل شوی يې! نه خالق! نو ولې دې عبادت وکړو او څاروي درته قرباني کړو. دا ښکاره ده، چې زما ټېر بې لارې دی.
حضرت ابوذر(رض) په ارامۍ خپلې بسترې ته راغی او ويده شو. سهار شو؛ لمر راوخوت او وړانگې يې خورې شوې او د منات عابدين يې راپاځول؛ خو منات هماغسې چوپ او بې حسه و. نه يې څه اورېدل او نه يې څه ليدل. ښځې و نر له مناته راټول شول او د منات عبادت يې پيل کړ؛ خو حضرت ابوذر(رض) برخه وانه خسته،

منات ته یې شا کړه او پر اوښ سپور شو؛ د سوچ مرغۍ یې په هستی کې لوړه الوته، سر یې اسمان ته نیولی و، د هغه ستریا ته یې کتل او له ځان سره یې ویل: دا اسمان څنګه پر ځای ولاړ دی؟ چا جوړ کړی؟ لمر ته یې داسې کتل؛ لکه چې په لومړي ځل یې لیدلی وي، څنګه راخېژي او بېرته ډوبېږي، چې ورپسې تپه تیاره کېږي؟ او شپه په ستورو رڼا کېږي. د یقین په اندېښنو کې ډوب و؛ هغه اندېښنې، چې د حضرت ابوذر (رض) شك یې د وچ لرګي په څېر په اور کې سوځاوه.
د غفار ټبر عبادت پای ته ورسېد، خلك تګ ته چمتو شول.
انیس، ابوذر ته ورغی، یوه شېبه ورته په ننداره شو. ګوري، چې حضرت ابوذر (رض) د خپل سوچ د سمندر څپو راخستی، هیڅ یې و نه ویل او له خپل ټبر سره د غفار پاو روان شو. حضرت ابوذر (رض) هماغسې چوپ او په سوچ کې ډوب و، چې کاروان یوې درې ته ورسېد؛ په ځیر یې شاوخوا غرونو ته وکتل، په زړه کې یې وویل: دا غرونه چا درولي؟ څنګه یې درولي؟ لکه چې حضرت ابوذر (رض) د لومړي ځل لپاره دا نړۍ ویني؛ ځمکې ته یې وکتل، څنګه داسې هواره ده؟ په سر کې یې سوچونه خوټېدل. حضرت ابوذر (رض) نوی ژوند وموند، د هدایت او لارښوونو وړانګو، د حضرت ابوذر (رض) د زړه د شك پردې څیرې کړې؛ هغه د شك پردې، چې کلونه کلونه یې له زړه راتاوې وې.
حضرت ابوذر (رض) له ټبر سره "غفار" ته ورسېد. ښځې او نارینه له اوښانو راکوز شول. حضرت ابوذر (رض) خپل کور ته راغی؛ هغه کور چې د قبر په څېر تیاره او چوپه چوپتیا پرې خپره وه، خپلې بسترې ته

ولاړ؛ خو خوب يې له سترګو والوت؛ د سوچ بې قراره مرغۍ يې کله يو خوا او کله بل خوا الوته. کله اسمان او کله ځمکې ته او له ځان سره يې ويل: دا ځمکه او اسمان چا پنځولي؟ زه څوك يم؟ زما څښتن څوك دی؟ هغه څوك دی، چې سترګې يې د ليدو، ژبه يې د خبرو او فطرت يې د تقوی (خېر) او فساد (شر) د الهام لپاره راکړي دي؟ بې له هغه بل څوك د عبادت وړ نه دی. هغه نوښتګر، پنځګر، وسمن او څواکمن دی. هو! لات، منات، عزی، ساف، نائله او سعد د عبادت وړ نه دي؛ يوازې ډبرې دي، بېوسه او بې نوښته دي.

د ايمان او يقين وړانګو، د حضرت ابوذر (رض) پر زړه د الله تعالی د عبادت اور ولګاوه، له سترګو يې اوښکې راوبهېدې او خپل حقيقي پالونکي ته پر سجده پرېووت.

حضرت ابوذر(رض) د يقين او حقيقت تږی و او د همدې چينې په لټه کې و، چې و يې مونده او د کلونو تنده يې د حقيقت او معرفت په سړو اوبو ماته کړه.

حضرت ابوذر(رض) سر له اوږدې سجدې راپورته کړ، چې د سترګو تږمو اوښکو او خولو يې بدن لوند کړی و؛ مخ يې د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده.

د اوږدې سجدې ژړاګانو يې له زړه د کلونو پېټی سپك کړ؛ خپلې بسترې ته ولاړ او ويده شو. دا يې په ژوند کې خورا ارامه شپه وه. سهار شو او حضرت ابوذر(رض) ، هوسا له خپلې بسترې راجګ شو او په خواږه غږ، د پالونکي پر عبادت بوخت شو، لاسونه يې اسمان ته نيولي ول، چې انيس راننوت، غوښتل يې خبرې ورسره وکړي؛ خو د

حضرت ابوذر(رض) دې کار، انیس هېښنده کړ، چې رور یې خپل ورك دوست موندلی او په مینه خبرې ورسره کوي. حضرت ابوذر(رض) د انیس په راتګ پوه نه شو، انیس هم لږ څه په سد شو، و یې ویل: څه کوې؟

حضرت ابوذر (رض): لمونځ کوم (عبادت کوم).

انیس: د چا عبادت کوې؟

و یې ویل: د نړۍ پالونکي عبادت کوم.

انیس: یعنې د " الله" عبادت کوې؟ ! ؛ خو بې له منات او.. د بل عبادت سم نه دی.

حضرت ابوذر (رض): نه منات نمانځم او نه کوم بل بوت!

انیس: نو د چا عبادت کوې؟

و یې ویل: ما په دې نړۍ او طبیعت کې داسې نښې لیدلي، چې ما ستاسې له خدایانو پرته بل خدای ته رابولي، هغه ستر او وسمن ذات دی؛ داسې هیلې نشته، چې هغه به په عقل او بحث جوت شي، یو داسې ذات، چې تر ټولو لوی او پر ټولو واکمن دی.

انیس: هغه خدای لمانځې، چې نه یې وینې او نه یې موندلای شې؟

حضرت ابوذر(رض): هغه مې نه دی موندلی؛ خو په نښو یې پېژنم.

انیس: ابوذره! ته دومره بې عقله نه وې، هغه خدایان پرېږدې، چې هم یې وینې او هم یې موندلای شې او هغه خدای منې او لمانځې یې چې نه یې وینې او نه یې موندلای شې؟

حضرت ابوذر(رض): دا خدایان یوازې ډبرې دي، چې نه پر څه پوهېږي او نه چا ته تاوان او ګټه رسولای شي.

انیس: ابوذره! غواړې، زموږ او زموږ د نیکونو عقل په سیند لاهو کړې؟

حضرت ابوذر(رض): نو په دې کې زما څه گناه ده، چې زموږ نیکونه او پلرونه ناپوهه او بې لارې ول. زموږ دین بې بنسټه دی، د غنو د جالونو په څېر سست دی. گوره! دې خبرې ته دې سوچ نه دی، چې له موږه څوك سفر ته ځي او په لار کې څلور کاڼي ویني؛ نو کوم یو یې چې پر سترگو ښه ولگي؛ نو هغه یې خدای شي او درې نور یې تر کټوی لاندې نغری شي؛ ځکه پر سترگو یې ښه نه دي لگېدلي.... (دا ډېره هېښنده خبره ده)

انیس: موږ کله هم په سفرونو کې داسې نه کوو، دا ډېرې "اساف" او "نائله" دي او موږ یې د دې لپاره نمانځو، چې په مکه کې دي.

حضرت ابوذر(رض): اساف او نایله دوه زناکاران دي، په دې خوښ یې چې عبادت یې کوې؟ !

انیس: ابوذره! دا ته څه وایې؟ اساف په یمن کې پر نائله عاشق شوی و، دواړه کعبې ته راغلل، و یې لیدل، چې د خلکو له سترگو پناه دي؛ یو بل یې ښکل کړل او زنا یې وکړه؛ بله ورځ د کعبې زیارت کوونکیو ولیدل، چې دواړه مسخ شوي. خلکو هم د عبرت لپاره په کعبه کې کېښوول او څه موده روسته، د عبادت وړ او خدایان شول! ! !

حضرت ابوذر(رض): دوی ستاسې خدایان دي؟ ! ! !

انیس: نو ددې دومره معجزو په اړه یې څه وایې؟

حضرت ابوذر (رض): دوی نه معجزې درلودې او نه به یې ولري. نه ځواک لري او نه وس. هر څه د الله له لوري دي، هسې یې ورپورې

تړي، همدا پرون د منات عبادت ته ولاړو، چې باران و اوروي، عبادتونه مو وکړل، پسونه مو ورته حلال کړل، څه يې وکړل؟ هېڅ! ! د هغه له لاسه د هېڅ نه کولو لامل دا نه دی، چې موږ يې عبادت نه دی کړی يا مو قرباني ورته نه ده کړې او يا دا چې له موږه خپه شوی؛ بلکې آريز لامل يې دادی، چې له لاسه يې هېڅ پوره نه دي.

انيس: بس دی! غلی شه! نږدې ده پر خبرو دې باور وکړم او د خپلو خدايانو په اړه شکمن شم.

حضرت ابوذر (رض): هو انيسه! همدا مې ارمان دی. زه هيلمن يم، ته هم زما په څېر له دې بوتانو کرکجن شې او د هغه چا عبادت وکړې، چې د ځمکې او اسمانو پنځګر دی.

انيس: ايا دين هم د زړو جامو په څېر په اسانۍ بدلولای شو؟

حضرت ابوذر (رض): هو انيسه! چې دين مو د زړو جامو په څېر وي.

د خپلې مور په راتلو چوپ شول. مور يې زامنو ته مخ کړ، و يې ويل: څه به کوو؟ نظر مو څه دی؟

انيس: مورجانې! د څه په اړه؟

مور: د سوکړې په اړه.

انيس: څنګه چې مو خوښه وي.

مور: د ماما کره به دې ولاړ شو، ماما دې شتمن او ځمکوال دی.

حضرت ابوذر (رض): چې څنګه مو خوښه وي، چېرې چې ولاړ شو، خدای مو مل دی.

## نور به کله هم یو بل و نه گورو

رسول الله:

(( د ابوذر شرم، حیا او زهد؛ د عیسی بن مریم په څېر دی ))

حضرت ابوذر(رض) او انیس له خپلې مور سره د ماما کور ته روان شول. حضرت ابوذر(رض) خپل چاپېریال ته کتل، څه چې یې لیدل، هومره یې د هغوی خالق لوی لیده او یقین یې نور هم پخېده، ناڅاپه یې له لرې، د مکې دېوالونه ولیدل. اوښان یې چټک کړل، چې ژر له دې بدمرغۍ او سوکړې بېغمه او د هوسا ژوند څښتنان شي.

حضرت ابوذر(رض) ، انیس او مور یې له ماما کره ولاړل، ژوند یې ښه تېرېده؛ ځکه ماما یې لورېده پرې.

د ټبر خلکو دا حالات پخپله ګټه نه لیدل او په زړونو کې یې کینې راوپارېدې او د حضرت ابوذر(رض) ، انیس او د مور دښمنان یې شول، چې کېدای شي، د خور، رور، ماما او خورینو د خپلوۍ له لامله دوی هېر کړي، راټول شول، جرګه یې وکړه، یو سړی یې وګوماره.

سړی د حضرت ابوذر(رض) او انیس د ماما کور ته ورغی، په ګوټ کې کېناست، سر یې ټیټ کړ، سوړ اوسېلی یې وکړ، چې د هر چا زړه ته یې شل شکونه اچول.

د حضرت ابوذر ماما: خېر خو به وي، څه شوي؟

سړی: (په مکر) د مهمې خبرې لپاره راغلی یم، که مې مینه او اخلاص نه وای؛ نو کله به مې هم دا خبره نه وای کړې، چې ستا په نه شتون کې

په کور کې مو څه تېرېږي. خواشيني ده، چې ستا د نېکۍ او احسان بدله، بدي ده.
د حضرت ابوذر ماما پوه شو، چې څه خبره خو شته.
غوسه يې وويل: سمه خبره کوه، څه شوي؟
سړی: انيس....
ماما: څه يې کړي؟
سړی: چې له کوره وځې، انيس د کور له ښځو سره ناسته پاسته لري.
ماما: دا خبره دروغ ده! تور دی.
سړی: موږ هم غوښتل، دا خبره دروغ وي؛ خو دا خبره د کاڼي کرښه ده.
ماما: اخر ته څه دليل لرې؟
سړی: ټول خبر دي، بل څوک وپوښته.
ماما: نه بس دی.
د حضرت ابوذر ماما ډېر خپه شو، سر يې ښکته کړ، له کوره ووت، څومره چې يې وغوښتل خپله غوسه سړه کړي؛ خو و يې نه کړای شول؛ شپې او ورځې يې په خپگان و غوسه کې تېرېدې، چې بالاخره حضرت ابوذر(رض) يې پر تندي پوه شو او و يې پوښتل: دا څو ورځې خپه يې، اندېښمن يې، له موږ نه خو به خپه نه يې؟
ماما: نه هېڅ خبره نشته.
حضرت ابوذر(رض): نه! څه خبره خو ده، ماته ووايه، کېدای شي، زړه دې سپك شي.
ماما: ټبر مې ډېره غټه خبره رارسولې، چې ويل يې غټه خوله غواړي.

حضرت ابوذر (رض): څه يې ويلي.
ماما: ويلي يې دي، چې انيس يو ناوړه عمل کړی دی. خلك وايي: چې کله په کور کې نه يم؛ نو انيس زما له ښځو سره ناسته پاسته لري.
د دې خبرې په اورېدو، د حضرت ابوذر(رض) رنگ واووښت او سترگې يې له غوسې سرې شوې، و يې ويل: څومره نېکی، چې دې کړې وې، پر سيند لاهو شوې، نور زموږ او ستاسې ترمنځ اړيکې وشلېدې او کله به هم و نه گورو.

*****

حضرت ابوذر(رض) او انيس په غفار کې د خپل کور په مخ کې ناست ول، چې يو سړی راغی، سلام يې واچاوه او ترڅنگ يې کېناست.
حضرت ابوذر (رض): د کوم ځای يې؟
سړی: د مکې.
حضرت ابوذر (رض): په مکه کې څه حال دی؟ څه خبرې دي؟
سړی: يو تن راپيدا شوی، چې وايي: «زه پيغمبر يم او له اسمانه راته وحې راځي.»
حضرت ابوذر (رض): د خلکو چلن ورسره څنگه دی؟
سړی: څوك يې خبرو ته غوږ نه ږدي.
حضرت ابوذر (رض): ولې؟

سړی: ځکه وايي: نيکونه او پلرونه مو بې لارې ول او گروهې مو باطلې دي او په هر څه کې خبرې راوباسي.
حضرت ابوذر (رض): هغه دا کار کړی دی؟
سړی: د هېښتيا خبره خو داده، چې زموږ خدايان نه مني او وايي، چې خدای ايکي يو دی.
حضرت ابوذر (رض) سر په گرېوان کې ښکته کړ او دې خبرې ته سوچ يووړ؛ خو دا خبره ورته دومره هېښنده نه وه؛ ځکه په هستۍ کې په اندنې دې خبرې ته رسېدلی و. سر يې هماغسې په گرېوان کې و او په سوچ او اندېښنو کې ډوب و. له مکې راغلي سړي، چې حضرت ابوذر (رض) په دې حالت کې وليد؛ نو اجازه يې وغوښته او ولاړ.
حضرت ابوذر (رض) ، انيس ته مخ کړ، و يې ويل: انيسه! ورشه او د هغه سړي له کړنو مې خبر کړه، چې وايي: «زه پېغمبر يم او وحې راته راځي.»
انيس پاڅېد، پر اوښ سپور او د مکې پر لوري روان شو.
مکې ته چې ورسېد؛ نو لومړی يې د کعبې طواف وکړ، د طواف په ترڅ کې، يوې ډلې د انيس پام ځان ته راواړاوه، ورغی او يو سړی يې وپوښت: دلته څه خبره ده؟
سړی: يو مرتد (العياذبالله) راغلی او خلك نوي دين ته رابولي.
د سړي خبره لا خلاصه نه وه، چې د انيس پر غوږونو يو غږ ولگېد، چې يو سړی خلکو ته وايي: «د الله منندوی يم، لمانځم يې، مرسته ترې غواړم، ايمان پرې لرم، هغه مې مرستندوی دی او گواهي ورکوم چې بېشکه الله، ايکي يو دی او شريك نه لري.»

په خلکو کې یوه غږ وکړ: ته دروغ وایې!
- مشر کله هم خپل ټبر ته دروغ نه وایي! قسم پر هغه، چې بې له هغه بل ذات نشته، زه هغه تاسې ته رالیږلی یم. الله مو هماغسې مړه کوي؛ لکه چې تاسې ویده کیږئ او بېرته مو راژوندي کوي؛ لکه له خوبه چې راپاڅئ. له تاسې سره به د ټولو کړنو حساب و کتاب کوي او هغه د دوزخونو او جنتونو څښتن دی.
دلته یو سړي وویل: د هډوکو تر رژېدو روسته، څنګه بیا راژوندي کیږو؟
[، و یې ویل: ((ایا چې کله موږ وراسته هډوکي او رژېدلې خاورې شو؛ نو بیا به له نوي سره راژوندي کیږو؟ ! ))
ووایه: که ډبره یا اوسپنه یاست، یا ستاسې له نظره تردې هم کوم سخت شی (چې د ژوندي کېدو هېڅ وړتیا پکې نه وي؛ خو بیا هم الله پردې ځواکمن دی، چې تاسې دویم ځل را ژوندي کړي)؛ نو بې له درنګه به ووایي: ((څوك به موږ بېرته د ژوند پر لور وراړوي؟ ! ))
ووایه: (( هماغه چې په لومړي ځل یې پنځولي یاست. )) بیا به (په ملنډو) تا ته د هو سر وخوځوي او و به پوښتي: (( دا به کله وي؟ ! ))
ووایه: ((ښایي نژدې وي! [1] ]
انیس په ځیر د خلکو خبرو ته غوږ نیولی و او خپلو مغزو ته یې سپارلې.
خلك، چې خواره شول، یوه وویل: پالي دی!

---

[1] (اسرا/۴۹-۵۱ آیتونه)

يو بل وويل: شاعر هم دی!
او يو بل ډېره کړه: چې پاړوګر هم دی.
انيس د پېغمبراکرم او ټبر خبرې يې واورېدې. زړه يې ګواهي ورکوله، چې خبرې يې رښينې دي؛ خو ټبر يې دروغجن دی.
انيس پر خپل اوښ سپور شو او پر ټوله لار، د حضرت محمد (ص) خبرو ته سوچ وړی و، چې غفار ته ورسېد.
حضرت ابوذر (رض) د انيس په ليدو ورمنده کړه او له واره يې انيس وپوښت؟ څه خبر دې راوړی؟
انيس: يو سړی مې وليد، چې په اند يې الله رالېږلی او خلك يې نېکۍ ته رابلل او له بدۍ يې منع کول.
حضرت ابوذر (رض): خلکو يې په اړه څه ويل؟
انيس: خلك وايي، هغه شاعر، پالي او کوډګر دی.
ابوذره! ته په خپله په دې خبره ښه پوهېږې، چې زه ډېر شاعران او د شعر ډولونه پېژنم، د هغه ټولې خبرې مې له بېلابېلو شعرونو سره پرتله کړې؛ خو د شعر په څېر نه وې؛ پاليان مې هم ليدلي؛ خو خبرې يې د هغوی په څېر هم نه وې.
حضرت ابوذر (رض): هغه څه وايي؟
انيس: څه هېښنده خبرې يې کولې.
حضرت ابوذر (رض): خبرې يې ستا يادې دي؟
انيس: پر الله قسم، خبرو يې ځانګړی خوږوالی درلود؛ خو يادې مې نه دي.

حضرت ابوذر (رض): قانع دې نه کړم؛ لار دې چورتي کړم، اړ یم، په خپله ورشم، له نږدې وګورم، چې څه خبره ده.
انیس: چې څنګه دې خوښه وي؛ خو له ټبره یې ځان ساته؛ ځکه هغه خپل دښمن ګڼي او ډېره کینه ورسره لري.
د حضرت ابوذر (رض) د صبر کاسه ډکه شوه، نور یې ځان ټینګ نه کړای شو، یو زوړ خیګ یې له اوبو ډك کړ او په مینه د «ارمانښار» (مدینه فاضله) پر لوري روان شو. په مغزو کې یې ډول ډول سوچونه تېرېږي. د نوي دین د سمندر څپو په مخه راخستی دی. له ځان سره یې وویل: چېرې روان یې؟ څنګه به هغه دین ته رسې، چې خلك اخلاقو ته رابولي؟ څوك به یې له حضرت محمد (ص) سره مخ کړي؟ که د رسول الله دښمنان یې ونیسي؛ نو ګڼې ژوندی به یې پرېږدي؟ !
خو بالاخره و یې پتیېله، چې سیده جومات ته ورشي او هلته د پیغمبر اکرم (ص) پلټنه پیل کړي.
ابوذر مکې ته ورسېد او سیده جومات ته ورغی او د پیغمبراکرم پلټنه یې پیل کړه؛ خو و یې نه موند او نه یې په اړه، څه واورېدل؛ نو له ناچارۍ په جومات کې پاتې شو. لمر پرېووت؛ شاوخوا تپه تیاره او چوپه چوپتیا خپره شوه، ټول ویده ول؛ خو څو تنو د کعبې طواف کاوه، دا مهال، حضرت علي کرم الله وجهه، طواف ته راغی؛ ګوري، یو لوړ دنګ سړی، چې توره پګړۍ یې پر سر وه او په زوړ او شلېدلي څادر کې یې ځان نغښتی، د جومات په ګوټ کې ناست دی. ورنږدې شو، و یې ویل: ګومان کوم، مسافر یې؟
حضرت ابوذر (رض): هو!

حضرت علي (ک): راځه راسره.
په لار کې نه حضرت ابوذر(رض) څه وويل او نه حضرت علي وپوښت، کور ته ورسېدل، حضرت ابوذر(رض) شپه تېره کړه، چې سهار شو؛ نو حضرت ابوذر(رض) د پېغمبراکرم پلټنه پيل کړه، بازار او کوڅې يې تر پښو لاندې کړې؛ خو و يې نه موند، ستړی، وږی او تږی جومات ته راستون شو، نه د خوړو څه لري او نه نغدې، چې څه وپېري؛ لوږې وځپه، مسکين د جومات ګوټ ته ورغی، څادر يې پر ځان راخپور او ويده شو، چې بيا هم حضرت علي کرم الله وجهه وربرابر شو، ودرېد، و يې ويل: تر اوسه دې لا خپل کور نه دی موندلی؟ راځه راسره!
حضرت علي (ک)، حضرت ابوذر(رض) له ځان سره روان او کور ته يې راووست. حضرت علي او حضرت ابوذر(رض) هماغسې چوپ ول، چې حضرت علي (ک) وپوښت: ما ته نه وايې، چې دلته څه کوې او د څه لپاره راغلی يې؟
حضرت ابوذر(رض): لومړی لوز وکړه، چې چاته به نه وايې او مرسته به راسره کوې.
حضرت علي (ک): سمه ده.
حضرت ابوذر(رض): اورېدلي مې دي، دلته يو سړی د پېغمبرۍ دعوی کوي، خپل رور مې د احوال لپاره راواستاوه؛ خو د کار خبر يې را نهووړ، پرېکړه مې وکړه، په خپله يې ووينم، اوس اندېښنه داده، چې نه يې پېژنم او نه يې په اړه د پوښتنې مړانه کولای شم.

حضرت علي(ک) ددې خبرو په اورېدو؛ لکه د پسرلي گل وغوړېد، حضرت ابوذر ته په نندازه شو، و يې ويل: څوك يې او له کوم ځايه راغلی يې؟

حضرت ابوذر (رض): نوم مې "جندب جناده" او کنيه مې "ابوذر" دی او د غفار له ټبره يم.

حضرت علي(ک): سم ځای ته راغلی يې، پر الله قسم هغه پېغمبر دی او څه چې پرې نازل شوي، حق دي. زه همدا اوس ورځم، ته هم راپسې شه، چې چېرې ننوتم، ته هم راننوځه، که په لار کې خطر و؛ نو زه به دېوال ته مخ کړم؛ گنې پڼې ټينگوم او ته به مې له خوا تېر شې.

حضرت علي او حضرت ابوذر د شپې په تياره کې روان شول، حضرت ابوذر(رض) له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېده.

حضرت علي(ک) د کور وره ته ودرېد او په ځانگړي ډول يې ور وټکاوه، د وره له شا يو سړي را و ليدل او حضرت علي(ک) يې وپېژانده، ور يې ورته پرانست؛ دواړه يوځای کور ته ننوتل.

د حضرت ابوذر(رض) زړه له خوشحالۍ دومره درزېده، چې درزا يې په خپله هم اورېده؛ ځکه يوازې څو گامه له خپل محبوبه لرې دی.

ځان د خپل محبوب ليدو ته چمتو کوي، پر ځان يې گوتې ووهلې او هېښ دی، چې په کومو ټکيو به له خپل محبوب سره خبرې کوي.

لومړی حضرت علي(ک) کوټې ته ننوت او ورپسې حضرت ابوذر(رض) ؛ د رسول الله په ليدو يې من من غوښه واخسته، و يې ويل: السلام عليکم.

رسول الله: عليك السلام و رحمة الله و بركاته... د کوم ځای يې؟

حضرت ابوذر (رض) په حیا او ټیټ غږ: د غفار یم.
د رسول الله او ابوذر ترمنځ پر بېلابېلو موضوع ګانو خبرې وشوې.
حضرت ابوذر (رض) په ډاډمن زړه وویل: اسلام راوښیه.
پیغمبراکرم: اسلام دادی، چې ګواهي ورکړې: «بېشکه الله ایکي یو دی، شریك نه لري او محمد یې استازی دی او لمونځ هم وکړې.»
حضرت ابوذر (رض): ګواهي ورکوم: چې الله ایکي یو دی، شریك نه لري او محمد یې استازی دی.
پیغمبراکرم: ابوذره! پام، چې په دې خبره څوك خبر نشي، چوپه خوله خپل ټبر ته ورشه او تبلیغ پیل کړه؛ دا خبره مې ځکه درته وکړه، چې ددې ځای خلك دې و نه ځوروي او زما د راښکاره کېدو خبر، چې دې واورېد؛ نو هله راشه.
دا خبره رسول الله ځکه حضرت ابوذر (رض) ته وکړه، چې خلك یې و نه ځوروي؛ خو پوښتنه داده، چې ایا د حضرت ابوذر (رض) زړه به ومني، چې خپل ایمان پټ کړي او په څه چې پوهېږي، نورو ته یې و نه رسوي؟ هډو هم نه!
حضرت ابوذر (رض) په ډاډمن زړه (چې ایمان پیاوړی کړی و) وویل: پر هغه الله قسم، چې ته یې په حق را استولی یې؛ په چغو چغو به خپل ایمان ښکاره کړم.
حضرت ابوذر (رض) دې سړي ته سوچ وړی، چې ځان ته پیغمبر وایي او هغه یې له تیارو را ایستی او د حقیقت پلټنې تنده یې ورته د ایمان په چینو ماته کړې؛ له لمره جوړ شوی؛ جسم دی که له اسمانه راکېوتې؛ پرښته ده که عادي بشر دی؟ رو یې د رسول الله پر اوږو

لاس کېښود؛ د لاس اېښوول نه وو؛ د حضرت ابوذر (رض) د زړه پر ټپونو مرهم اېښوول ول، زړه يې هوا وکړه؛ اوږده ساه يې واخسته، له ځايه راپاڅېد، په پياوړې اراده جومات ته روان شو. دومره پر خپل ايمان ډاډمن و، چې نه يې زړه ته وېره راتله او نه شك. په جومات کې يې يوه ډله قريش وليدل، ناڅاپه يې چغه کړه:

«قريشو! قريشو! زه گواهي ورکوم، چې بېشکه "الله" ايکي يو دی، شريك نه لري او محمد يې استازی دی.»

حضرت ابوذر(رض) پينځم تن و، چې په ايمان راووړو يې د اسلام نيالگی خړوب کړ. د اسلام نيالگي لا دومره جرړې نه وې غځولې او نه لا چا رسول الله ته د مرستې او دوستۍ لاس وراوږد کړی و.

پر قريشو د حضرت ابوذر(رض) غږ ښه اغېز و نه کړ، هک پک او غوسه يې کړل، ورټول شول او په مرگ يې وواهه، ټولو په لغتو واهه، چې عباس راو رسېد، و يې ويل: دا څه کوئ؟ وژنئ يې؟ نه پوهېږئ، د غفار ټبر دی؛ شام ته چې ستاسې د سوداگرۍ توکي ځي؛ نو له غفاره تېرېږي.

په دې خبرې قريش خواره شول؛ خو حضرت ابوذر(رض) د وچ لرگي په څېر، پړمخې، په وينو ککړ پروت و، په خورا سختۍ يې ملا نېغه کړه، رو رو روان شو، چې د زمزم چينې ته ورسېد؛ مخ او لاس يې پرېمينځل، له بدنه يې وينې پاکې کړې، اوبه يې وڅښلې او د کعبې پر لوري روان شو. د رسول الله کور ته ورننوت؛ گوري چې حضرت ابوبکر (رض) هم ورسره ناست دی.

حضرت ابوبکر(رض): څومره موده کېږي، چې راغلی يې؟

حضرت ابوذر (رض): درې ورځې.
حضرت ابوبکر (رض): چا خواړه درکول؟
حضرت ابوذر (رض): د زمزم په اوبو مې گوزاره کوله.
حضرت ابوبکر (رض): اجازه راکوې، له ځان سره يې ډوډۍ خوړو ته بوځم.

درې واړه يو ځاى د حضرت ابوبکر (رض) کور ته ولاړل؛ هلته يې د طايف مميز (وشکې) ورته کېښوول، چې دا مميز په مکه کې د حضرت ابوذر (رض) لومړي خواړه ول.

بله ورځ د حضرت ابوذر(رض) زړه وغوښتل، خپل ايمان ښکاره کړي. د حضرت ابوذر (رض) ډنگر ټټر او وړوکي زړه، د ايمان د اور لمبه نه شوه پټولاى؛ څومره چې خلکو ځوراوه، هومره يې اراده پياوړې کېده، له جوماته روان شو او په لوړ غږ يې وويل: قريشو! قريشو!

خلك راټول شول، حضرت ابوذر (رض) په لوړ غږ وويل:
(( گواهې ورکوم چې "الله" يو دى، شريك نه لري او محمد(ص) يې استازى دى. ))

په خلکو کې شور زوږ شو؛ ورټول شول او ځانونه يې د ابوذر په وهلو ډبولو خوله او ستړي کړل او دومره يې وواهه، چې بېسده شو. دا ځل هم عباس راورسېد او خلك يې وشړل.

حضرت ابوذر (رض) له ډېره درده اخ اخ او وى وى کول؛ خو روح يې خوشحاله او ارام و، چې دې خوشحالۍ، د قريشو د وهلو ډبولو درد ترې هېر کړ او د خپلې يوازېنۍ هيلې (پيغمبر) لوري ته روان شو.

حضرت ابوذر(رض) آنحضرت (ص) ته کیسه وکړه، پیغمبر اکرم (ص) وویل: داسې سیمې ته روان یم، چې د کجورو ونې لري، ایا ته په خپل ټبر کې تبلیغ کولای شې؟ کېدای شي خبر ور ورسوې او سیده لار ته یې سیخ کړې.

حضرت ابوذر (رض): ولې نه! په دواړو سترګو.

حضرت ابوذر (رض) پر الله او د هغه پر رسول، له پیاوړي ایمان سره د غفار پر لوري روان شو؛ پر لار، خپلې ورکې راتلونکې ته سوچ وړی و، چې څه به پرې کیږي؛ هغه ستونزې او ځورونې چې په مکه کې پرې تېرې شوې او داچې د منطق او عقل دین یې منلی و، له الله خوښ دی او داچې د مورو پلار دین ورته پوچ او باطل څرګند شوی؛ نو اوس بشپړ ډاډمن او ازادي احساسوي.

له لرې غفار راڅرګند شو، هیلمن و، چې ژر تر ژره ور و رسي، چې مور او رور له خپل اسلام راوړو خبر کړي. غفار ته راورسېد، له اوښه راکوز شو، اوښ یې له واښکي نیولی، روان دی، چې انیس یې مخې ته ورغی.

چغه یې کړه: تسلیم شوم! او و مې مانه!

انیس: تسلیم شوې او و دې مانه؟ !

حضرت ابوذر(رض): هو انیسه! د هغه دین پر حق دی او زه تا د هماغه دین ته رابولم.

انیس ته یې ټولې هغه کیسې وکړې، چې په مکه کې تېرې شوې پرې وې.

انیس څو شیبې، سر ټیټ کړ او د پیغمبراکرم هغه خوږې خبرې یې
چې په مکه کې اورېدلي وې، رایادې شوې؛ زړه یې هوا وکړه او په
ډاډه زړه یې وویل: زه ستا له دین سره مخالف نه یم، زه هم تسلیم
شوم او و مې مانه! راځه مور مو هم خبره کړو.

حضرت ابوذر(رض) او انیس دواړه مور ته ورغلل. مور یې حضرت
ابوذر(رض) وپوښت: څه دې ولیدل؟

حضرت ابوذر(رض): یو سړی مې ولید، چې په ځوانی، خوی،
ځانگړنو، ناسته پاسته، خبرو، صبر او ښو چارو کې تر ټولو مخکښ
دی، هېڅکله چا بده خبره ترې نه ده اورېدلې او په یوه باطله جگړه
کې یې هم برخه نه ده اخستې؛ نو ځکه خلك "امین" بلل کېږي؛ خلك
نېکی ته رابلي او له بدیو یې ژغوري. ما گواهي ورکړه، چې "الله" یو
دی، شریك نه لري او محمد(ص) د خدای بنده او استازی دی؛ اسلام
مې راووړ؛ رور مې هم اسلام راووړ او مسلمان شو.

مور یې وویل: زه هم ستاسې له دین سره مخالفه نه یم. زه هم ایمان
راوړم او تسلیمېږم.

حضرت ابوذر(رض) د خپلې کورنی له مسلمانېدو ډېر خوښ شو؛ خو
ایا هغه به یوازې په دې کار قانع وي، چې د کور په گوټ کې په
عبادت بوخت وي او نور مسولیت و نه لري؟ نه هېڅکله! هغه به داسې
و نه کړي، باید ورشي او خپل ټبر د الله دین ته راوبولي.

حضرت ابوذر(رض) له کوره راووت؛ گوري، چې یوه ډله د ټبر له
مشر (خفاف بن ایما بن رفصه غفاري) راټوله ده او په خبرو بوخت
دي.

ډلې ته ورننوتې شو، سلام يې واچاوه او په ګوټ کې کېناست؛ خو نه د ټوکو ټکالو لپاره، چې وخاندي او سات تېر کړي؛ بلکې ددې لپاره، چې خپل تبر له بېوزلۍ، ناپوهۍ او بې اتفاقۍ وژغوري. هر يوه خپله کيسه کوله، چې د حضرت ابوذر(رض) وار راورسېد؛ نو خپله کيسه يې وکړه او شور زوږ شو؛ خو څه موده روسته د حق رڼا، د ناپوهۍ پر تورتم لاسبرې شوه، خلك ارام شول او حضرت ابوذر(رض) بيا خپلې خبرې پيل کړې:

«په مکه کې يو سړی پر پيغمبرۍ مبعوث شوی، چې خلك د دې ځمکې، اسمانونو او ځلانده ستورو د ښتن عبادت ته رابولي.»

له دوی يو تن د حضرت ابوذر(رض) په خبرو کې راټوپ کړ، و يې ويل: ايا ته لات، منات، عزی او نهم د ځمکو، اسمانو او ستوريو ښتن نه بولې؟

حضرت ابوذر(رض): هغه (پيغمبر) خلك ددې بې ساه او ډبرينو خدايانو له عبادته ازاد ګڼي او خلك مطلق ازادۍ ته رابولي.

دامهال يو بل سړي وويل: بې ساه او کلکې ډبرې؟ ! ته هم د هغه خبرې کوې؟

حضرت ابوذر(رض): هو! دا کلکې او بې ساه ډبرې دي، چې نه چا ته خير رسولای شي او نه شر تمبولای شي.

يو بل سړي حضرت ابوذر(رض) ته وويل: ته هم په دې خبرو باور لرې؟

حضرت ابوذر(رض): هغه (پيغمبر) تاسې د عقل دين ته رابولي؛ هغه دين، چې وجدان ارامووي او خلك برابرۍ او رورولۍ ته رابلي، د مريي

او مالك ترمنځ، بې له تقوا بل هېڅ توپير نه پېژني؛ هغه د الله او بنده ترمنځ لار پرانستې او هر ډول واسطې يې له منځه وړي، چې ستاسې په گومان خدای ته مو رسوي. هغه وايي: بندگان بې له کومې واسطې او شفيع خدای ته رسېدای شي؛ هغه وايي: ((خدای بندگانو ته نږدې دی، د خپلو بندگانو غوښتنې او شکايتونه اوري او څه چې په ضميرونو او زړونو کې پټ دي، خدای پرې خبر دی. )) حضرت محمد (ص) خلك د حق دين ته رابلي؛ نو څنگه يې زه و نه منم؟ !

يو سړي غږ وکړ: ابوذر بې لارې شوی دی.

حضرت ابوذر(رض): پر الله قسم، ابوذر نه دی بې لارې شوی؛ بلکې تاسې بې لارې ياست.

يو بل سړي غوسه وويل: ابوذر د هغه مرتد (العياذبالله) تر ليدو روسته مرتد شوی، د خپل موروپلار گروهې نامنلې بولي.

حضرت ابوذر(رض): لږ صبر وکړه! هسې تورپونه مه وهه، د محمد (ص) تر ليدو مخکې مې هم پر لات، منات، عزی او نهم گروهه نه درلوده؛ په خپله دې خبرې ته رسېدلی یم، چې دا يوازې ډبرې دي، چې نه چا ته خير رسولای شي او نه شر تمبولای شي.

دا چې خدايان يې سپك شول، شور او زوږ راپورته شو.

حضرت ابوذر(رض) په نرمه وويل: بايد په سړه سينه د دې خبرې څېړنه وکړو، دليل به يوازې په دليل ردوو، زما هيله يوازې ستاسې لارښوونه او نېکمرغي ده، اجازه راکړئ، ووايم، چې څنگه د بوتانو پر بېوسۍ پوه شوم.

یو سړي د خبرو په منځ کې راودانګل، و یې ویل: نه! دا کار ډېر وخت نیسي.
بیا شور شو، چې "خفاف" پاڅېد، و یې ویل: پرېږدئ، چې خپله خبره وکړي؛ حق د لمر په څېر په ګوته نه پټېږي، اخر تاسې هم عقل لرئ، څه بې عقله خو نه یاست، که خبرې یې په عقل سمې وي؛ نو و یې منئ که نه، مه یې منئ.
حضرت ابوذر (رض) خبرې پیل کړې، و یې ویل: یوه ورځ مې د نهم لپاره شیدې یوووړې، د شیدو کنډول مې په ډېره عاجزۍ او تواضع ورته کېښود، چې رانه راضي شي او غوسه یې سړه کړم، شیدې مې چې ورته کېښوولې؛ نو په راستنېدو کې مې هېښنده پېښه ولیده، چې کله مې هم نه وه لیدلې او هغه داچې یو سپی راغی او زما د خدای مخ ته ایښوول شوې شیدې یې وڅښلې او خدای هم بې ساه او ارام ناست و او شیده یې و نه ژغورل؛ خدای نه څه لیدل او نه څه اورېدل؛ لږ صبر مې وکړ، چې ووینم، چې نور به څه کېږي؛ بیا مې تر دې هم هېښنده او وحشتناکه پېښه ولیده او هغه داچې دې سپي یوازې د شیدو په څښلو قناعت و نه کړ؛ بلکې پښه یې جګه کړه او متیازې یې هم پرې وکړې. ایا دا د نهم ځواک، برم،ستریا، ځواکمني او وسمني ده؟
ټول خلك د مړیو په څېر غلي شول او سرونه یې ښکته کړل.
حضرت ابوذر (رض) وویل: اوس مو د دې خدایانو ځواک ولید.
یوه وویل: د هغه چا په اړه، چې خبرې یې کوې، څنګه پوه شوې، چې رښتیا وایي، که دروغ؟

حضرت ابوذر(رض): مخکې تردې چې رسول الله ووینم، ستا پوښتنه زما ذهن ته هم راغله، ورغلم او له نږدې مې ولید، چې په خبرو کې يې يوه هم دروغ نه وه.
يو بل وويل: چې پخپله راغی؛ نو د بلنې په اړه به يې هماغه وخت سوچ وکړو.
حضرت ابوذر(رض): هغه تاسې نېکۍ، تقوا، ښو اخلاقو او رورۍ ته رابولي. هغه وايي: ((پر يو بل ولورېږئ.)) هغه تاسې د وړو نجونو له ښخولو منع کوي، د يوې کوشنۍ او بې گناه نجلۍ گناه څه ده، چې خاورې ور دېرۍ شي، هغه ستاسې د نړۍ او اخرت خېر غواړي او د همدې لپاره راغلی دی.
حضرت ابوذر(رض) له بلنې او تبليغ لاس وانخست، چې د ټبر مشر يې مسلمان شو او ډېر خلك هم د مشر پر پله مسلمانان شول.
حضرت ابوذر(رض) غوښتل، يو دم د کفر ټغر راټول کړي او په تمه و، چې نور خلك به هم مسلمانان شي، و يې ويل: تاسې ولې د خدای له دين او پېغمبره سرغړوئ؟
دا ځل څوك نه غوسه شو او نه چا دروغجن وباله؛ اخر څنگه به يې دروغجن بللی وای، چې باطل، حق ته پر گونډو شو او حق خپل اصلي ځای ونيو.
دا ځل خلکو په سړه سينه ووېل: چې پېغمبر راغی؛ نو ايمان به پرې راوړو.

"خفاف بن ایما" له خپل ټبر سره پر لمانځه ولاړ و؛ لمونځ یې چې پای ته ورسېد، خلك خواره شول؛ حضرت ابوذر(رض) او خفاف ځان ته پاتې شول او یو له بل سره یې خبرې کولې.

حضرت ابوذر(رض) وویل: ډېره موده ده، چې له حضرت محمد (ص) او ملګرو یې خبر نه یو، ستا څه خیال دی، چې څه به پرې تېرېږي.

خفاف: پرون یو کاروان شام ته تله، چې راته یې وویل: پر حضرت محمد (ص)، چې هر چا ایمان راوړی، کفارو ډېر ځورولي او په زندان کې یې اچولي دي، چې له خپلو ګروهو یې پښېمانه کړي او ځیني ترې حبشې ته هم مهاجر شوي دي.

ـ: تردې روسته به څه شوي وي؟ په دې خبرو پسې خو مې سترګې سپینې شوې او زه وایم، چې چېرې کفار یې نور هم و نه ځوروي.

ـ: ایا کفار خیال کوي، مسلمانان به په وهلو ټکولو، له خپلو ګروهو لاس پر سر شي او بېرته به بوت نمانځنه پیل کړي؟

ـ: په زور کلي نه کېږي او په وهلو او ټکولو هم څوك ځای ته نه دي رسېدلي، هغوی د زړه له کومي ایمان راوړی او الله هغوی نه بې لارې کوي، چې لار یې موندلې وي.

-: له هر چم و چل یې کار واخست، د مسلمانانو په لارو کې یې خورا کندې و ایستې، ډېر زورونه یې ووهل؛ خو ماته یې وخوړه او اخر هم په خپله په هماغه کنده کې ولوېدل.

ـ: له دې ټولو ستونزو سره سره به دین پر مخ ځي.

خدای تعالی هیڅ کله هغوی نه خواروي، چې " لا اله الا الله" یې ویلي وي او پر نېکیو امر او له بدیو منع کوي.
ډېر ژر به خدای خپل دین وځلوي او په ټولو ځایونو کې به یې اوازه خپره شي.
دا مهال یو سړی را و رسېد او سلام یې واچاوه.
حضرت ابوذر (رض) وپوښت: له کوم ځایه راغلې؟
سړی: له مکې.
حضرت ابوذر (رض): حضرت محمد (ص) او ملګري یې څنګه ول؟
سړی: ډېرې سختې پرې تېرېږي او بله خبره داچې مسلمانان حبشې ته کډن شوي او هلته په ازادۍ او امنیت کې، د خپل پالونکي عبادت کوي، نه یې څوك تنګوي او نه بدې خبرې اوري. قریشو "عمرو بن العاص" له ډېرو ډالیو سره د «نجاشي پاچا» دربار ته واستوه او له هغه یې وغوښتل: هغوی چې له دینه سرغړولی، دوی ته وسپاري؛ خو چې نجاشي د "جعفر" او د هغه د ملګرو خبرې واورېدې؛ نو قریشو ته یې د مسلمانانو له سپارلو نټه (انکار) وکړ.
خفاف: له دې ښکاري، چې نجاشي ډېر ښه سړی دی.
سړی: د نجاشي ښه سړیتوب راته هله معلوم شو، چې خبر شوم له مهاجرو سره ډېر ښه سلوك او چلن کوي او ډېر پرې مهربان دی.
حضرت ابوذر (رض): قریشو څه وکړل؟
سړی: چې قریش د نجاشي پاچا له دې کاره خبر شول؛ نو دغه ماته ډېره ګرانه ورته پرېووته؛ نو ملا یې د پېغمبراکرم او د هغه د یارانو وژنې او ځورونې ته وتړله او تړون یې ولیکه، چې څوك به له "بني هاشمو"

سره راکړه ورکړه او ناسته پاسته نه کوي او دا تړون يې په "کعبه" کې راوځوړوه. بيا يې بني هاشم د "ابوطالب" په دره (شعب ابوطالب) کې کلابند کړل، چې د عبدالمطلب بن عبد مناف زامن هم ورسره يو ځای شول. ابولهب، قريش د بني هاشمو پر خلاف راوپارول، تردې چې د ښناک اوبه يې هم پرې بندې کړې او درې کاله په دره کې کلابند وو او يوازې په کال کې يوځل به د حج لپاره راوتل؛ ظلم او تېری يې تردې کچې رسېدلی و، چې د ماشومانو چغې به يې له لرې اورېدل کېدې؛ ځينې قريش د ماشومانو د چغو په اورېدو خوښېدل او ځينې خپه کېدل. پردغه مهال الله تعالی، رسول الله ته وحې وکړه:

مېږتون د تړون هغه کرښې خوړلې، چې ستاسې پر خلاف پکې ظلم او تېری ليکل شوی و او يوازې هغه کرښه پاتې ده، چې د الله نوم پکې ليکل شوې ده.

پيغمبراکرم دا خبره خپل تره ابوطالب ته وکړه.

ابوطالب هېښنده وويل: وراره! دا خبره رښتيا ده؟

پيغمبراکرم: هو! پر الله قسم، چې رښتيا ده.

ابوطالب دا خبره خپلو رونو ته وړاندې کړه.

رونو وويل: ستا څه خيال دی؟

ابوطالب: پر الله قسم، چې محمد(ص) هېڅکله دروغ نه وايي؛ ښکلې جامې به واغوندو او سر لوري به قريشو ته ورشو او مخکې تردې چې خبر شي، موږ به يې خبر کړو.

ټول جومات ته روان شول او و يې لېدل، چې په گوټ کې د قريشو مخور او مشران ناست دي. د قريشو مشرانو هغوی راوبلل او غوږ يې نيولی و، چې څه به وايي؟

ابوطالب: وراره مې خبر کړم (البته هغه هېڅکله ماته دروغ نه دي ويلي) چې د ترون هغه کرښې د الله تعالی په امر مېږو خوړلي، چې زموږ پر خلاف بنديز، پرېکون او ظلمونه پکې ليکل شوي ول او يوازې د الله نامه پکې پاتې ده. که هغه رښتيا وايي؛ نو له دښمنۍ او کينې لاس واخلئ او که دروغ يې ويلي وي؛ نو په خپلو لاسونو به يې در وسپارم، چې څه مو خوښه وي، هغه پرې وکړئ.

د قريشو مشرانو وويل: اوس دې د سړيتوب خبره وکړه.

بيا يې درې تنه ولېږل، چې ترون وگوري، چې څه پرې شوي دي.

حضرت ابوذر (رض): ښه! نو بيا څه وشول؟

سړی: داچې هغوی رسوا شوي ول، سرونه يې ښکته نيولي ول او هېڅ يې هم و نه ويل.

ابوطالب ورمخ کړ، و يې ويل: ((اوس خو خبره په ډاگه شوه؛ نو د څه لپاره مو کلابند کړي يو))

ابوطالب او ملگري يې د کعبې ترڅنگ ودرېدل، و يې ويل: ستر او پاك پالونکيه! موږ پر هغوی بريالي کړه، چې ظلم او تېری يې راباندې کړی!

ټول درې ته ولاړل او ځينو قريشو، چې له بني هاشمو سره ناوړه چلند کړی و، پښېمانه ول.

بنی هاشم درې کاله په دره کې ايسار او کلابند ول.

خفاف وويل: نورو قريشو څه وکړل؟
سړی: خپله ماته يې د زهرو د ګوټ په څېر تېره کړه او چوپ کېناستل.
خفاف: دا خبره مې ډېر هېښوي، چې ولې پيغمبراکرم د خپل ټبر له لوري کړېږي؟

## يثرب مسلمانېږي

د غفار ټبر ته د يثرب د مسلمانېدو خبر راورسېد او ټول خلك د "اوس" او "خزرج" د ټبرونو د ايمان راوړو له لامله ډېر خوشحاله دي او له خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېږي، ټول يو بل ته مباركي وايي او زېري وركوي؛ ځكه دواړه توريالي او جنگيالي ټبرونه دي او ستر نږۍ پالونكي خدای اراده کړې، چې په مسلمانېدو يې خپل دين ښكاره کړي او بېشكه، الله پر خپله ژمنه وفا وكړه.

انيس په خوشحالۍ حضرت ابوذر(رض) ته وويل: زېرى مې درباندې! په يثرب کې اسلامي غورځنگ ښكاره شوی او د "اوس" او "خزرج" ټبرونه مسلمانان شوي دي.

حضرت ابوذر(رض): ډېر ژر به پېغمبراكرم هلته ورشي.

انيس هېښنده وويل: بې له دې زېري دې كوم بل خبر اورېدلى دی؟!

حضرت ابوذر(رض): نه ياره! د يثرب د مسلمانېدو زېرى مې له تا واورېد.

انيس: نو چا وويل، چې رسول الله يثرب ته ځي؟

حضرت ابوذر(رض): هغه مهال مې چې پېغمبراكرم وليد؛ نو راته يې وويل: " زه به داسې سيمې ته ځم، چې د كجورو ونې به لري" او په اند مې چې بې له "يثرب" به كوم بل ځای نه وي.... رسول الله رښتيا ويلي ول...

انيس: ټبر به يې گنې پرېږدي چې يثرب ته ولاړ شي؟

حضرت ابوذر(رض): دا خو څه د هغوی خوښه نه ده؛ خو الله پوهېږي، چې څنګه او کله به ځي؟
حضرت ابوذر(رض) د تګ په تکل کې شو.
رور يې وويل: چېرې ځې؟
حضرت ابوذر(رض): د يثرب تکل مې کړی، چې ځان د رسول الله او د يثربيانو د مسلمانېدو پر احوال پوه کړم.
حضرت ابوذر(رض) پر اوښ سپور او د يثرب پر لوري روان شو، چې ورسېد؛ نو د "بني ذريق" جومات ته ننوت او د قرآن د خواږه تلاوت غږ يې واورېد. په جومات کې يې چې څوك ليده؛ نو د آنحضرت (ص) پوښتنه يې ترې کوله.
خلکو د "رافع بن مالك(رض) " پته ورکړه او روان شو، چې ور و رسېد؛ نو و يې ويل: السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!
_عليك السلام و رحمة الله و برکاته!
حضرت ابوذر(رض) کېناست، و يې ويل: زه ستا اسلامي رور ابوذر غفاري يم.
سړی: هر کله په خير راشې! ښه خو به يې؟ چوپړ ته مو چمتو يم.
حضرت ابوذر(رض): خبر شوی يم، چې ته مسلمان شوی يې او د اوس او خزرج ټبرونه هم مسلمان شوي دي. د حضرت محمد (ص) په اړه ووايه، چې څنګه دی؟
سړی: موږ پيغمبراکرم وليد او اسلام مو ومانه. په دې ښار کې به داسې کور نه وي، چې د آنحضرت (ص) پلويان به پکې نه وي.
حضرت ابوذر(رض): پيغمبراکرم دې چېرې وليد؟ ښه خو و انشاالله؟

سړی: زه او پینځه تنه نور د مکې په "منی" کې وو، چې رسول الله روان و، ودرېد، و یې ویل: «تاسې د یهودو هم ژمني یاست؟ »
و مو ویل: هو! بیا یې موږ اسلام ته راوبللو او قرآن یې راته ولوست او په اړه یې معلومات راکړل؛ موږ هم مسلمانان شو.
بیا آنحضرت (ص) وویل: ((تر هغه به زما لاروي کوئ، چې د خدای لاربنوونه راشي))
موږ وویل: یا رسول الله! موږ پر خدای او رسول یې ایمان راووړ او پر لار یې ټینګ ولاړ یو؛ خو اوس موږ یو له بل سره دښمني لرو، که ته له موږ سره راشې؛ نو کېدای شي ټول مسلمانان نشي، موږ ته اجازه راکړه، چې خپلو ټبرونو ته ورشو؛ کېدای شي، سوله وکړو؛ بل کال چې حج ته راغلو؛ نو سره به ووینو.
یو کال روسته، موږ لس تنه، د خزرج او یو تن د اوس له ټبره ورغلو او له آنحضرت (ص) سره مو وکتل او ژمنه مو وکړه، چې تر دې روسته به شرك، غلا او زنا نه کوو؛ خپل ماشومان به نه وژنو؛ یو بل به نه تورونوو او ګناه به نه کوو.
پېغمبراکرم وویل: " که په خپله ژمنه مو وفا وکړه؛ نو ځای مو جنت دی او که سرغړونه مو وکړه؛ نو بیا د خدای خوښه، چې ښښي مو که نه. "
بیا موږ مدینې ته راغلو او خدای تعالی اسلام خپور کړ او د اسلام پلویان ډېر شول.
حضرت ابوذر (رض): ایا بیا دې پېغمبراکرم لیدلی و؟

سړی: هو! چې د حج وخت راغی؛ نو (۵۰۰) تنه د خزرج له ټبره او (۷) تنه د اوس له ټبره حج ته ولاړو او له آنحضرت(ص) سره مو ولیدل؛ پیغمبراکرم راته وویل:

«چې شور زوږ خلاص شو؛ نو له منی راکوز شئ، د غره شاته ښي لاس ته یو غار دی، هلته راشئ. بیا یې حکم وکړ: څوك چې ویده وي؛ نو مه یې راویښوئ او څوك چې رارسېدلي نه وي؛ نو ورته مه درېږئ.»

رو رو، یو یو او دوه دوه روان شو. پیغمبراکرم له "عباس بن عبدالمطلب (رض) " سره و لاړ و، چې ټول راټول شول؛ نو عباس (رض) ډلې ته مخ کړ، و یې ویل: ((خلکو! محمد (ص) ډېر دروند او مشهور سړی دی، محمد(ص)د خپلې ګروهې د مخالف هم ملاتړ کوي؛ ځکه د ستر او ښه نسب څښتن دی؛ خو بې له تاسې، نورو ټولو عربو ورته شا کړې، که زور لرئ او په جګړه کې تکړه او جنګیالي یاست؛ نو دې خبرې ته مو پام وسه، چې په چارو کې یو له بل سره سلامشوره وکړئ؛ که نه نو عرب به مو ټول په یوه توره حلال کړي. بې له پوهې او معلوماتو یو کار هم مه کوئ، یو موټی او یو د بل ملاتړي وسئ، تر ټولو ښکلې او ښه خبره، رښتیا خبره ده.»

مغرور وویل: خبرې دې پر ګل بدلې! ستا ټولې خبرې مو د زړه په غوږونو واورېدې! پر الله قسم څه مو چې پر زړه دي، پر خوله مو هم دي؛ که بې له دې بله خبره وي؛ نو درته به مو ویلي وای؛ زموږ د زړونو پر ګرمو نغرو د وفا او دوستۍ کټوۍ باندې دي او بل څه په پام

کې نه لرو او هیله مو داده، چې د خدای او رسول په لار کې خپلې وینې تویې کړو.
بیا پیغمبراکرم په خپل خواږه غږ قرآن ولوست او موږ یې د خدای لوري ته راوبللو.
حضرت براء بن مغرور(رض) د پیغمبراکرم بلنه ومنله او اسلام یې راووړ، و یې ویل: یا رسول الله! له تا سره بیعت کوو؛ مېړني، جنګیالي او توریالي یو او دا ځانګړنې له نیکونو راپاتې دي.
حضرت ابولهثیم(رض) وویل: اسلام منو او ایمان پرې راووړو، که څه، د پلار نیکونو ګروهې مو دړې وړې شي.
له هر لوري غږونه شول او د رسول الله بلنې ته یې هرکلی وایه؛ شور زوږ شو.
حضرت عباس(رض) غږ کړ: چوپ شئ! غلي شئ! شاوخوا ډېر څري دي، موږ له دې وېرېږو، چې زموږ ټبر له دې بیعته خبر شي او له تاسې سره دښمن شي. ټول مه ګړېږئ او خبرې مه کوئ! خپل سپین ږیري او مشران راولېږئ، چې له موږ سره خبرې وکړي او زموږ پیغام در و رسوي او چا چې بیعت وکړ، خپل ځای ته دې ستون شي.
تردې روسته عباس(رض) ، پیغمبراکرم ته وویل: یا رسول الله! لاس راوړاندې کړه! دا مهال موږ ټولو د پیغمبراکرم لاس ونیو او بیعت مو وکړ.
حضرت ابوذر(رض): دا مهال رسول الله څنګه و؟

رافع (رض): ډېر خوشحاله و؛ څېره يې له خوښۍ د څوارلسمې سپوږمۍ په څېر ځلېده؛ ځکه خدای د حضرت محمد (ص) لښکر په ډېرو ننگياليو، توريالیو او جنگيالو سمبال کړ.

حضرت ابوذر (رض): د قريشو کينې او دښمنۍ له پيغمبراکرم سره لږې شوې وې، که نه؟

رافع (رض): نه ابوذره! خبر شوی يم، چې له موږ سره تر کتنې روسته، مشرکينو پر پيغمبراکرم ډېر دباو او زور اچولی او خورا يې ځوروي.

حضرت ابوذر (رض): ددې کړاوونو او ځورونو پايله به دا وي، چې مسلمانان مکه پرېږدي او يثرب ته مهاجر شي.

رافع (رض): ايا پيغمبراکرم به هم ورسره راځي؟

حضرت ابوذر (رض): هو! دا کار ډېر ژر کېدونی دی.

د يثرب ښار او خلك څومره نېمکرغه دي، چې رسول الله ورځي!

## غفار غفرالله لها

د غفار ټبر ته د پېغمبراکرم د راتگ خبر را و رسېد، چې له خپل یار حضرت ابوبکر(رض) سره دوی ته راځي. د غفار ټبر د خوشحالۍ جامې اغوستې وې؛ له دې خوشحالۍ په جامو کې نه ځايېدل او ټول د رسول الله راتگ ته سترگې پر لار ول.

حضرت ابوذر(رض) هم انگېرله، چې د "بېلتون" تورتم پای ته ورسېد او د "وصال" لمر راختلی دی. ټول خلك پر حضرت ابوذر(رض) راټول شوي او په تمه ول، چې ژر تر ژره، پېغمبراکرم را و رسي، چې ويې ويني.

حضرت ابوذر(رض) هم لارې ته کتل، چې کله به يې محبوب رارسي. خلك هم تلولي(بې صبره) په تمه ول او هره شېبه يې حضرت ابوذر(رض) پوښته: پېغمبر اکرم (ص) څنگه دی؟ څنگه څېره لري؟

حضرت ابوذر(رض) حال دا، سترگې يې لارې او غوږونه يې خلکو ته نيولي ول، د خلکو پوښتنې يې ځوابولې او د خپل پېغمبراکرم په ستاېنو نه مړېده؛ ويل يې: اوس به د نړۍ تر ټولو غوره انسان ووينئ! پر خلکو او حضرت ابوذر(رض) هره شېبه لکه کال تېرېده. حضرت ابوذر (رض) هم د زېري لپاره ولاړ و، چې پر خلکو د پېغمبراکرم د راتگ زېری وکړي؛ خو داچې پېغمبراکرم ناوخته کړ، ډېر اندېښمن و؛ ناڅاپه د حضرت ابوذر(رض) سترگې پر يوه اوښ ولگېدې، چې له خوشحالۍ په ټوپونو شو؛ چغه يې کړه: پر الله قسم، چې پېغمبراکرم دی!

خلکو په خوشحالۍ وویل: پېغمبراکرم راغی.
حضرت ابوذر(رض) د پېغمبراکرم مخې ته ورمنډه کړه او سلام یې واچاوه.
پېغمبراکرم وویل: ته "ابونمله" یې؟
حضرت ابوذر (رض) نه! زه ابوذر یم.
حضرت ابوذر(رض) د اوښ پړی ونیو او خلك پر پېغمبراکرم راټول شول او په خوشحالۍ یې چغې وهلې: الله اکبر! الله اکبر!
ښځو، نرانو او ماشومانو په خوشحالۍ او مینه ویل: دا رسول الله دی، چې راغی.
رسول الله له اوښه راکوز شو او مسلمانانو سلام وکړ.
رسول الله هم سلام وکړ. پېغمبراکرم کېناست او حضرت ابوبکر(رض) په ولاړه، خلکو ته وینا پیل کړه. بیا پېغمبر اکرم (ص) قرآن ولوست او خلك یې اسلام ته راوبلل. ټول د بیعت لپاره رامات شول؛ حضرت ابوذر(رض) د پېغمبراکرم ترڅنګ ولاړ و او د دې پېښې په لیدو یې من من غوښه اخسته.
خلك پېغمبراکرم ته ګوته په خوله ول، چې څومره نېکخویه انسان دی.
خفاف بن رفضه غفاري له رسول الله څخه وغوښتل، چې ټبر ته یې یو لیک ولیکي. پېغمبراکرم هم ورته ترون ولیکه:
«د غفار مسلمان ټبر په غم ښادۍ، ستونزه او هوساینه کې له نورو مسلمانانو سره شریك دی. د هغوی ځان و مال به الله او استازی یې ساتي، که چا پرې تېری کاوه؛ نو مرسته به ورسره وشي او چې

پېغمبراکرم امر ورکاوه؛ نو لاس پر سینه به دربېږي. پر هغوی د پېغمبراکرم مرسته فرض ده. که چا پر دې تړون عمل و نه کړ؛ نو گناه به یې کړې وي.»

د غفار ټول ټبر مسلمان شو او حضرت ابوذر(رض) هم له دې چې ټبر یې د خدای دین منلی، ډېر خوشحاله و. لاسونه یې اسمان ته پورته کړل، و یې ویل:

((الْحَمْدُ لِلّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَـذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلا أَنْ هَدَانَا اللّهُ[۲]))

بیا رسول الله حضرت ابوذر(رض) ته په خوښۍ مخ کړ، و یې ویل: غفار غفرالله لها.

---

[۲] (اعراف - ٤٣)- ستاینه یوازې الله ته ده، چې موږ ته یې (دې) مقام ته (په ایمان د رسېدو) سمه لار وښوده او که خدای موږ ته سمه لار نه وای راښوولې؛ نو دا (مقام) زموږ په برخه کېدای نه شو

# يثرب ته روانېدل

څه وخت تېر شو، مازيگر له خپلي لوړې دنگې تنې سره جومات ته ورننوت، تر لمانځه روسته (حال دا، زړه يې د غم په لمبو کې سوځېده) د جومات په گوټ کې د يوه سړي خوا ته (چې په خوږ او په زړه پوري غږ يې قرآن لوسته) کېناست او غوږ يې ورته ونيو او سر يې په گرېوانه کې کښته کړ:

((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ- تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ-يَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ[٣]))

حضرت ابوذر (رض) آيتونو ته غوږ نيولی و او روح يې د جنت لوري ته په الوتو کې و او دې خبرې ته په سو چ و، چې ولې يثرب ته نشي تلای؟ چې د خدای او پيغمبر اکرم (ص) په لار کې وجنگيږي. د

[٣] (الصف ١٠-١٢)- مؤمنانو! ايا تاسې ته داسې يوه راکړه ورکړه دروښيم، چې له دردناك عذابه مو وژغوري؟ ! - پر خدای او استازي يې ايمان راووړئ او د خدای په لار کې په خپلو مالونو او ځانو جهاد وکړئ، که پوهېږئ دا (سرښندنه) درته (تر هر څه) غوره ده- (که داسې مو وکړل)؛ نو ستاسې گناهونه به وبښي او(جنتي) بڼونو ته به مو ننباسي، چې تر ونو لاندې يې ويالې بهېږي او په همېشنيو بڼونو کې به ډېر غوره هستوگنځي درکړي، دا ستره بريا ده. )

"بدر"، "احد" او "خندق" غزاوې تېرې شوې او حضرت ابوذر (رض) له دې ثوابه بې برخې شو. هو! رسول الله او یاران یې د جګړې په میدانو کې له ځانو تېر ول، نور به د رسول الله ملاتړ او مرستندوی وي او حضرت ابوذر(رض) به آرام پروت وي؟ پیغمبراکرم به په خپلو لاسونو خندق کني او ابوذر به په بستره کې خوبونه کوي! مسلمانان به له ستونزو، کړاوونو او خونړیو ستونزو سره مخ وي او د حضرت ابوذر(رض) زړه به یوازې په دې خوشحاله وي، چې لمونځونه کوي او مسلمان دی. د څه لپاره په غفار کې پاتې دی؟ چا او څه د پیغمبراکرم او یارانو یې بېل کړی؟ نه! نور بس دی. باید ولاړ شم او له دښمن سره وجنګېږم. یا به غازي او سرلوړی راستون شم او یا به شهید شم. حضرت ابوذر(رض) هوډ وکړ، چې ولاړ شي. پاڅېد او کور ته ولاړ او غوږ یې انیس ته وویل: زه سبا یثرب ته ځم.

انیس: د څومره وخت لپاره.

حضرت ابوذر(رض): بېرته نه راځم.

انیس: بېرته نه راځې؟! هلته به څه کوئ؟

حضرت ابوذر(رض): د خدای له رسول سره یوځای کېږم او هېڅکله به ترې بېل نه شم.

انیس: له چا کره به وسې؟

حضرت ابوذر(رض): د پیغمبراکرم له اصحابو سره، چې بې له جوماته بل کور نه لري.

انیس: ته مسلمان يې او د خدای دین دې منلی، دا بس دی؛ په خپل ټبر کې پاتې شه. گوره خپل ژوند مه پرېږده؛ کورنۍ دې درته ډېره اړه ده او هغوی د لومړیتوب حق لري.

حضرت ابوذر(رض): د پیغمبراکرم ځان و مال ټولو مسلمانانو ته لومړیتوب لري. رسول الله د بدر جگړې ته ولاړ او زه دلته وم. د احد جگړه راغله او د رسول الله یاران شهیدان شول؛ د خندق جگړه تېره شوه او زه پکې نه وم؛ بس دی انیسه! نور مې مه ایساروه؛ که نه نو زړه مې پړک چوي؛ کب کله بې اوبو ژوند کولای شي. بس دی، چې دومره ویاړونه مې له لاسه ووتل.

انیس: ښه نو چې دا خبره ده؛ په کور کې کېنه او چې پیغمبراکرم درباندې غږ وکړ، ورشه.

حضرت ابوذر(رض): نه انیسه! پر الله قسم که خدای انسان ته په سینه کې دوه زړونه ورکړي وای؛ نو دا کار به مې کړی وای. نوره دې نړۍ ته هېڅ تمه نه لرم، زه له دې نړۍ څه غواړم؛ پر الله قسم، زه به هرومرو یثرب ته ځم او خدای به راته سیده او سمه لار ښیي.

حضرت ابوذر(رض) موزې پر پښو کړې او روان شو؛ خو له ځان سره يې د سفر لپاره څه وانخستل.

انیس: د سفر لپاره توکي نه وړې؟

ابوذر: په دې لار کې ډوډۍ مې بس ده.

حضرت ابوذر(رض) یثرب ته ورسېد او له حضرت محمد (ص) سره یو ځای شو؛ د هغه د علم له چینې يې ځان خړوباوه او د هغه کړه وړه

يې خپله تګلار کړه او د هغه د ښو خویونو، نارینتوب او مېړنتوب
خبرې یې په هر ځای کې کولې.

## حضرت ابوذر (رض) ؛
## "چوتره مېشت" صحابي و

حضرت ابوذر(رض) به شپه و ورځ د پېغمبراکرم په جومات کې پروت و، الله ته يې زارۍ او عبادتونه کول. د نورو په څېر يې ځان د دې نړۍ په نعمتونو نه و بوخت کړی او له نورو اصحابو سره يې (چې کور او ژوند يې نه درلود) د جومات پر صفه (چوتره) ژوند کاوه؛ دوی د رسول الله سرښنده یاران ول او چې رسول الله به پرې غږ وکړ؛ نو تر ټولو مخکې به په لومړۍ لیکه کې ولاړ ول. پېغمبراکرم به دوی د شپې پر خپلو اصحابو ویشل او یو شمېر یې له ځان سره بوتلل، چې حضرت ابوذر (رض) به هم و.

الله د حضرت ابوذر (رض) مل و او ستره نېکمرغي او ثواب يې ور په برخه کړی و، د زړه زنګونه يې لرې شوي ول؛ خدای ورته ربښتينه ژبه، لويه سينه، رڼې سترګې او حق اورېدونکي غوږونه ورکړي ول؛ د حضرت محمد (ص) خبرې يې د زړه په غوږونو اورېدې او خلکو ته يې کولې. په غزا کې يې توره وهله او د سولې پر ورځ به يې له رسول الله علم او دين زده کاوه، تردې چې دومره علم يې زده کړ، چې د اسلام له لويو محدثينو او راويانو وګڼل شو. په تقوا او نېکچارۍ دومره مشهور شو، چې رسول الله به يې د تقوا ستاينې کولې.

یوه ورځ حضرت عمر(رض) جومات ته راننوت، چې حضرت ابوذر(رض) له ځانه یو تور څادر راتاو کړی، په گوټ کې گوښې ناست و. حضرت ابوذر(رض) ته یې وویل: ولې ځان ته ناست یې؟

حضرت ابوذر(رض): کېنه... له بدانو سره تر ناستې پاستې، یوازېتوب ښه دی او له یوازېتوبه، له نېکانو سره ناسته پاسته ښه ده.

حضرت ابوذر او حضرت عمر(رضی الله عنهما) دواړه پر خبرو بوخت شول. ډلې ډلې مسلمانان د ماښام لمانځه ته راننوتل. حضرت بلال(رض) اذان وکړ او رسول الله هم له کوره راووت. تر لمانځه روسته، مسلمانان پر رسول الله راټول شول او خبرو ته یې غوږ نیولی و. حضرت ابوذر(رض) هم د رسول الله خبرو ته په مینه او اخلاص غوږ و؛ د ماسخوتن تر لمانځه روسته، خلك خپلو کورونو ته روان شول او جومات تش شو، یوازې هغه "اصحاب صفه" پاتې شول، چې په جومات کې ویدېدل. رسول الله هم کور ته روان شو او اصحاب ویده شول. نیمه شپه تېره شوې وه، چې رسول الله له کوره راووت او جومات ته راغی او حضرت ابوهریره(رض) ته یې وویل: ملگرو ته دې غږ کړه، چې راشي.

حضرت ابوهریره(رض) په بېل بېل پسې ولاړ او هر یو یې راپاڅاوه. حضرت ابوذر(رض) یې هم راپاڅاوه او ټول له پېغمبراکرم سره کېناستل. دا ټول اصحاب ۳۰ تنه ول. رسول الله له ځان سره راوړې ډوډۍ مخې ته ورته کېښووله، و یې ویل: د خدای په نامه یې په خوړو پیل کړئ. قسم پر هغه الله چې محمد یې پېدا کړی، چې د محمد کورنۍ هم همدغه ډوډۍ خوړلې ده.

تر خوړو روسته ولاړل، چې ویده شي؛ ټول ویده شول او په جومات کې چوپه چوپتیا شوه. د حضرت ابوذر(رض) هم سترګې ورغلې وې، چې د جامو ښکالو او کښهار یې واورېد؛ سترګې یې پرانستې، و یې لیدل، چې پېغمبراکرم له کوره جومات ته را روان دی، بې له دې چې له ځایه وخوځي، پېغمبراکرم ته ځیر شو، چې جومات ته ولاړ او پر لمانځه ودرېد. حضرت ابوذر(رض) هماغسې ځیر و او غوږ یې نیولی و، چې رسول الله په زارۍ د [إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ[٤]] آیت وایه.

حضرت ابوذر (رض) هماغسې په خاورو کې پروت و او لیدل یې چې پېغمبراکرم رکوع ته ځي او بیا سجده کوي او هماغه آیت پکې وایي.

آنحضرت(ص) تر سهاره عبادت وکړ. حضرت ابوذر(رض) هم غلی د پېغمبراکرم په خوا کې ودرېد، چې ځان په خواله پوه کړي.

و یې ویل: یا رسول الله! دا آیت دې تر سهاره وایه، دا ولې؟

رسول الله وویل: له خدای نه مې شفاعت وغوښت او را یې کړ، چاچې شرك و نه کړ، خدای شفاعت ورکوي.

---

[٤]. (مائده/١١٨)- (اوس) که ته هغوی ته سزا ورکړې؛ نو ستا بندګان دي (او ستا له سزا د تښتېدو وس نه لري) او که یې وبښې؛ نو په رښتیا، یوازې ته بریمن (او) د حکمت څښتن یې. (نه ستا سزا د بې حکمتۍ نښه ده او نه یې ښښنه د کمزورۍ.

## وصیت

ابوذر غفاري:
کور مو په یوه بل ځای کې دی، چې له مخکې مو ښکلې کوروزلې ورلېږلي دي.

وخت تېرېده او حضرت ابوذر(رض) تر خندق روسته، له رسول الله سره په ټولو غزاوو کې برخه واخسته؛ په هره غزا کې یې په مړانه د ننګیالي په توګه توره وهله او غازي راستنېده. د "بني لحیان" او "ذي قرد" په غزا کې یې هم له رسول الله سره برخه واخسته. د هجرت پر شپږم کال، چې رسول الله د "بني المصطلق"جګړې ته روان شو؛ نو حضرت ابوذر(رض) یې په مدینه کې خپل ځایناستی وټاکه او راښیي، چې حضرت ابوذر(رض) متقي او د رسول الله باوري کس و.
حضرت ابوذر(رض) پر رسول الله ډېر ګران و او د رسول الله په نزد یې ځانګړی مقام درلود، چې حضرت ابوذر(رض) به حاضر و؛ نو رسول الله خبرې ورسره کولې، چې به نه و؛ نو رسول الله به ویل: ابوذر چېرې دی؟
ابوذر(رض) یوه ورځ رسول الله ته ورغی، آنحضرت(ص) ویده و او سپین څادر یې پر ځان خپور کړی و، ابوذر(رض) ورغی او رسول الله یې راویښ کړ. د رسول الله سترګې، چې پر حضرت ابوذر(رض)

ولګېدې؛ نو و یې ویل: څوك چې "لا اله الا الله " ووایي او پر همدې حال ومري؛ نو جنت ته به ځي.
ابوذر(رض): که زنا او غلا یې هم کړې وي؟
رسول الله: هو! که زاني او غل هم وي.
ابوذر(رض) بیا وپوښتل: که زاني او غل هم وي؟
پیغمبر اکرم (ص)په ټینګار وویل: که زنا او غلا یې هم کړې وي.
ابوذر(رض) بیا هېښنده او په انکار وویل: که غل او زاني هم وي؟
رسول الله: هو ابوذره! که زنا او غلا یې هم کړې وي.
ابوذر(رض) په سوچ کې ډوب و، چې دوه تنه جومات ته راننوتل.
رسول الله حضرت ابوذر ته وویل: هغوی وګوره.
ابوذر(رض) سر راپورته کړ، چې یو سړي نوې او ځلبل جامې اغوستې وې.
رسول الله بیا حضرت ابوذر ته وویل: هغه بل وګوره.
ابوذر (رض) سر راپورته کړ او و یې لیدل، یو سړی دی، چې شلېدلې او رېمنې جامې یې اغوستې دي.
رسول الله وویل: دا سړی خدای ته تر هغه بل ډېر ګران دی.
ابوذر(رض) همداسې په جومات کې ژوند کاوه، تر څو چې یې "ام ذر(رض) " نکاح کړه او واده یې ورسره وکړ. ام ذر(رض) د پیغمبر (ص) له هغو محترمو صحابیه وو ځنې وه، چې د اسلام لپاره یې د خپل مېړه هومره سختۍ تېرې کړې دي.
حضرت ابوذر(رض) تر واده روسته، له "چوتره مېشتو" سره ژوند پرېښود او له مدینې یې بهر، پر یوې غونډۍ کېږدۍ ووهله.

او تردې روسته نو د حضرت ابوذر(رض) د ژوند د کتاب بله پاڼه اوړي.

د حضرت ابوذر(رض) روح دومره ستر و، چې د ښار په تنګ چاپېريال کې نه ځايېده؛ بلکې د بېديا په څېر ستر او چوپ و؛ ډېر به د خپلې کېږدۍ ترڅنګ پر غونډۍ ناست و او په سوچ به بوخت و، د لمر ويرجنو پرېووتو او ښکليو او خوشالونکيو راختو ته ځير و؛ ښه او پتمن دوستان يې اندنې او يوازېتوب و. کله به يې پر خپل تېر ژوند سوچ کاوه او هغه پېښې يې رايادولې، چې پرې په غفار او مدينه کې تېرې شوې وې او کله يې د نوي غورځنګ په اړه سوچ کاوه؛ هغه غورځنګ، چې بېوزلي او وحشت له منځه وړي او ورځ پر ورځ يې جرړې او ښاخونه خورېږي. د بېديا له چوپې چوپتيا ورته د مريينې د زنځيرونو د ماتېدو غږونه راتلل، ورته يې ويل:

خلك د "ايران" او "روم" له مرييتوبه خلاص شوي او په پوره ازادۍ ژوند کوي. د صحرا هر نسيم ورته زېری و؛ مسلمانانو روښو زېری مې دربانديې! يووالي مو د ايران او روم د پاچايانو پوزه پر ځمکه مږلې ده. زېری مې دربانديې! مکه هم مسلمانانو سوبه کړه، لنډه داچې اوس د اسلام د لمر وړانګو ټوله ټاپووزمې نيولې ده.

د حضرت محمد(ص) په هوښيارۍ او تدبير، د بېوزلۍ، پرېشانۍ، بې اتفاقۍ، بغض او کينې جرړې، له عربستانه راوپوښتېدې او په خپلو لاسونو يې د برابرۍ او رورولۍ نيالګی کېښود.

حضرت ابوذر(رض) ليدل، چې د اسلام په راتلو مريان، بېوزلي، مستضعفان، غريب او روسته پاتې ټبرونه، خپل ژوند ته هيلمن او هر

یو د ژوند و کور څښتنان شوي او د سوچ او هېښیتا خبره خو دا ده، چې په خپله حضرت ابوذر (رض) د اسلام او غورځنگ له هغو مشرانو ځني دی، چې خلکو ته یې کور، ژوند او برابري ور پر برخه کړی او په خپله یې یوازې له ښاره بهر د غونډۍ پر سر کېږدۍ وهلې ده.
یوه ورځ یې دوست ورغی، شاوخوا ته یې وکتل؛ خو هېڅ یې و نه لیدل. ابوذر (رض) ته یې مخ کړ، و یې ویل: ابوذره! د کور توکي دې چېرې ایښی دی؟
ابوذر (رض): موږ یو بل کور لرو، چې توکي هلته ورلېږو.
د ابوذر دوست: ځو چې دلته یې؛ نو څه سامان خو باید ولرې.
ابوذر (رض): موږ د دې کور څښتن، دلته ډېر پاتېدو ته نه پرېږدي.
حضرت ابوذر (رض) خپل مېلمه ته وکتل، و یې ویل: " پر الله قسم! پر څه چې زه پوهېږم، که تاسې خبر وای؛ نو کله به مو له خپلو ښځو سره کوروالی نه وای کړی او پر خپلو فرشونو به نه کېناستئ. پر الله قسم! ډېر به خوشحاله وم، چې د ونې په څېر پنځول شوی وای، چې خلکو ترې مېوه خوړلای او په پای کې یې غوځولای او له منځه تله".
د حضرت ابوذر دوست: دا کار ستا د دنیوي ژوند مخه نیسي.
ابوذر (رض): رسول الله راته وویل: ((هغو ته هېښ یم، چې د اخرت پر ابدي ژوند ایمان لري او ځان په دې نړۍ تېر باسي)).
تر خبرو اترو روسته، د ابوذر مېلمه ولاړ. حضرت ابوذر (رض) هم جومات ته روان شو؛ جومات ته چې ننوت، گوري، چې رسول الله گوښې ناست دی، ورغی او ترڅنگ یې کېناست.

پیغمبراکرم، حضرت ابوذر(رض) ته وویل: هر څه یو ځانګړی درناوی لري او د جومات درناوی دادی، چې لمونځ پکې وشي، پاڅه او لمونځ وکړه!

ابوذر(رض) پر لمانځه ودرېد او تر لمانځه روسته راغی او کېناست.

حضرت ابوذر(رض) له ځان سره وویل: له وخته باید پوره ګټنه وشي؛ نو رسول الله ته یې وویل: یا رسول الله! مورږ ته وایې لمونځ وکړه؛ خو لمونځ څه دی؟

پیغمبراکرم: لمونځ غوره قانون دی، که ډېر وشي که لږ.

ابوذر(رض): یا رسول الله! تر ټولو سپېڅلې کړنې، کومې دي؟

پیغمبراکرم: پر الله ایمان درلودل او په لار کې یې جهاد.

ابوذر(رض): د کوم مؤمن ایمان بشپړ دی؟

رسول الله: د ښو خویونو د څښتن.

ابوذر(رض): له مؤمنانو کوم یو ښه مسلمان دی؟

پیغمبراکرم: هغه چې خلك یې د لاس او ژبې له تاوانه خوندي وي.

ابوذر(رض): یا رسول الله! کوم لمونځ سپېڅلی دی؟

رسول الله: هغه چې قنوت یې اوږد وي.

ابوذر(رض): کوم هجرت خورا غوره دی؟

رسول الله: له ګناهونو.

ابوذر(رض): یا رسول الله! روژه څه ده؟

پیغمبراکرم: یوه دنده ده، چې د خدای په نزد ډېره ستره ده او څو ګرایه اجر لري.

ابوذر(رض): یا رسول الله! غوره جهاد کوم یو دی؟

پېغمبراکرم: د خدای په لار کې جهاد.
يا رسول الله! کومه ښښنه تر ټولو غوره ده؟
پېغمبراکرم: د هغه نشتمن ښښنه، چې په خپل زيار او لاسونو يې وګټي او له بېوزليو سره مرسته وکړي.
ابوذر(رض): د کوم مريي ازادول تر ټولو غوره دي.
پېغمبراکرم: هغه چې پر مالك ډېر ګران وي.
ابوذر(رض): پر تا په نازل شويو آيتونو کې کوم يو لوی دی؟
پېغمبراکرم: آية الکرسي... ابوذره! اووه واړه اسمانونه، د آية الکرسي په پرتله داسې دي؛ لکه څاڅکی په سمندر کې.
ابوذر(رض): خدای څو کتابونه رالېږلي دي.
پېغمبراکرم: يو سل او څلور کتابونه پر "شيث"، پنځوس صحيفې پر "اخنوع"، دېرش صحيفې پر "ابراهيم" او تر تورات مخکې پر "موسی" (ع) هم لس صحيفې نازلې شوې وروسته "تورات"، "انجيل"، "زبور" او "قرآن" نازل شوي دي.
ابوذر(رض): يا رسول الله! د ابراهيم په صحيفو کې څه ول؟
پېغمبراکرم: ټول حکمتونه او نصحيتونه ول؛ لکه: مغروره پاچا او د خلکو پر اوږو سپوره! ما ته ددې لپاره لېږلی وې، چې د مظلوم حق له ظالمه واخلې. هوښيار سړی يو ساعت د خدای عبادت کوي، يو ساعت په ګرېوان کې ګوري، سوچ کوي او خپل خدای ته حساب ورکوي. له درېيو چارو پرته، په بل څه پسې هڅې مه کوئ: د ژوند لپاره هڅه، له نړۍ په حلاله د خوند اخستو هڅې او د آخرت لپاره

هڅه. هوښيار بنده بايد خپل وخت وپېژني، د خولې برغولی ولري، د عمل ښتن وي او يوازې د اړتيا پرمهال وګړېږي.
ابوذر (رض): يا رسول الله! د موسی په صحيفو کې څه ول؟
پېغمبراکرم: ټول عبرتونه ول؛ لکه: هغه چا ته هېښ يم، چې پر مرګ ايمان لري او بې ځايه خوشحالي کوي او هغه ته هېښ يم، چې پر اور ايمان لري او بېځايه خاندي او هغه ته هېښ يم، چې پر برخليك ايمان لري او بيا هم خپه وي. هغه ته هېښ يم، چې نړۍ ته ګوري او پرې غولېږي او ورباندې ډاډه وي. هغه چا ته هېښ يم، چې د اخرت پر حساب و کتاب ايمان لري او عمل پرې نه کوي.
ابوذر (رض): يا رسول الله! ما ته وصيت وکړه.
پېغمبراکرم: د تقوا وصيت درته کوم، چې تر ټولو اوچت مقام دی.
ابوذر (رض): يا رسول الله! علم رازده کړه.
پېغمبراکرم: قرآن لوله، په نړۍ او آخرت کې به خوشحاله يې، ډېر مه خانده؛ ځکه د مخ رڼا کموي او زړه وژني. خوله دې يوازې د ښو او نېکو چارو لپاره سپړه؛ ځکه چوپتيا شيطان شړي او په دين کې ملګرتيا کوي. له نشتمنو او بېوزليو سره پر ناسته پاسته مه شرمېږه او څوك چې ستا تر لاس لاندې کار کوي، مهربان پرې وسه. انسان بايد د خدای پر ورکړه شکر وباسي. له خپلوانو سره مړی ژوندی کوه؛ که څه، هغوی تګ راتګ درسره پرېښی وي. د خدای په لار کې له هېچا مه وېرېږه. حق تريخ دی؛ خو ته همېشه د حق خبره کوه. ځان ته وګوره، کوم عيب، چې درکې وي، په اړه يې خلکو ته نصيحتونه مه کوه. کوم کار،

چې کوې او خلك يې هم کوي؛ نو څوك پرې مه ږده؛ څکه همدومره عيب دې بس دی، چې خپل عيب نه وينې او د نورو وينې.
بيا رسول الله خپل لاس د ابوذر(رض) پر سينه کېښود، و يې ويل: ابوذره! تدبير ښه عقل، ځان ساتنه ښه زهد او ښه عمل نېك خوی دی.

## حضرت ابوذر (رض)
## د مکې په سوبه کې له خپل محبوب سره و

((وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا[5]))

آنحضرت (ص) په جومات کې له یوې ډلې سره غلی په سوچ کې ناست و، ټولو خیال کاوه، پر رسول الله وحې نازله شوې؛ نوځکه یې پر خپل حال پرېښود. وخت همداسې تېرېده او ټول غلي ناست ول، په جومات کې د ناستو مغزو ته ډول ډول سوچونه راتلل، چې څه شوي. داسې غلي ناست ول؛ لکه د هر یوه پر سر چې مرغۍ ناسته وي او که وخوځي؛ نو وا به لوځي، د ابوذر (رض) پر راتګ چوپتیا ماته شوه؛ ابوذر (رض) په ستونزه، ځان له خلکو راواېست او ځان یې رسول الله ته ورساوه او ترڅنګ کېناست.

پېغمبراکرم ابوذر (رض) ته وکتل و یې ویل: لمونځ دې کړی؟

ابوذر (رض): نه.

پېغمبراکرم: پاڅه لمونځ وکړه.

ابوذر (رض) پاڅېد او د ماسپښین څلور رکعته لمونځ یې وکړ.

پېغمبراکرم ابوذر (رض) ته وویل: ابوذره! له خدایه او د انس او جن له دښمنانو پناه غواړه.

ابوذر (رض): یا رسول الله! بشر هم دښمنان لري؟ !

---

[5] (اسرا – ۸۱)- (او ووایه: ((حق راغی او باطل له منځه ولاړ (ځکه) چې باطل له منځه تلونی دی.))

پیغمبراکرم: هو! د جن و انس دښمنان د هغوی ښکلې او غولوونکې خبرې دي، چې یو بل ته یې کوي.
پیغمبراکرم غلی شو، ابوذر(رض) هم غلی شو. دې خبرې، د خلکو د زړونو پخوانۍ یادیزې راژوندۍ کړې.
بیا پیغمبراکرم وویل: ابوذره! خوښه دې نه ده، چې د جنت له خزانو یو څو ټکي در زده کړم.
ابوذر: ولې نه! یا رسول الله، درځار.
پیغمبراکرم: بې له الله بل هیڅ ځواك نشته.
بیا ټول غلي شول.
عمرو بن سالم (رض) په تادۍ او منډه جومات ته راننوت او اندېښمن د پیغمبراکرم خواته کېناست، و یې ویل: یا رسول الله! د "حدیبیې" تړون یې مات کړ.
په خلکو کې شور زوړ شو: څنګه! کله! ولې! چا!!!؟؟؟
عمرو بن سالم(رض): زما ټبر (خزاعه) ستاسې همژمنی دی او د "بکر" ټبر د قریشو ملاتړ اعلان کړ؛ لکه څنګه چې پوهېږئ، زموږ او د بني بکر ترمنځ ډېرې دښمنۍ او شخړې تېرې شوي، چې د حدیبیې تر تړون روسته هوارې شوې وې. تاسې چې د "موته" په جګړه کې له رومیانو غچ وانخست؛ نو قریش پر دې خیال شول، چې تردې روسته مسلمین ځواکمنېدای نشي؛ ځکه یې د بني بکر ټبر زموږ پر خلاف راپارولی دی؛ وړمه ورځ، چې زموږ د اوبو وار و، پر موږ یې برید وکړ او څو یې راڅخه ووژل؛ زه هم راغلی یم، چې تاسې زموږ مرستندوی شئ.

رسول الله ډاډمن وويل: مرستندوی به دې شو.
رسول الله په سوچ کې شو، چې ددې شخړې هوارول يوازې د مکې سوبه ده. پېغمبراکرم د عربستان شاوخوا ته خپل پېغامونه واستول او خلك يې خبر کړل، و يې ويل: "چمتو شئ" او زما د حکم په تمه شئ. سوچ او غور يې کاوه، چې څنګه مکه بې جګړې او وينې تويېدو سوبه کړي.
داسې سوچ ورغی: خلك بې له دې چې خبر شي، چې چېرې ځي، جګړې ته چمتو کړي، چې د مکې کفار د دوی له تکل او چار خبر نشي او هغوی ځان د يوه ترسره شوي کار پر وړاندې ووينې او هغه مهال به ترې ورخ اوبو وړی وي.
خلك چمتو شول، بې له دې چې پوه شي، چېرې روان دي. رسول الله له ابوذر(رض) سره له جوماته راووت، چې ورته ووايي: د مکې د سوبې لپاره روان يو. د راتلو پرمهال يې يوه ونه له دوو څانګو راونيوه او و يې خوځوله، چې پاڼې يې راتويې شوې، بيا يې وويل: ابوذره!
ابوذر(رض): درځار، څه وايې.
پېغمبراکرم: مسلمان بنده که د الله لپاره لمونځ وکړي، ګناهانو يې لکه د دې ونې د پاڼو په څېر رژېږي.
دواړه روان شول او ځانونه يې لښکر ته ورسول او امر يې وکړ، چې د مکې د سوبې لپاره لېچې راونغاړئ! پام کوئ، چې د قريشو څري خبر نشي او له ټولو هيله لرم، دا مهمه او ستره دنده په ډېر احتياط سر ته ورسوئ.

لښکر له مدینې څخه د مکې پر لوري روان شو، مدینې لا تر اوسه دومره لوی لښکر نه و لیدلی. حضرت ابوذر(رض) پر ټوله لار له آنحضرت(ص) نه بېل نه شو او د هغه چوپړ یې کاوه. د مسلمانانو لښکر "مرالظهران" ته ورسېد. دا مهال پر مکې مېشتو د وېرې سیوری خپور شو او "ابوسفیان"، "بدیل" او "کلیم" د خبر راوړو لپاره له مکې بهر واستول.

حضرت عباس(رض) د پېغمبر تره، د رسول الله پر اوښ سپور روان و، چې ناڅاپه یې غږ واورېد او ودرېد، غوږ یې ونیو، چې ابوسفیان او بدیل یو له بل سره خبرې کوي.

ابوسفیان: تر اوسه مې لا دومره لوی لښکر نه و لیدلی.

بدیل: دا د "خزاعه" ټبر دی، چې د جگړې لپاره راغلی دی.

ابوسفیان: د خزاعه ټبر دومره نه دی؛ لکه دا څومره اور چې بل دی.

حضرت عباس(رض) د ابوسفیان غږ وپېژاند او غږ یې کړ: "ابوحنظله" (ابوسفیانه)!

ابوسفیان هم د عباس(رض) غږ وپېژاند او ځواب یې ورکړ: "ابوالفضل"(عباسه)! څه خبره ده؟ !

عباس(رض): رسول الله راغلی دی. افسوس پر خلکو که په زور مکې ته راننوځي.

ابوسفیان له وېرې په رپار شو، و یې ویل: موروپلار مې درځار، اوس به څه کېږي؟ چاره څه ده؟

عباس، هغه د پېغمبراکرم پر اوښ، خپل شا ته کېناوه او روان شول. خلکو چې د رسول الله اوښ لیده؛ نو لاره یې پرانسته، له لگېدلیو

اورونو، چې (د مکیانو د وېرولو لپاره بل شوی و) تېرېدل. د حضرت عمر(رض) له اوره، چې تېر شول؛ نو حضرت عمر (رض) ابوسفیان ولید او په منډه یې ځان د رسول الله کېږدۍ ته ور ورساوه او له رسول الله یې وغوښتل: اجازه راکړئ، چې ابوسفیان څټ مخی حلال کړم.

عباس(رض) وویل: یا رسول الله! ما هغه ته پناه ورکړې ده.

د حضرت عباس او حضرت عمر(رضی الله عنهم) ترمنځ غږونه پورته شول، چې حضرت پېغمبر اکرم (ص) عباس(رض) ته وویل: له ځان سره یې بوځه او سبا راشئ.

سبا سهار د مهاجرو او انصارو مشران، له رسول الله راټول شول. پېغمبراکرم وویل: ابوسفیانه! پر ځان ووېرېږه! اوس یې وخت دی، چې وپوهېږې، بې له الله بل معبود نشته.

ابوسفیان: درځار شم، ته څومره نېك او څومره پر خپلو خپلوانو لوراند یې. پر الله قسم که بې له الله بل خدای وای؛ نو اوس به یې هرومرو یو څه کړي وای.

پېغمبراکرم: ابوسفیانه! پر ځان ووېرېږه! اوس یې وخت دی، چې پوه شې، زه د الله استازی یم.

ابوسفیان: موروپلار مې درځار شه، ته څومره لوراند، نېك او د خپلو خپلوانو خواخوږی یې، ما هم همدا سوچ کاوه، چې یو څه خبره خو ده.

عباس(رض)، ابوسفیان ته مخ کړ، و یې ویل: مخکې تردې چې څټ مخی دې حلال کړي، مسلمان شه. (ابوسفیان بل یو سپړ هم و نه کړ او مسلمان شو).

لښکر د مکې پر لوري روان شو؛ رسول الله د مهاجرو له یوې ډلې سره پر یوې غونډۍ (چې شاته یې مکه وه) وخوت. د "ذی طوی" غره ته چې ورسېدل، تر اووه کالو ستونزو، مهاجرتونو او بېکوریو روسته یې مکه ولیده. حضرت محمد (ص) له غره، د مکې ګوټ ګوټ ته کتل؛ پخواني یادونه یې رایادېدل؛ د "حرا" غار ته ځیر شو او ور یاد یې شول، چې هلته یې په اندنې ډېرې شپې تېرې کړې وې، د وحې د نازلېدو شپه ورياده شوه. د مکې بېدیاوو د شپنۍ او سوداګرۍ شپې ورځې وریادې کړې، ښار ته یې چې کتل، د قریشو ظلمونه او تېري وریادېدل. د مهرباني او خواخوږې "خدیجې" کور، د الله کور، د مکې د شاوخوا غرونه، ټول یې له سترګو تېر کړل؛ پر اننګو یې غټې ټړمې اوښکې راوبهېدې او پر سجده پرېووت. د حضرت ابوطالب او حضرت خدیجې قبر ته ناست و، چې وپوښتل شو: د دمې لپاره به خپل کور ته ځې؟

پیغمبر اکرم: کوم کور؟ دوی خو په مکه کې ماته کور نه دی پرېښی، چې پکې دمه شم.

د حضرت خدیجې بي بي او حضرت ابوطالب د قبر ترخنګ یې سیوری ورته جوړ کړ او دمه یې وکړ او تر دمې کولو روسته، پر خپل اوښ سپور او له غره راکوز شو. حضرت ابوذر (رض) یو لوښی له اوبو ډك کړ او رسول الله ته یې پرده ونیوه، چې ځان پرېمینځي. بیا رسول الله، ابوذر (رض) ته پرده ونیوه او هغه هم ځان پرېمینځه.

دواړه په خوشحالۍ کعبې ته روان شول؛ رسول الله له کعبې اووه ځل راوګرځېد او "طواف" یې وکړ او ورپسې یې د کعبې ور پرانست. د

تاریخ تر ټولو حساسې شیبې رارسېدلې وې؛ ډېر ژر به د بوت نمانځنې کډه بار شي او د توحید نیالګی به وکرل شي. د بوتانو د عزت روستۍ شیبې دي. رسول الله د کعبې وره ته ودرېد، خلك ټول په تمه دي، چې پېغمبراکرم به څه چلن ورسره کوي؟ غچ به اخلي که نه؟ څه به کېږي؟ ټول خلك د خپل برخلیك په تمه ول، چې پېغمبر اکرم په خبرو پیل وکړ، و یې ویل:

((یَا أَیُّهَا النَّاس إِنَّا خَلَقْنَاکُم مِّن ذَکَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاکُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَکْرَمَکُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاکُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِیمٌ خَبِیرٌ[٦]))

بیا هم له خلکو سره وېره وه، چې محمد (ص) به ټولوژنه کوي؛ غچ به اخلي؟ څه به کوي؟

پېغمبراکرم: قریشو! څه مو خیال دی، چې څه به درسره کوم؟

خلکو وویل: نېکي به کوې.

پېغمبراکرم: ځئ ولاړ شئ، ټول ازاد یئ!

حضرت محمد (ص) د ځواکمنۍ پرمهال له ښښنې ډېر خوښ و، پر شونډو یې موسکا خپره وه او په خوشحالۍ کعبې ته ورننوت او په خپله کونټۍ یې په کعبه کې اېښوول شویو بوتانو ته اشاره کوله او ویل یې: (وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ کَانَ زَهُوقًا)

---

[٦] (حجرات/٣)- خلکو! په واقع کې موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې پنځولي یئ او موږ تاسې څانګې (او خپلونه) او ټبر ټبر وګرځولئ، چې سره وپېژنئ (خو دا د امتیاز کچه نه ده) په حقیقت کې د خدای په نزد ستاسې ډېر عزتمن، ستاسې ډېر پرهېزګار دی؛ په رښتیا، الله پوه (او) خبر دی.

بوتان له هرې خوا رانړېدل او راغورځېدل او مسلمانانو نارې وهلې:
(وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا)
ابوذر(رض) هم ځان د بوتانو په ماتولو او نړولو ستړی کړی و او له سترګو یې د خوشحالۍ اوښکې څڅېدې او د زړه له تله یې نارې وهلې: (وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا)

## حضرت ابوذر (رض) تر ځمکې، په اسمانو کې ښه پېژندل شوی

حضرت جبرائیل امین:

"محمده! پر هغه الله قسم، چې ته یې پېغمبر کړی یې، ابوذر تر ځمکې، په اسمانو کې ډېر پېژندل شوی دی.

عربي ټبرونه ورځ پر ورځ، ډلې ډلې مسلمانېدل، د اسلام د لمر وړانګې د عربستان پر ټول ټاپو لګېدلې وې، پېغمبراکرم خپل استازي د زکات او مالیاتو د راټولولو لپاره سیمو ته لېږلي ول، د مسلمانانو په ژوند کې ښکاره بدلونونه راغلي ول؛ وږي ماړه شوي؛ له بېوزلۍ او تنګلاسۍ خلاص شوي ول؛ خلك د حلالو شتمنیو څښتنان شوي ول؛ خو حضرت ابوذر (رض) هماغسې ساده او د زهد ژوند درلود، چې خواړه یې یوازې اوربشینه (روټه) وه.

یوه ورځ حضرت ابوذر (رض) " ربذې" ته ولاړ او څه وخت پاتې شو، چې مدینې ته راستون شو؛ نو سیده د خپل حبیب (پېغمبراکرم) کور ته ورغی او ترڅنګ یې چوپ کېناست.

پېغمبراکرم: ابوذره!

ابوذر (رض) هماغسې غلی ناست و، سر یې ځوړند نیولی و او د رسول الله ځواب یې ور نه کړ.

پېغمبراکرم: ابوذره! مور دې سر ته کښېنه!

ابوذر (رض): (په شرم او حیا سره ) پاك نه یم.

پېغمبراکرم يوې مينځې ته غږ کړ: اوبه راووړه!
ابوذر(رض) اوبه واخستې او غسل يې وکړ؛ راغی او سلام يې واچاوه.
پېغمبراکرم وويل: که شل کاله هم اوبه نه وي؛ نو خاوره خو شته (تيمم وکړه) او چې اوبه دې پيدا کړې؛ نو غسل وکړه.
پېغمبراکرم ابوذر(رض) ته نصيحت کاوه او هغه هم د زړه په غوږو اورېده، چې د زکات راټولولو مامور [ابن ليتيه (رض) ] راغی او څه يې چې راووړي ول، دوه برخې کړل، و يې ويل: دا ستا برخه او دا نوره خلکو ماته راکړې ده. په دې خبره د رسول الله څېره سره شوه. ابوذر(رض) هم، چې د رسول الله حالت وليد، سړي ته يې وويل: څنګه خلکو دا برخه درکړې؟ پېغمبراکرم غوسه خلکو ته مخ کړ، و يې ويل: ما د يوې دندې د سر ته رسولو لپاره، له تاسې يو لېږلی و؛ نو چې راغی وايي: دا ستا برخه او دا بله خلکو ماته راکړې. قسم پر هغه الله چې ژوند مې يې په لاس کې دی، چاچې د خلکو مال وخوړ، د قيامت پر ورځ به هماغه مال (غوا، غويي، ګډه، پڼی...) د هغه پر سر سپور وي او چغې به وهي او د محشر ډګر ته به راوستل شي.
ابن ليتيه(رض) څه چې د ځان لپاره بېل کړي ول، بېرته رسول الله ته ورکړل. ابوذر(رض) وويل: اوس دې د سړيتوب کار وکړ. ابن ليتيه(رض): زه ناپوهه وم او...
ابن ليتيه(رض) له خجالته سرټيټ نيولی و او له شرمه يې پر تندي خولې روانې وې، چې ابوذر(رض) وويل: مه خپه کېږه! په دې پوه شه، چې نړۍ د هغو کور دی، چې کور نه لري او د هغو مال دی، چې

مال نه لري او هغوی په نړۍ پسې هڅې کوي، چې ایمان نه لري؛ څه خبر دی، ولاړ شه او له رسول الله ښښنه وغواړه.
ابن لیتیه (رض) راغی او له پیغمبراکرم یې ښښنه وغوښتنه.
رسول الله وویل: الله وایي: "تاسې ټول ګناهکاران یئ؛ خو هغوی چې ما ښښلي؛ نو له ما ښښنه وغواړئ، چې و مو ښښم او څوك چې د ښښنې په اړه زما پر وس پوهېږي او له ما ښښنه غواړي، زه یې هم ښښم او زه د چا پروا نه لرم، تاسې ټول بې لارې یئ؛ خو هغوی چې لار یې موندلې وي، تاسې ټول نشتمن یاست؛ خو هغوی چې ما شتمن کړي، له ما یې وغواړئ، چې در یې کړم". رسول الله پاڅېد، ولاړ او د خلکو ترمنځ شور زوږ شو.
ابوذر (رض) په جومات کې پاتې شو او خلك یې د خدای دین ته رابلل او په خبرو کې یې هغه کسان رټل، چې په فاني نړۍ پسې هلې ځلې کوي او هغه خلك یې ستایل، چې په خپلو مالونو کې یې د نشتمنو، پلارمړیو او بېوزلیو برخه کوله او هغوی ته یې د جنت ژمنې ورکولې.
تر خبرو روسته، خلك خواره شول. ابوذر (رض) هم کور ته روان شو. په لار کې یې پیغمبراکرم ولید، چې یو سړی ورسره روان و او هغه جبرائیل و، چې ځان یې د چوپړیال په بڼه کړی و. ابوذر (رض) بې له دې چې سلام وکړي، تېر شو.
حضرت جبرائیل امین: دا ابوذر (رض) و، که سلام یې اچولی وای، یو څو خبرې به مې ورسره کړې وای.
حضرت محمد (ص): هغه له څه پېژنې؟

حضرت جبرائيل امين: پر هغه الله قسم، چې ته يې پر حق پيغمبر کړی يې، ابوذر تر ځمکې، په اسمانو کې ډېر مشهور دی.
حضرت محمد (ص): کوم چار هغه دې مقام ته رسولی دی؟
حضرت جبرائيل امين: تقوا او زهد!

## ابوذر به څنګه پکې نه وي؟ !

پېغمبراکرم ته خبر راورسېد، چې "هراکليوس" د روم پاچا خپل لښکر چمتو کړی او د "لحم"، "جذام"، "عامله" او "غسان" ټبرونه يې هم له ځان سره يوځای کړي، چې د عربستان پر شمال بريد وکړي.

حضرت محمد (ص) هم د خپل هېواد د امنيت ساتلو لپاره اړ شو، چې له دې خطرناك دښمن سره د مقابلې لپاره ځان چمتو کړي.

د عربستان هوا په اوړي او په تېره، په مني کې ډېره ګرمېږي او حضرت محمد (ص) بايد په يوه داسې موسم کې د جګړې لپاره روان شي، چې له اسمانه اور ورېږي او سوځنده لمر ځمکه سوځوي؛ بلخوا د مسلمانانو لښکر بايد د جګړې لپاره، له هېواده بهر ووځي او شام ته ورشي او په ګرمۍ کې دا خطرناکه او اوږده لار ووهي، چې وينه په رګو کې وچوي او ماغزه د سر په کاسه کې خوټوي.

دا مهال څو سست ايماني وګړي داچې له جګړې پاتې شي او د مسلمانانو د لښکر د تګ مخه ونيسي، ناوړه ډنډورې يې پيل کړ.

پېغمبراکرم ته خبر راورسېد او داچې ځان د دننني دښمن له شره خلاص کړي، په هغه ځای کې يې اور ولګاوه، چې دوی راټولېدل او نخچې يې ايستې.

پېغمبراکرم چې لښکر جګړې ته لېږه؛ نو د دښمن د غافلولو لپاره يې په کږو او پټو لارو بوت (لښکر ته يې هم نه ويل، چې کوم خوا روان يو)؛ خو دا ځل يې له هماغه پيله خپل لښکر ته هر څه پر ډاګه کړل،

چې چېرې او له چا سره د جګړې لپاره روان یو؛ ځکه دا ډېره خطرناکه جګړه وه؛ ځکه مسلمانان باید پخپله خوښه دا سختي ومني.

ټول ښېرونه مدینې ته راټول شول او پیغمبراکرم له سوداګرو او شتمنو هم د لښکر د چمتو کولو لپاره مالي مرسته وغوښته. دې لښکر ته د دې له لامله د "ستونزو لښکر" وایي، چې ډېرې ستونزې پرې تېرې شوې.

حضرت ابوذر (رض) پوه شو، چې پیغمبراکرم د روم له امپراتور سره د جګړې لپاره روان دی، د تګ تکل یې وکړ، خپل اوښ ته یې وکتل؛ خو ډېر خوارځواکی یې وموند او په دې اوږده لار کې به یې مرستیال نشي؛ لږ سوچ یې وکړ، له ځان سره یې وویل: ځور ورځې به ښه واښه ورکړم، چې غښتلی شي، بیا به پرې ولاړ شم.

اوږده لار او ګرمه هوا، د سست ایمانو لپاره د نه تګ ښه پلمه وه، حال دا، داسې کسان هم ول، چې تګ ته یې بیړه وه او پیغمبراکرم ته یې زارۍ کولې، چې موږ هم له ځان سره بوځه، چې له دې لوی نېکمرغۍ بې برخې نه شو؛ خو له بدمرغۍ، دوی هغه کسان ول، چې د تګ وزله یې نه درلوده. پیغمبراکرم هم څه یې چې په وس کې ول، چمتو کړل او له نورو یې ښښنه وغوښتنه، و یې ویل: ستاسې د تګ لپاره مې سورلۍ چمتو نه کړای شوې، دې ډلې ته د «بکائین» (ژړغونیو) ډله ویل کېده؛ ځکه په خپګان او ژړا له خپلو مجاهدینو جلا شوې وه.

د حضرت محمد (ص) په پرلپسې هلو ځلو، له روم سره د جګړې لپاره ۳۰ زریز لښکر چمتو شو.

لښکر له مدينې بهر لمونځ وکړ او بيا وخوځېد. د لښکر په روانېدو له هرې خوا لوخړې شوې، د مدينې خلکو لا تر اوسه دومره لوی لښکر نه و ليدلی او ټولو د دې لښکر په ليدو غرور احساساوه، د اسلام يووالی او پرتم يې کوت، لښکر بېديا ته روان شو، د تکبير نارې سر شوې او ټولو په خپله خوښه په مستۍ، د خپل يار د ميخانې شراب څښل. لښکر رو رو د هغو ښځو او ماشومانو له سترګو پناه شو، چې د بدرګۍ لپاره يې پر بليو ولاړ ول او د ژړغونيو ډله هم په ژړا او خپګان، د خپل يار د ميخانی له شرابو بې برخې پاتې شوه.

د ستونزو لښکر؛ حال دا، دوه دوه يا درې درې تنه پر يوه اوښ سواره ول، د خدای د خوښۍ لپاره ولاړل او منافقين يې د شرم، بې ننګۍ او د الله د غوسې په سمندر کې ډوب پرېښوول؛ لښکر په سوځنده لمر کې همداسې روان و او څومره چې مخکې تله، د راستنېدو لپاره، د سست ايمانو اراده، نوره هم پياوړې کېده، چې ناڅاپه "کعب بن مالك" مدينې ته راستون شو. اصحابو، رسول الله ته وويل: رسول الله! کعب بن مالك ولاړ او ستون شو.

رسول الله: پرېږدئ، چې ځي! که په راتګ کې يې خېر وي؛ نو الله به يې په خپله راستون کړي او که داسې نه وي؛ نو پوه شئ، چې الله يې له شره خلاص کړئ.

لښکر همداسې روان و، چې اصحابو بيا غږ کړ: رسول الله! "مراره بن ربيع" ولاړ او وګرځېد.

رسول الله: پرېږدئ، چې ځي! که په راتگ کې یې خېر وي؛ نو الله به یې په خپله راستون کړي او که نه وي؛ نو پوه شئ، چې الله یې له شره خلاص کړئ.

یو څه چې بیا مخکې ولاړل، یو ځال بیا اصحابو پېغمبراکرم ته وویل: رسول الله! "هلال بن امیه" هم ولاړ او ستون شو. پېغمبراکرم بیا ورته هماغه خبره وکړه او خپل یون یې وغځاوه. دا درې تنه، روسته ډېر خوار او ذلیل شول، تر پنځوسوو ورځو پورې چا ناسته پاسته، مړی ژوندی، راکړه ورکړه او خبرې ورسره نه کولې، تردې چې ژوند پرې ډېر تریخ شو او له الله یې ښښنه وغوښته او الله هم هغوی په خپله لورنه وبښل.

څومره چې مخکې تلل، ستونزې او ازمېښتونه ډېرېدل. لښکر روان و، چې اوازه شوه: ابوذر(رض) هم مدینې ته ستون شو. پېغمبر اکرم (ص) دا ځل هم هماغه خبرې وکړې او خپله لار یې وهله؛ خو پوښتنه داده، چې ایا ابوذر(رض) به له جگړې تښتي؟ د رسول الله له فرمانه به سرغړونه کوي؟ مدینې ته به ستنېږي؟ دا به څنگه د ابوذر(رض) مین زړه ومني، چې خپل حبیب په هغه سوځنده او وچه بېدیا کې پرېږدي، مدینی ته ستون او له منافقینو سره یوځای شي.

ابوذره! د غیرت او مینې خبره ده؛ ځان رسوه، خپل اوښ ته یې پونده ورکړه، چې ژر ژر پېغمبراکرم ته ځان ورسوي؛ خو هېڅ گټه یې و نه کړه؛ اوښ یې ډېر کمزوری شوی و، نور له ځایه نه خوځېده او ځای پر ځای سملاست. ابوذر(رض) چې څومره هڅې وکړې، چې راپایځوي؛ خو راپا نه څېد. اوس به څه کیږي! هېڅ چاره نشته،

ابوذر (رض) اوښ ځای پر ځای د الله په اسره پرېښود، خپل توکي يې پر شا کړل او په حضرت محمد (ص) پسې پلی روان شو؛ يا بايد مړ شم يا ځان خپلو يارانو ته ور ورسوم.

اوږدې لارې، سوځنده لمر او وچې بېديا؛ ابوذر (رض) ستړی او تږی کړ، په پښو کې يې دمه نه وه، ساه يې تله راتله؛ خو بيا يې هم خپله لار نيولې وه، زړه يې پر الله سپارلی و او لورنې ته يې خورا هيلمن و. زړه يې ورته ويل: ابوذره! د غيرت، ملګرتوب او د الله د خوښې خبره ده. تر هرې تورې شپې ورسته، روڼ سهار وي. تر هر خپګان روسته، خوشحالي وي. ملا يې وتړله، بدې يې ووهلې؛ اراده يې نوره هم مزبوته شوه، دومره پياوړې، چې نه يې کړاو پېژانده، نه تنده او نه لوږه او يوازېنۍ موخه يې خپلو يارانو ته رسېدل وو. له ځان سره يې ويل: دې ګرمۍ به مې له يارانو او حبيب سره څه کړي وي؟ څه به پرې تېرېږي؟ هرومرو به ستړي وي، تږي به هم وي. الله خبر چې اوبه به يې هم څښلې وي که نه؟ يا الله! ما ترې ځار کړې، ما له خپل ياره صدقه کړې. په همدې چورت کې روان و، چې د اسمان په يوه ګوټ کې يې سترګې په ورېځو ولګېدې، هماغې خوا ته ورغی، څو ټوټه مزل يې چې وکړ، مخې ته يې يو ګټ راغی، چې د باران اوبه پکې ډنډ شوې وې، خپل ژی يې ترې ډک کړ؛ پخپله هم تږی و، يوه لپه اوبه يې وڅښلې؛ اوبه ډېرې يخې او تازه وې، دويمه لپه يې چې څښله، پېغمبراکرم ورياد شو، له مرۍ يې تېرې نه شوې. له ځان سره يې وويل: پېغمبراکرم به تږی وي او ته به اوبه څښې! ژی يې اوږې ته

واچاوه او همداسې تږی او ستړی ستومانه؛ خو په مزبوت تکل او ایمان يې خپله لار ونيوه.

د حضرت محمد (ص) لښکر هم له هرې خوا ستونزو را اېسار کړی و؛ اوبه ورسره تمامې شوې وې، بدنونه يې لمر کباب کړي ول، ګرمۍ، تندې او ستړتيا بالاخره دې ته اړ کړل، چې په يو ځای کې واړوي او په اوبو پسې خواره شي؛ خو اوبه يې پېدا نه کړې. مسلمانانو يو بل ته ويل، چې د ژوند روستۍ شېبې دي او دا تنده به مو ووژني، چې ناڅاپه په اسمان کې ورېځې راپېدا شوې او باران وورېد او دومره اوبه راپېدا شوې، چې د مسلمانانو تنده يې ماته او خپل ژي يې ډك کړل.

ابوذر (رض) همداسې روان و، له ورايه يې پر لښکر سترګې ولګېدې، زړه يې غوښتل، اوس الله وزرې ورکړې وای او الوتی وای او چټک يې ځان خپل حبيب ته ور رسولی وای. خدايه! ځواک راکړې، چې د پت او ملګرتوب په ډګر کې پاتې رانه شم، بس دی نور وس نه لرم، څومره بېلتون؟ نور وس نه لرم، چې دوست مې راباندې د بې پتۍ او منافقت ګومان وکړي. چټک شو او ګامونه يې اوچت اوچت اخستل؛ ځکه د خپل زړه ټکور، رحمة اللعالمين او د نړۍ تر ټولو غوره انسان ته رانږدې شوی دی.

لښکر خپله لار وهله، چې يو صحابي غږ کړ: په بېديا کې يو سيوری ليدل کېږي.

لږ ودرېد او بيا يې وويل: يا رسول الله! يو سړی يوازې، په بېديا کې په موږ پسې را روان دی او اشاره راکوي.

پيغمبراکرم: هغه ابوذر دی.

لښکر ټول په تمه ولاړ و، چې څوك را روان دی، چې يوه غږ کړ: پر الله قسم، چې ابوذر دی.
رسول الله: خدای دې ابوذر وبښي، يوازې ژوند کوي، يوازې به مري او د قيامت پر ورځ به هم يوازې راپاڅي.
د ابوذر مخې ته يې ورمنډه کړه او په غېږ کې يې راونيو او له الله تعالى يي د داسې پتمن دوست له لامله شکرونه کول؛ د ابوذر(رض) تندی يې ښکل کړ، و يې ويل: ابوذره! الله په هر قدم، چې تا په موږ پسې راخسته، يوه گناه درنه رژولې. رسول الله له ابوذر(رض) سامان واخست او پر څمکه يې کېښود. ابوذر(رض) له تندې او ستړتيا پر څمکه راولوېد. پيغمبراکرم کېناست او د ابوذر(رض) سر يې په غېږ کې راجگ کړ، و يې ويل: ابوذر ته اوبه راوړئ، چې ډېر ستړی دی! ابوذر(رض) په سختۍ سترگې پرانستې، و يې ويل: اوبه راسره شته، مه يې راوړئ!
پيغمبراکرم: اوبه درسره وې او نه دې څښلې؟ !
ابوذر(رض): (په موسکا) هو! اوبه راسره وې، الله مې درځار کړه. پر لار مې يو گټ وليد، چې يخې اوبه پکې ډنډ وې، يوه لپه مې ترې وڅښله؛ ډېرې يخې او خوږې وې، و مې ساتلې، چې ته يې وڅښې
پيغمبراکرم: (په مينه او اخلاص) الله دې درسره ښه وکړي! ابوذره! يوازې وسې، يوازې به مرې او د قيامت پر ورځ به هم يوازې راپاڅې.

# حضرت ابوذر(رض) د الله په لار کې
# پر مبارزه وياړي

حضرت ابوذر(رض) تر حج روسته، له رسول الله سره راستون شو، د پيغمبراکرم روستی حج و، ابوذر(رض) سر په گرېوانه کې کړ او دې سفر ته چورت وړی و؛ پيغمبراکرم د حج مناسک بشپړ کړل او په خپلو خطبو کې يې څه نوې او مهمې خبرې کړې وې، له ځان سره يې وويل: دا عادي سفر نه و. د سوچونو او خيالونو مرغۍ يې ډېره ناکراره وه او پر يوه ځای هم نه شوه کېناستی او د پيغمبراکرم غږ[٧] يې په مغزو کې انگازې کولې، دا د خپگان او بېلتانه انگازې وې؛ حضرت ابوذر(رض) پر خپلو اوږو د غم پېټی احساس کړ او يقين يې راغی، چې ډېر ژر به يې حبيب (چې خپله دنده يې سر ته رسولې) له نړۍ خپل ابدي دوست ته ورشي؛ سوچ يې ډېر گڼ وډ و، چې څنگه به د خپل داسې دوست او لارښود بېلتون وزغمي، چې په دې څو کالو کې ترې يوه شېبه هم نه و بېل شوی. يا الله! صبر راکړې او له ځان سره يې وويل: دا هم کېدای شي، چې تر هغه مخکې له دې نړۍ ولاړ شي؛ خېر هر څه چې د الله خوښه وي. ناڅاپه د ديدن تږی شو او احساس يې کړل، چې پر زړه يې د بېلتون اور ولگېد، پاڅېد او له کوره ووت، پيغمبراکرم په جومات کې ولاړ و او له خپلو يارانو سره يې خبرې

---

[٧] ( د مائدې درېيم آيت) (نن مې ستاسو دين تاسې ته بشپړ کړ او خپل نعمت مې درباندې تمام کړ او اسلام مې ستاسې لپاره دين وټاکه).

کولې او هغوی هم په مینه، د آنحضرت (ص) خبرو ته غوږ نیولی و، په دې کې دوه تنه انصار راغلل او و یې لیدل، چې اصحاب له رسول الله راتاو دي، یوه وویل: دا یاران وګوره، چې تل سره یوځای وي، داسې کم وخت راپېښېږي، چې یو یې په ډله کې ناسوب وي.

ـ دوی د رسول الله له نږدې یارانو څنې دي.

ـ نن پکې یو کم دی!

ـ څوك پکې نشته؟

ـ ابوذر (رض) پکې نه ښکاري.

ـ کېدای شي د کوم کار لپاره چېرې تللی وي.

ـ دې خبرې ته دې پام دی، چې ابوذر (رض) ډېر پر پېغمبراکرم ګران دی.

ـ پام مې دی، چې ابوذر (رض) به ورسره و؛ نو دواړه [رسول الله او ابوذر (رض)] به په خبرو نه مړېدل او چې نه به و؛ نو نور به یې پوښتل، چې ابوذر (رض) چېرې دی، ولې نه دی راغلی؛ خیر خو به وي، څه ستونزه خو به نه لري، ان شاء الله پر ستهه خو به روغ وي.

ـ رښتیا چې ابوذر (رض) د دې مقام وړ دی. هغه ډېر پاك او نېك سړی دی.

ـحضرت ابوذر (رض) د خدای پر رسول د پاکلمنۍ او تقوا له کبله ډېر ګران دی.

دا مهال حضرت بلال (رض) د پېغمبراکرم مؤذن راغی او غوسه یې سلام واچاوه.

پېغمبراکرم: بلاله! خیر خو به وي، ولې دې تندی تریو دی؟

حضرت بلال(رض): زه او ابوذر پر یوه خبره سره ونښتو، چې د مور کنځل یې راته وکړه.
د بلال خبره لا نه وه خلاصه شوې، چې ابوذر هم راورسېد.
رسول الله ورته په تریو تندي وویل: ولې دې خپل رور ته کنځل کړي؟ فکر کوم، د جاهلیت هوا دې لا په سر کې پاتې ده. ابوذره! ما ته وګوره! په دې پوه شه، چې د تور او سپین ترمنځ هېڅ توپیر نشته او توپیر یوازې د هغوی په کړنو جوتېږي.
حضرت ابوذر(رض) له خپلو کړنو ډېر پښېمانه و، سر یې ښکته کړی و او هېڅ یې و نه ویل، چې ناڅاپه پر ځمکه سملاست، مخ یې پر ځمکه کېښود او حضرت بلال(رض) ته یې غږ کړ، و یې ویل: بلاله روره! راشه او پښه دې زما پر مخ کېږده، ما وبښه!
حضرت بلال(رض) ورمنډه کړه او حضرت ابوذر(رض) یې په غېږ کې راونیو، و یې ویل: د خدای لپاره، څه کوې، ما بښلی یې، الله دې هم وبښه.
حضرت ابوذر(رض) سر ښکته نیولی و او له شرمه یې غږ له خولې نه راوت، چې پېغمبراکرم وپوښت: بلال ته دې ولې کنځلی و؟
ابوذر(رض): (په خجالت او حیا) زه یې غوسه کړی وم.
پېغمبراکرم: چې کله غوسه وې؛ نو که ولاړ وې، کېنه او که ناست وې ډډه ووهه او بیا یې وویل: ابوذره! خوښه دې نه ده، چې داسې کړه وړه دروښیم، چې کول یې اسان او ثواب یې ډېر دی.
ابوذر(رض): ولې مې نه ده خوښه.

پېغمبراکرم: هغه چوپتیا او ښه خوی دی او له هغو کړنو سترګې پټول، چې انسان کوم ځای ته نه رسوي.

دواړو دوستانو سره خبرې کولې، چې خلك رو رو خپلو کورونو ته وخوځېدل. پېغمبراکرم او ابوذر(رض) هم راووتل او بازار ته را و رسېدل. د خلکو شور زوږ و، پېغمبراکرم ابوذر(رض) ته وویل: زه به درته یو آیت ولولم، که خلك پرې عمل وکړي، ورته بس دی:

[وَ مَن يَتَّقِ اللَّهَ يجْعَل لَّهُ مخْرَجاً وَ يَرْزُقْهُ مِنْ حَيْث لا يحْتَسِب- او څوك چې له الله ووېرېږي، الله به ورته له ستونزو وتلار وښيي او له داسې ځایونو به روزي ورکړي، چې سوچ به یې هم نه کوي.]

ابوذر(رض) غلی و او رسول الله هم څه نه ویل او همداسې اوږه پر اوږه روان ول، چې رسول الله ابوذر(رض) ته وویل: ته ډېر پاك یې او ډېر ژر به دې د ستونزو سېلاب پرمخه کړي.

ابوذر(رض): دا ستونې به راباندې د الله په لار کې راځي.

پېغمبراکرم: هو!

ابوذر(رض): پر دې ستونزو ویاړم او پېغمبراکرم ته یې په ډاګه وویل: د خدای په خوښۍ خوښ یم.

## د یارانو بېلتون

رسول الله سخت رنځور شو او یوه ورځ، چې لږ ښه شو؛ نو عایشې بي بي ته یې وویل: په جومات کې مې ناست یاران راوغواړه! عایشې بي بي هم یو تن ورپسې ولېږه او یو شېبه روسته ټول راغلل، چې حضرت ابوذر(رض) هم پکې و، سلام یې واچاوه او کېناستل. پېغمبراکرم خپلو پاکو، ننګیالو او پتمنو یارانو ته په ځیر کتل، و یې ویل: الله دې له تاسې سره ښه وکړي، الله مو وبښه، پر الله مې سپارلي یئ، الله مو رزق پراخ کړه، الله مو په چارو کې برکت واچاوه، الله دې تاسې ټولو ته اجر او صبر درکړي، تاسې ټولو ته د تقوا سپارښتنه کوم، زه مو له الله وېروم، له الله ووېرېږئ، زړونه او عقلونه ور وسپارئ، له الله ووېرېږئ او هېڅکله له خپل هېواد او هېوادوالو سره خیانت مه کوئ، د الله پر وړاندې مه غره کېږئ؛ ځکه هغه ما ته وویل:

[تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لاَ يُرِيدُونَ عُلُوّاً فِي الْأَرْضِ وَلاَ فَسَاداً وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ[8]]

پېغمبراکرم غلی شو؛ نور هم غلي شول، بیا آنحضرت(ص) وویل: ایا په دوزخ کې د خپلسرو لپاره ځای شته؟ او بېرته غلی شو. پر کوټه د سکوت سیوری خپور شو، د چا له خولې خبره نه راوته او ټولو په ژړغنو سترګو رسول الله ته کتل، چې آنحضرت(ص) وویل: بېلتون رانژدې شو؛ د ستنېدو وخت رانږدې شو، د الله پر لوري د ستنېدو

---

[8] (قصص / ۸۳)- (هو) دا د اخرت کور (یوازې) د هغوی لپاره دی، چې په ځمکه کې لویي او فساد نه غواړي او ښه پای یوازې د متقیانو ده.

وخت، د "جنة الماوی" پر لوري، د "سدرة المنتهی پر لوري، د رفیق اعلی پر لوري....

د پېغمبراکرم له یارانو یوه وویل: یا رسول الله! څوك غسل درکړي؟

_ زما له کورنۍ یو تن، چې ډېر راباندې گران دی.

_ د کفن چارې دې څنگه کړو؟

_ که خوښه مو وه، په دې خپلو جامو کې مې ښخ کړئ یا د مصر یا یمن په یوه ټوټه کې.

_ څوك دې جنازه وکړي؟

حضرت ابوذر(رض) زړه ټینگ کړی و، چې ځان غلی او چوپ ونیسي؛ خو و یې نه شو کړای؛ پر الله قسم! زړه مې پړک چوي، حبیب مې رانه روان دی، یو دم یې چغه کړه او په ژړا شو او له سترگو یې د اوښکو نېزونه راوبهېدل.

د پېغمبراکرم نور یاران هم په ژړا شول او د پېغمبراکرم مبارکې سترگې هم له اوښکو ډکې شوې.

د حضرت ابوذر(ض) پر زړه څه تېرېږي؟ ورشه عاشقان وپوښته، چې د یار بېلتون څومره غم لري؛ څه درته ووایم، د عاشقانو له زړه یو الله خبر دی. پر زړه یې د بېلتون اور بل شو، غوښتل یې وژاړي، چغې کړي؛ خو دومره یې ژړلي ول، چې د سترگو اوښکې یې وچې شوې او دومره چغې یې وهلې وې، چې نورې یې نه شوای وهلې، پر مرۍ یې د خپگان خپسه ناسته وه، سر یې ښکته کړ او له کوره ووت.

خلکو په جومات کې له حضرت ابوبکر(رض) سره لمونځ وکړ، چې پېغمبراکرم په تږلي سر او رنځور ځان جومات ته راننوت. د خلکو

زړونه د پېغمبراکرم په لیدو د پسرلي د ګلانو په څېر وغوړېدل؛ ځکه پسرلی راغلی و او خوشحالۍ یې کولې او له دې خوشحالۍ په جامو کې نه ځایېدل. حضرت ابوذر(رض) هم رامنډه کړه، چې د یار دیدن وکړي. ټول له آنحضرت (ص) راتاو شول او تر خپل کوره یې ورساوه.

د حضرت ابوذر(رض) پر غمځپلي زړه بیا پسرلی راغی؛ د زړه د بڼ بلبلو یې سندرې ویلې، چې د زړه د بڼ بنوال یې روغ شو او په همدې خیال خوشحاله خپل کور ته ولاړ؛ خبر نه و چې دا یې د زړه د بڼ روستی پسرلی و؛ خبر نه و، چې د پېغمبراکرم دا لیدنه او راتګ له خپلو یارانو سره، الله په امانې وه؛ راغلی و، که د چا پورووړی وي، چې ور یې کړي؛ لنډه داچې، په دې نړۍ کې خپل حساب کتاب خلاص او ځان د خپل یار دیدن ته چمتو کړي.

حضرت ابوذر(رض) خوشحاله کور ته ولاړ؛ خو خبر نه و، چې یوازېنی سرسیوری یې له نړۍ روان دی او څومره سختې به پرې د رسول الله ددې خبرې له لامله راځي، چې ورته یې ویل:

"همېشه د حق خبره کوه، که څه ترخه وي او د الله په لار کې له چا مه وېرېږه"

خبر نه و، چې د پېغمبراکرم تر وفات روسته به پرې د حق او د الله د خوښۍ لپاره څومره ستونزې او کړاوونه راځي. همداسې په چورت کې روان و، چې یو خپلوان یې ولید او و یې پوښت:

_ چېرې روان یې؟

_ تاسې کره درتلم.

ـ خېر خو به و؟
ـ په کور کې دې ماشومه زېږېدلې ده.
حضرت ابوذر(رض) غلی شو. خپلوانو يې وويل: [و اذا بشر احدهم بالاثنی ظل وجهه مسودا و هو کظیم؛ (چې کله ورته د لور د زوکړې، زېرې ورکړ شي؛ نو له غوسی يې رنګ اوړي او خپله غوسه کېنوي.)
ابوذر(رض): نه! خدای شته، چې دا خبره نه ده، د مرګ لپاره يې زېږوي، د خرابۍ لپاره يې ابادوي او... او ځومره ښه ياران دي دا دواړه؛ مرګ او فقر.
د پيغمبراکرم په کور کې چغې شوې او خلکو په وارخطايۍ او بيړه د رسول الله کور ته منډې وهلې او سره پوښتل يې: رسول الله مړ شوی؟ رسول الله مړ شوی دی؟ او...
د "فاطمې بي بي " د خپګان له لامله، پرښتې هم په اسمانو کې پر ژړا وې، فاطمې ژړل او ويل يې:

ابتاه يا ابتاه. ابتاه
اجاب ربا دعاه؟ .... يا ابتاه
الی جبريل ننعاه.... يا ابتاه
جنة الفردوس ننعاه......... يا ابتاه
من ربه ما ادناه..... يا ابتاه

د خلکو چغې او وير له ځمکې اسمانو ته رسېده؛ حضرت ابوذر(رض) هم په چغو او ژړا ځان مړ کړ، هېڅ نه يې غوښتل، باور وکړي، چې پيغمبراکرم مړ شوی دی. اصحابو هم په همدې باب يو له

بل سره خبرې کولې، هیڅا یو د بل خبرو ته غوږ نه نیوه، د ځا زړه ځېرې صبرېده او یوازې ژړاګانې یې کولې.
حضرت عمر (رض) راننوت او د رسول الله له مخه یې ځادر پورته کړ، و یې لیده، چې پېغمبراکرم ارام او بې ساه پروت دی، سوچ یې وکړ، چې رسول الله غیبت کړی، په منډه جومات ته راغی، و یې ویل: په تاسې کې ځینې وایې چې رسول الله مړ شوی، پر الله قسم، چې نه دی مړ شوی او د حضرت موسی او حضرت عیسی په څېر الله ته اسمانو ته ورغلی دی او ژوندی دی!
پر حضرت ابوذر(رض) د حضرت عمر(رض) خبرې ډېرې ښې ولګېدې او په زړه کې یې حضرت عمر (رض) ته وویل: پر خوله دې ګوړه او شکره او دعا یې کولې، چې کاش د حضرت عمر (رض) خبره رښتیا وای او حضرت محمد (ص) د منافقینو د ځپلو لپاره یو ځل بیا راپاڅي؛ خو چې حضرت ابوبکر(رض) راغی؛ نو د حضرت ابوذر (رض) د ارمانو پر کاسه خاورې ایرې تویې شوې.
حضرت عمر (رض) ته یې وویل: عمره! ودرېږه! بې صبري مه کوه، خلکو ماته اجازه راکړئ... ،
و یې ویل: چاچې د حضرت محمد(ص) عبادت کاوه؛ نو هغه مړ شوی او څوك چې د الله عبادت کوي؛ نو الله خو ژوندی دی او تل به ژوندی وي.
حضرت عمر (رض) په ژړا شو او یقین یې وشو، چې پېغمبراکرم مړ شوی، حضرت ابوذر (رض) هم چغې کړې او چغې یې وهلې: وخیلا! رسول الله ، امین، مهربان او کریم رور مې مړ شو.

د اوبو د کټوري په لټه کې شو، چې کېداى شي د حضرت محمد (ص) د بېلتون له لامله یې په سینه کې لګېدلې اور مړ شي؛ خو هېڅ ګټه یې نه درلوده، له ځان سره یې سوچ وکړ، چې د تسل درمل یوازې قرآن دی او د قرآن په لوستو یې پیل وکړ.

((وَلاَ تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلهاً آخَرَ لاَ إِلهَ إِلاَّ هُوَ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلاَّ وَجْهَهُ لَهُ الْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ[٩]))

ابوذر (رض) نهیلی او خپه له کوره راووت او له ځان سره یې په ویر کې دا جملې ویلې: یا رسول الله! خدای دې وبښه! ولاړ، رسول الله ومړ....

ټول په جومات کې ناست ول او له څېرو یې څرګندېده، چې څومره د پیغمبراکرم پر مړینې خپه دي؛ خطرناکې او له پېښو ډکې راتلونکې، پر ټولو غاښونه لګول. یا الله! څه به کېږي؟ حضرت عمر، حضرت ابوعبیده او حضرت ابوذر (رضی الله عنهم) او نور مسلمانان ولاړ ول، چې یو سړی را و رسېد او حضرت عمر (رض) ته یې وویل: انصار په "سقیفه" کې راټول شوي، چې د خلافت لپاره له حضرت سعدبن عباده (رض) سره بیعت وکړي.

دا خبره نه وه، سم تندر و، چې پر حضرت ابوذر (رض) راوغورځېد، رنګ یې د کورکمن په څېر ژېړ شو او هېښنده یې له ځان سره وویل:

---

[٩] (قصص – ٨٨)- او له الله سره بل معبود مه بله، چې بې له هغه بل معبود نشته، بې د هغه له (سپېڅلي) ذاته نور ټول څیزونه هلاکېدونې دي، واکمني یوازې د هغه ده او یوازې د هغه لوري ته ورګرځول کېږئ.

هېښنده خلك دي؟ دوی څنگه ځان ته اجازه ورکوي، چې بې له حضرت علي له بل سره بيعت وکړي؟ ! حضرت علي (ک) تر ټولو دې کار ته وړ دی، هغه لومړی تن و، چې پر پېغمبراکرم يې ايمان راووړ، د رسول الله د تره زوی دی، زوم يې دی؛ هېښنده خبره ده. نه پوهېږم، چې ددې خلکو مغزو ته څه سوچونه ورغلي، چې بې له حضرت علي (ک) له بل سره بيعت کوي؟

حضرت ابوبکر (رض) راووت، حضرت عمر (رض) وويل: وا دې نه ورېدل، چې انصار د بني ساعده وو په سقيفه (څېرگي) کې راټول شوي او د خلافت لپاره له سعد بن عباده سره بيعت کوي؟ !

حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت ابوعبيده (رضي الله عنهم) سقيفې ته روان شول، حضرت ابوذر (رض) هم ورپسې ورووت.

حضرت علي (ک)، حضرت عباس (رض) او ځينې نور بني هاشم د رسول الله پر کفن او ښخولو بوخت ول، چې حضرت عباس (رض) احساس کړه، د پردې تر شا نورې خبرې دي او ځينو د رسول الله د ځايناستۍ لپاره ځانونه چمتو کړي دي. حضرت علي (ک) ته يې مخ کړ، و يې ويل: لاس دې راکړه، چې بيعت درسره وکړم؛ ځکه خلك به وايي، چې د رسول الله تره بيعت ورسره کړی او هغه دوه نور به هم مخالفت درسره و نه کړي.

حضرت علي (ک): ولې نور څوك هم شته، چې دې کار ته تمه لري؟

حضرت عباس (رض): ور به شي، خبر به شي!

په دې کې حضرت علي (ک) د وره ټك ټك واورېد، ورغی او پوښتنه يې وکړه: څوك يې؟

ـ زه يم، ابوذر.
ـ خير خو به يې؟
ـ خلکو له حضرت ابوبکر (رض) سره بيعت وکړ.
حضرت علي (ک) ور پرانست او حضرت ابوذر (رض) راننوت.
حضرت علي: څنګه او چا له حضرت ابوبکر سره بيعت وکړ؟
حضرت ابوذر (رض): انصار د بني ساعده وو په سقيفه کې (د بني ساعده و د ټبر په څېرګي کې چې به پکې راټولېدل) راټول شوي ول، چې له حضرت سعد بن عباده (رض) سره بيعت وکړي، حضرت ابوبکر، حضرت عمر او حضرت ابوعبيده (رضى الله عنهم) هم هلته ولاړل، د حضرت ابوبکر (رض) تر ډېرو خبرو اترو روسته، انصارو وويل: ((يو امير به له تاسې وي او يو به زموږ وي )).
حضرت ابوبکر (رض) وويل: عرب دا خبره درسره نه مني! امير بايد يوازې له قريشو وي؛ نو له همدې کبله امير دې زموږ له لوري او وزير دې ستاسې له لوري وي.
په همدې وخت کې حضرت عمر (رض) هم د حضرت ابوبکر (رض) د خبرې د پخلي لپاره وويل: پر الله قسم، چې خلك دا حکومت درسره نه مني؛ ځکه پيغمبراکرم له تاسې و، دې کار ته يوازې موږ وړ يو؛ ځکه پيغمبراکرم زموږ له ټبره و او څوك چې له موږ سره مخالفت وکړي؛ نو غټه ګناه به يې کړې وي. بيا حضرت عمر (رض) غږ وکړ: ابوبکره! لاس دې راکړه.
حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر (رض) لاس ونيو و يې ويل: خو پيغمبراکرم تا ته امر نه و کړی، چې مسلمانانو ته لمونځ ورکړه! ته

د خدای د رسول خلیفه یې، موږ له تا سره د دې لپاره بیعت کوو، چې په موږ کې، پر پیغمبراکرم ډېر گران وې. حضرت ابوعبیده(رض) هم بیعت وکړ، و یې ویل: ته تر ټولو غوره مهاجر یې، ته د پیغمبراکرم د سمځې یار یې، ته د خدای د رسول خلیفه یې؛ نو تر تا به څوك دې چار ته وړ وي؟

حضرت ابوذر(رض) تر خپلې کیسې روسته په سوچ کې ډوب شو او غلی شو.

حضرت عباس(رض)، حضرت علی(ک) ته وویل: زما خبرې ته مو غوږ و نه نیو، گوره چې څه وشو.

امرتهم امر بمنعرج اللوی فلم یستبینو النصح الاضحی الغد

حضرت علي(ک): چاره څه ده؟

حضرت ابوذر(رض): باید حضرت مقداد، حضرت سلمان، حضرت عباده بن صامت، حضرت ابوهیثم، حضرت حذیفه او حضرت عمار (رضی الله عنهم) هم راوغواړو بیا به گورو، چې څه وکړو؟

* * *

شپه شوه او د تل په څېر تپه تیاره؛ خو دې شپې تر نورو شپو ډېر توپیر درلود، څه هیښنده شپه وه، د اسلامي حکومت لومړي بنسټونه ایښوول کېدل. انصار د جومات مخې ته راټول شوي ول، حضرت ابوذر(رض) وویل: څوك شك نه لري، چې حضرت علي(ک) تر ټولو د خلافت لپاره وړ دی او موږ باید د خلافت چارې مهاجرینو ته وسپارو. راځئ د سقیفې تړون مات کړو!

_ څنګه؟

حضرت ابوذر(رض): هغوی انصارو ته دا دلیل ووایه، چې رسول الله له هغوی دی او موږ به هم مهاجرینو ته همدا دلیل ووایو؛ ځکه حضرت علی(ک) په موږ کې تر ټولو پیغمبراکرم ته له هر اړخ نږدې دی.

ټولددې خبرو په اورېدو په سوچ کې ډوب شول؛ شور زوږ شو او پرېکړه یې وکړه، چې د دې کار په اړه له مهاجرینو سره سلامشوره وکړي.

د دویمې ورځې لمر راوخوت؛ حضرت ابوذر(رض) له خپل کوره راووت او د خدای د رسول د لور (فاطمې) کور ته ولاړ؛ هلته حضرت عمار، حضرت زبیر، حضرت مقداد او حضرت سلمان(رضی الله عنهم) هم ول، چې حضرت خالد بن سعید(رض) هم راورسېد، حضرت علی(ک) ته یې وویل: پر الله قسم، چې په خلکو کې څوک تر تا د خلافت د چارو د سمبالې لپاره وړ نه وینم!

حضرت ابوبکر او حضرت عمر(رضی الله عنهم) ته خبر ورسېد، چې دا کسان د حضرت فاطمې په کور کې راټول شوي دي. هلته ورغلل او له حضرت علي(ک) او یارانو یې وغوښتل، چې راووځي او د نورو په څېر له دوی سره بیعت وکړي؛ خو چا یې خبرو ته غوږ و نه نیو. دا مهال "ابوسفیان" راورسېد، و یې ویل: پر الله قسم، چې د ویني تږی انقلاب ګورم، چې را روان دی. بیا یې حضرت علي(ک) او حضرت عباس(رض) ته وویل: سستو خلکو! ذلیلانو! او حضرت علی(ک) ته

يې وويل: لاس دې راکړه، چې بيعت درسره وکړم، که غواړې مدينه درته له لښکره د ابوفضيل (ابوبکر) پر خلاف ډکه کړم؟
حضرت علي (ک) د ابوسفيان له خبرو سره په مخالفت کې په موسکا او ريشخند لاندې شعرونه وويل:
و لايقيم على فيم يراد به
الا الا ذلان غير الحى والوتر
هذا على الخسف مربوط برمته
و ذا يشج فلا يرثى احد
له دوو ذليلانو پرته څوك پر ځان ظلم نه مني: يو د ټبر خر او بل موږی، خر په موږي پورې ترل کيږي او هغه بل تل پر سر وهل خوري؛ خو څوك نشته، چې وير ورته وکړي.)
حضرت ابوذر (رض) غوسه ابوسفيان ته وکتل او پوهېده، چې د ابوسفيان دا خبرې د دوستۍ لپاره نه دي او يوازې په مسلمانانو کې درز اچول غواړي، اوس يې اوبه خړې ليدلي، غواړې کبان ونيسي.
حضرت علي (ک) ابوسفيان ته څو خبرې وکړې، چې د حضرت ابوذر (رض) زړه پرې خوشحاله شو.
حضرت علي (ک) وويل: ته څومره له اسلام سره کينه لرې، ځه ولاړ شه! زه ستا لښکر او بيعت ته اړ نه يم[١٠].

---

[١٠] ژباړن: د دې تاريخي پېښې په پوهېدو سره لوستونکي د خوشحال بابا د دې شعر پر مفهوم ښه پوهېدای شي چې: اختلاف يې چې د اصحاب په منځ کې راشي - د مـفـهـومـو کار هغو زده چې "مـفـهـوم" دی

## حضرت ابوذر (رض) د لومړي خليفه په پېر کې

حضرت ابوذر (رض) لاس تر زنې په سوچ کې ډوب ناست او له سترګو يې غټې غټې اوښکې راتوييدې، خپل تللی يار يې پر زړه راوريدلی او د هغه خبرې يې رايادېدې، چې يوه ورځ آنحضرت (ص) په تړلي سر او رنځور ځان جومات ته راغی او خلکو ته يې وويل: ((اسامه ستاسې قوماندان دی، قومانده يې ومنئ اوس، چې تاسې يې پر قوماندانۍ خپه يئ او نېوکې پرې کوئ، پخوا مو د هغه د پلار پر قوماندانۍ هم نيوکې کولې... )) دې خبرو ته يې سوچ کاوه او ځان يې پوښت: ايا حضرت ابوبکر (رض) به د حضرت اسامه (رض) لښکر د "قضاعه" جګړې ته وليږي؟ ايا حضرت ابوبکر (رض) به د هغو اصحابو خبرو او نيوکو ته پام وکړي، چې وايي: حضرت اسامه (رض) لا تر اوسه ځوان دی او شل کلن شوی هم نه دی، هغه بدل کړئ او پر ځای يې يو بل وټاکئ، چې لږ تر لږه يوه جامه خو يې تر حضرت اسامه (رض) ډېره زړه کړې وي.

خو اسلام ته عمر مهم نه دی او کله هم کم عمري د دې لامل نه دی، چې چاته مهمې دندې و نه سپارل شي، هغه مهال خو حضرت علي (ک) يوازې ځوارلس کلن و، چې پېغمبراکرم خپل ځايناستی وټاکه؛ خو رسول الله و نه ويل: چې الله به اسلام ته د حضرت عمر

(رض) په لاس عزت ورکړي" حال دا، حضرت عمر ۲٦ کلن و، و مو نه لیدل، چې حضرت سعد بن وقاص(رض) راپاڅېد او په مړانه یې د پیغمبر اکرم (ص) دفاع وکړه او له کفارو سره وجنګېد او په یوه ورځ کې یې زرغشي وایشتل، حال دا، ۱۷ کلن و؛ اسلام په ځوانانو ملاتړ شوی او په اوږو یې دې ځای ته رارسېدلی دی؛ نو څنګه خلك د حضرت اسامه(رض) پر قومندانۍ نیوکې کوي؟ حال دا، پیغمبراکرم له نړۍ تر تګ مخکې هغه ته یې دا دنده ورسپارلې وه او له حضرت ابوبکر (رض) هم د رسول الله د فرمان له مخې، دا تمه کېږي، چې د حضرت اسامه(رض) لښکر جنګ ته ولېږي. د خلکو خبرې مهمې نه؛ لکې د پیغمبراکرم فرمان دی، چې ارزښت لري.

حضرت ابوذر(رض) راپاڅېد او حضرت ابوبکر(رض) ته ورغی، ګوري چې ډېر مسلمانان ورسره دي او ترې غوښتل یې چې د اسامه(رض) لښکر مه لېږه! هغوی استدلال کاوه، چې د حضرت محمد (ص) تر مړینې روسته، حالات اوښتي او څوك څه پوهېږي، چې د مرګ خبر یې قبائلو ته څنګه رسېدلی او نه پوهېږو، چې څه به کېږي؟

حضرت ابوذر(رض) د حضرت ابوبکر(رض) خولې ته کتل او په تمه و، چې د خلیفه ځواب به څه وي؟ د خلکو خبرې او که د پیغمبراکرم فرمان؟ ځان یې د پیغمبراکرم دې خبرې ته چمتو کړی و، چې ورته یې ویلي وو: "د حق خبره کوه که څه ترخه وي او د خدای په لار کې له چا مه وېرېږه"؛ خو د حضرت ابوبکر (رض) له خولې د حضرت ابوذر(رض) د زړه خبره راووته، چې د ابوذر (رض) زړه پرې ډېر

خوشحاله شو؛ حضرت ابوبکر (رض) وویل: قسم پر هغه الله، چې د ابوبکر ژوند یې په لاس کې دی، که لېوان مې وداړي او په دې سیمه کې ځان ته هم پاتې شم، بیا به هم د پېغمبراکرم فرمان عملي کوم او د اسامه لښکر به جګړې ته لېږم. دې خبرې د حضرت ابوذر (رض) رنګ وغوړاوه، تازه شو او پر زړه یې د هیلو وړانګې ولګېدې؛ یو دم یې نظر پر حضرت عمر (رض) شو، وارخطا شو؛ ځکه پوهېده چې حضرت عمر (رض) د اسامه (رض) د قومندانۍ سخت مخالف دی؛ بلخوا د هغه او حضرت ابوبکر (رض) اړیکې ډېرې ښې دي؛ کېدای شي د حضرت ابوبکر (رض) په اراده کې بدلون راولي، ودرېد چې څه به کېږي؟

حضرت عمر (رض) له حضرت ابوبکر (رض) وغوښتل، چې د اسامه (رض) د لښکر د تګ مخنیوی وکړي؛ خو حضرت ابوبکر (رض) وویل: که لېوان مې هم وداړي، د رسول الله فرمان عملي کوم.

حضرت ابوذر (رض) په خوشحالۍ راووت او دباندې یې ولیدل، چې ځینې مسلمانان راټول شوي، چې د حضرت عمر (رض) د خبرو پر پایله ځان پوه کړي. ابوذر (رض) هم ورسره ودرېد، خلك د حضرت عمر (رض) پر تندي پوه شول، چې څه خبره ده؛ خو بیا یې هم له حضرت عمر (رض) وغوښتل، چې له حضرت ابوبکر (رض) سره د حضرت اسامه (رض) د قومندانۍ خبره وکړي.

دا به ښنګه وي، چې يو ځوان د داسې يوه لښکر قوماندان وي، چې د پيغمبر اکرم (ص) لوی لوی اصحاب؛ لکه حضرت عمر(رض) پکې سر تيري وي.
حضرت عمر(رض) يو ځل بيا حضرت ابوبکر(رض) ته ورغی او د حضرت اسامه(رض) د قوماندانۍ خبره يې ورسره بيا واچوله، چې دا ځل حضرت ابوبکر(رض) غوسه شو او په لوړ غږ يې حضرت عمر(رض) ته وويل: هلاك شې! مور دې بوره شه! د خطاب زويه! رسول الله هغه پر دې منصب ټاکلی او ته وايې، هغه له دې منصبه لرې کړه، ته ښه پوهېږې که پيغمبر؟ !
حضرت عمر(رض) راووت او په لار کې دې خبرې ته سوچ وړی و، چې ښنګه هغه نرم خويه ابوبکر(رض) په غوسه چلن ورسره وکړ؟ پرېشانه خلکو ته ورغی، خلکو وويل: څه وشول؟ حضرت عمر(رض) په چغو شو، و يې ويل: ځئ! ولاړ شئ! ميندې مو درباندې بورې شه! ستاسې په پار مې د رسول الله له خليفه څومره توندې خبرې واورېدې.
حضرت ابوذر(رض) ولاړ او د خدای شکر يې ادا کړ او ځان يې له لښکر سره تګ ته چمتو کړ، د جنګ ډهول ووهل شو او لښکر د تګ لپاره چمتو شو او ابوذر(رض) هم په ډاډ د حضرت ابوبکر(رض) د سياست په لاروۍ، د الله په لار کې جګړې ته ولاړ.
حضرت ابوذر(رض) د حضرت ابوبکر(رض) په خلافت کې د نورو په څېر په جګړو کې برخه اخسته؛ خو زهد او د تقوی لمنه يې پرې نښووه، حضرت ابوبکر(رض) هم زاهد او متقي و؛ ځکه حضرت

ابوذر (رض) پرې هېڅکله نیوکې و نه کړې؛ ورځ پر ورځ د مسلمانانو په ژوند کې ښکاره بدلونونه راتلل، د اسلام ځواکمني او دبدبه ډېرېده؛ خو حضرت ابوذر(رض) هماغسې د زهد ژوند کاوه.

## حضرت ابوذرغفاري(رض) د دویم خلیفه په پېر کې

حضرت ابوبکر(رض) رنځور شو او تر وفات مخکې يې حضرت عمر (رض) خپل ځايناستی وټاکه. حضرت ابوذر(رض) د حضرت ابوبکر (رض) د مرگ خبر واورېد، ډېر خپه شو او څو ورځې په مدينه کې پاتې شو او څه موده روسته له خپلې ښځې او لور سره شام ته ولاړ، په شام کې يوه ورځ په جومات کې ناست و، خلك ترې راټول شوي ول او پر بېلابېلو موضوعاتو يې خبرې اترې کولې، يو چا وپوښت: ابوذره! ته ولې حضرت ابوهريره(رض) په څېر(د بحرين امير) منصب نه اخلې؟

حضرت ابوذر(رض): زه په منصب او مقام څه کوم؟ زما همدا غنم، اوبه او يو کټوری شيدې بس دي، چې الحمدلله رارسي.

يو بل وويل: خبر نه يې چې اميرالمؤمنين حضرت عمر(رض) له ابوهريره(رض) سره څه کړي دي؟

_ نه! څه يې کړي دي؟

_حضرت عمر(رض) د حضرت ابوهريره(رض) مال او شتمنۍ وشمېرله، و يې ويل: هغه ورځ مې چې ته د بحرين امير وټاکلې؛ نو يوه جوړه پنې دې هم نه لرلې اوس وينم، چې په ۱۶۰۰ ديناره دې اسونه پېرلي دي.

حضرت ابوهريره(رض) وويل: له پخوا مې څه اسپې لرلې، چې بچې يې وزېږول او يو شمېر هم خلکو راکړي دي.

حضرت عمر (رض): ما چې ستا حساب وکړ، دومره مال درته ډېر دی، نور را کړه؟
حضرت ابوهریره (رض): نه یې درکوم.
حضرت عمر (رض): پر خدای چې ملا دې ماته کړم.
او دومره یې وواهه، چې حضرت ابوهریره (رض) وویل: درکړی به مې وای؛ خو هغه ټول مې د الله د رضا لپاره خلکو ته وربښلي دي.
حضرت عمر (رض): له کومه دې راوړي دي، مور خو دې تا ته د خره له څرولو پرته بل څه نه و درښوولي، د بحرین له خلکو به دې مالیات اخستل او هغه دې په خپل جېب کې اچول، که په خپله دې ګټلي وای بیا هم یوه خبره؟ ! ! !
حضرت ابوذر (رض): حضرت عمر په دې کار، الله او رسول یې راضي کړل؛ ځکه ولسمشر باید د خلکو لپاره کار وکړي؛ نه د ځان لپاره.
یو ځل بیا په خلکو کې خبرې اترې شوې، چې د شام د والي حضرت حبیب بن مسلمه (رض) استازي، حضرت ابوذر (رض) ته وویل: والي صاحب دا ۳۰۰ دیناره ستا د ژوند د اړتیاوو د لرې کولو لپاره رالېږلي دي.
حضرت ابوذر (رض): بېرته یې ورکړه! تر ما یې بل څوك الله ته نږدې پیدا نه کړ؟ زما هماغه یوه کوټه، څو مېږې او یو چوپړیال (چې په تنخوا کې یې راکړی) بس دی.

* * *

حضرت ابوذر (رض) خپله تنخوا واخسته او له حضرت عبدالله صامت (رض) او یوې ښځې سره له کوره راووتل او بازار ته ولاړل؛ مینځې څه سامان واخست او پاتې پیسې یې حضرت ابوذر (رض) ته ورکړې او هغه هم پر بېوزلیو وایشلې.
عبدالله صامت (رض): ته د کور خرڅ لرې، مړی ژوندی لرې، مېلمه ایزمه لرې... دا پیسې به دې ساتلې وای؟
حضرت ابوذر (رض): حبیب مې راته ویلي: هر سره یا سپین، چې ساتل کېږي، د څښتن لپاره یې اور کېږي؛ خو داچې د الله په لار کې یې وښنې.

* * *

حضرت عمر (رض) د خلکو د ستونزو او اړتیاوو د لرې کولو لپاره شام ته ولاړ. خلك د حضرت عمر (رض) په لیدو خوشحال او ترې راټول شول، حضرت عمر (رض) هلته حضرت ابوذر (رض) ولید او په ورین تندي یې غېږه ورکړه او د هغه لاس یې په خپل لاس کې نیولی و، چې حضرت ابوذر (رض) په شوخۍ وویل: لاس مې پرېږده فتنې!
حضرت عمر (رض): فتنه دې ولې راته وویله؟
حضرت ابوذر (رض): یوه ورځ موږ له رسول الله سره ناست وو، چې راغلې، خلك ډېر ول او تا هم و نه غوښتل، د خلکو ترمنځ راتېر شې او موږ ته ځان را و رسوې او همیشه د وره څنګ ته کېناستې، رسول الله تا ته په اشاره وویل: د فتنو لپاره مو همدا یو سړی بس دی.

حضرت ابوذر(رض) تل له حضرت عمر(رض) سره و؛ یوه ورځ یې ولیدل، چې حضرت عمر (رض) خپه ناست دی، حضرت ابوذر (رض) وویل: ولې خپه یې؟

حضرت عمر(رض): بشر(رض) مې د مالیاتو مامور وټاکه؛ خو هغه مې حکم و نه مانه. بله ورځ مې چې ولید، و مې پوښت: ولې دې زما فرمان و نه مانه؟ زه ستاسې امیر نه یم؟ راته یې وویل: هو! ته زموږ امیر یې؛ خو له رسول الله مې اورېدلي: څوك چې د مسلمانانو د چارو لپاره وټاکل شي، د قیامت پر ورځ به یې د دوزخ د پله له پاسه دروي، که چوپړ یې کړی وي؛ نو تېر به شي او که خیانت یې کړی وي؛ نو پُل به سوری شي او د اویا کالو لپاره به په دوزخ کې وي.

حضرت ابوذر(رض): تا په خپله له آنحضرت (ص) نه دا خبره نه وه اورېدلې؟

حضرت عمر (رض): نه.

حضرت ابوذر(رض): په خپلو غوږونو مې له رسول الله واورېدل، چې و یې ویل: "چاچې د یوه تن چارې په لاس کې واخستې، د قیامت پر ورځ به یې د دوزخ د پُل له پاسه ودروي، که چوپړ یې کړی وي؛ نو تېر به شي او که خاین وي؛ نو د اویا کالو لپاره به دوزخ ته ورگوزار شي" اوس ته ووایه، چې کوم یو یې ډېر درد لري؟

حضرت عمر(رض): دواړو مې زړه ودرداوه! څوك نشته، چې خلافت ورته له هر څه سره وروسپارم.

حضرت ابوذر(رض): په رښتیا، ډېره سخته دنده ده؛ خو زه اوس په تا کې د نېکۍ څه نه وینم.

حضرت عمر (رض) د خلکو د چارو او د ژوند د ښه کولو لپاره ډېرې هلې ځلې کولې او له خپلو مامورينو سره به يې ټکی په ټکی حساب کاوه؛ يوه ورځ ترې خلکو وغوښتل، چې حضرت بلال (رض) ته د اذان ووايي.

حضرت بلال (رض) د رسول اکرم (ص) مؤذن و، چې د آنحضرت (ص) تر مرگ روسته يې اذان و نه کړ. خلکو د پېغمبراکرم د ژوند د يادېزې راژوندي کولو ته، غوښتل يو ځل بيا د حضرت بلال (رض) په خواږه غږ اذان واوري.

حضرت عمر (رض): بلاله! اذان وکړه.

حضرت بلال (رض) پاڅېد او په خپل خواږه او سوځند غږ يې (چې په کلونو کلونو د مدينې خلك ورسره روږد وو) اذان پيل کړ.

د حضرت بلال (رض) اذان، د حضرت ابوذر (رض) پر زړه اور ولگاوه او آنحضرت (ص) يې ورياد کړ، چې په نبوي جومات کې به يې له اصحابو سره خبرې کولې.

اشهد ان محمد رسول الله اشهد ان محمد رسول الله

حضرت بلال (رض) چې څومره وس وکړ، اذان پوره کړي؛ خو پوره يې نه کړای شو؛ په ژړا شو، اذان يې نيمگړی پرېښود او د جومات په گوټ کې غلی کېناست.

## حضرت ابوذر غفاري(رض) خلك پر احاديثو پوهول

نشتمن او بېوزلي به له حضرت ابوذر(رض) راټولېدل او همېشه به ورسره ول، هغوی د حضرت ابوذر(رض) پر پاکۍ او زهد عاشقان ول، د شپې و ورځې به ناست ول او د هغه له خولې يې د پېغمبراکرم خبرې اورېدې.

حضرت ابوذر(رض) د اسلام له سترو محدثيونو څنې شمېرل کېده او ښې فصيحې خبرې يې کولې او پر تقوا او پرهېزګارۍ مشهور و؛ ځکه د مسلمانانو د دين مرجع و. يوه ورځ له خلکو سره پر خبرو بوخت و، چې يو چا سوړ اوسېلی وکړ او په خپګان يې وويل: " کاشکې ما هم رسول الله ليدلی وای. "

حضرت ابوذر(رض): رسول الله وويل: "تر ټولو راته نږدې هغه ياران دي، چې له مال او شتمنۍ تېرېږي، چې ما ووينې".

حضرت ابوذر(رض) خپلې خبرې له سره پيل او خلکو ته يې د پېغمبراکرم د معراج کيسه کوله، چې يو ناپېژندګلو سړی يې وليد، و يې ويل: څوك يې؟

_ زه "نافع طاحي" يم.

_ د کوم ځای يې؟

_ د "عراق" يم.

_ "عبدالله عامر" پېژنې؟

ـ هو.
حضرت ابوذر(رض): ما او هغه به يوځاى قرآن لوست؛ خو هغه د حکومت هوس وکړ، چې "بصرې" ته ولاړې، ورشه، هغه به دې هرومرو پوښتي، چې د څه کار لپاره راغلى يې؟ ورته ووايه: زه ابوذر رالېږلى يم، سلامونه يې دربانديې ويل او ويل يې: خرما زموږ خوراك او اوبه مو شراب دي، ته هم ژوندى يې او موږ هم ژوندي يو.
دا مهال د حضرت ابوذر(رض) يو انډيوال راغى، سلام يې واچاوه او کېناست.
حضرت ابوذر(رض) وويل: کله له مدينې راغلى يې؟
ـهمدا نن.
ـ هلته څه حال و؟
ـ حضرت عمر(رض) اورېدلي ول، چې ابوسفيان د خپل زوى معاويه (د شام والي) تر ليدو روسته راستون شوى دى. حضرت عمر(رض) گومان وکړ، چې زوى به يې جېبونه ورته ډك کړي وي، چې ابوسفيان راغى، حضرت عمر(رض) وويل: ابوسفيانه! زموږ برخه راکړه.
ابوسفيان: ما ته څه رارسېدلي، چې ستا برخه هم پکې وکړم؟
حضرت عمر(رض) د ابوسفيان لاس راښکه او د هغه له گوتې يې گوته راواېسته، خپل سړي ته يې ورکړه و يې ويل: د ابوسفيان ښځې (هند) ته د ابوسفيان له خولې پېغام ورسوه؛ هغه کڅوړه مې چې له شامه راووړې، راکړه؛ که ښځې يې څه وويل؛ نو دا گوته ور و ښيه، سړي څو شېبې روسته کڅوړه راوړه، چې لس زره درهم پکې ول، چې حضرت عمر(رض) هغه ټول بيت المال ته وسپارل.

حضرت ابوذر (رض): پر الله قسم، د رسول الله هغو اصحابو ته هېښس یم، چې په نړۍ پسې مړه دي، سپینو او سرو ته پر ارزښت قایل دي، سره له دې، چې له رسول الله یې اورېدلي، چې و یې ویل: " د مال او نړۍ مثال د هغه سړي دی، چې په سره اوړي کې پر اوښ سپور وي او د لړې شېبې لپاره د ونې تر سیوري لاندې وي او ژر بېرته روان شي. "
یو له دوی وویل: الله ویلي دي: "مال او اولاد د نړۍ ښکلا ده.
حضرت ابوذر (رض): هغه ته هېښس یم، چې پر ابدي نړۍ ایمان لري او بیا هم ځان پردې نړۍ غولوي، لوی څښتن ویلي: "د الله په نزد غوره ثواب، نېکي ده، چې تر تا روسته پاتېږي.
حضرت نافع طاحي (رض) بصرې ته راورسېد، د والي حضرت عبدالله عامر (رض) کور ته ولاړ، سلام یې واچاوه او کېناست. حضرت عبدالله (رض) وویل: څه اړتیا لرې؟
نافع (رض): زه په شام کې وم، چې هلته مې حضرت ابوذر ولید، سلامونه یې ویل او...
حضرت عبدالله (رض) چې د حضرت ابوذر نامه واورېده، هغه ټولې شېپې ورځې وریادې شوې، چې له دې پاك صحابي سره یې په زهد کې تېرې کړې وې؛ حضرت نافع (رض) خپلو خبرو ته دوام ورکړ، و یې ویل: ابوذر تر دعا او سلام روسته وویل: "زموږ خواړه کجورې او شراب مو اوبه دي او سره له دې موږ هم ستا په څېر ژوندي یو. "
حضرت عبدالله (رض) چې دا خبره واورېده؛ نو د غم ورېځې پرې را خورې شوې، سر یې ښکته کړ او په ورځ ورځ یې وژړل، دومره یې وژړل، چې گرېوان یې په اوښکو لوند خیشت شو.

شام ته خبر راورسېد، چې ایراني "ابولوءلوء"(چې مریی و او له کوفې یې مدینې ته راووستی و) حضرت عمر(رض) د لمانځه پر مهال په توره وهلی او حضرت عمر(رض) هم "شپږ کسیزې شورا" ته دنده ورکړې، چې خلیفه وټاکي.

د شورا غړي دادي:

حضرت علي(ک)، حضرت عبدالرحمن عوف، حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت زبیر، حضرت طلحه او حضرت عثمان (رضی الله عنهم).

حضرت ابوذر(رض) له ځان سره وویل: پر الله قسم، تر حضرت علی(ک) بل څوك د خلافت وړ نه دی. و یې وغوښتل، مدینې ته ورشي او خپل نور ژوند له حضرت علي(ک) سره تېر کړي؛ لکه څنگه چې له رسول الله سره و، د خپلې ښځې او لور په ملگرتیا، له هغه کاروان سره یوځای شو، چې مدینې ته روان و؛ په لار کې یې د حضرت علي(ک) په اړه سوچونه کول او سوچ یې کاوه، چې حضرت علي(ک) به خلیفه شي او په اسلامي نړۍ کې به عدالت، مساوات او رورولي راولي؛ ډېر خوشحاله و، چې گڼې حضرت علي(ک) به خلیفه شي او مسلمانان به یې په خلیفه کېدو د روښانه راتلونکې څښتنان شي. په لار کې له هغه کاروان سره مخ شو، چې له مدینې څخه شام ته راتله. د حضرت ابوذر(رض) ټول خیالونه، هیلې او خوبونه خاورې

ايرې شول؛ پر زړه يې وېره او ډار کېناست؛ ځکه وا يې وريدل، چې د خلافت چارې يې حضرت عثمان بن عفان(رض) ته سپارلي دي.

له ځان سره يې وويل: له دې ځوك منكر نه دي، چې حضرت عثمان(رض) سپېڅلی سړی دی؛ خو په دې سړي کې هغه اراده، ښېګڼې او لرليدنه نشته، چې د حضرت عمر (رض) ځايناستی شي. نه پر الله چې هغه به د خلافت چارې سمبال نه کړای شي.

کاروان مدينې ته راورسېد او حضرت ابوذر(رض) بې ځنډه حضرت علي(ک) ته ورغی، سلام يې واچاوه او کېناست او له حضرت علي(ک) سره تر اوږدو خبرو اترو روسته پوه شو، چې حضرت عثمان(رض) ولې او څنګه خليفه شوی او ولې حضرت علي(ک) په ټينګه د خپل حق دفاع نه ده کړې.

حضرت ابوذر(رض) حضرت علي(ک) ته وويل: د الله رضا به داسې وه، موږ يې په رضا خوښ يو.

حضرت ابوذر(رض) په مدينه کې پاتې شو او ليدل يې چې پر حضرت عثمان(رض) خپل ټبر؛ امويان، ډېر ګران دي او په اسلامي دولت کې د اموي‌انو نفوذ ورځ پر ورځ ډېرېږي او حضرت عثمان (رض) ټول مهم منصبونه امويانو ته سپارلي. ليدل يې چې اسلامي خلافت پر "سلطنتي رژيم" اړول شوی؛ هرې خواته ځلبل او تشريفات دي او د تقوا او زهد پر ځای نوميالنه او نړۍ پالنه دود شوې ده. ليدل يې چې د رسول الله ياران، اوس هغه پخواني ياران نه دي؛ د ډېرو عقيدې او زړونه بدل شوي دي. حضرت زبير، حضرت طلحه او حضرت عبدالرحمن بن عوف (رضی الله عنهم) (هغوی، چې په شپږ

کسيزه شورا کې يې حضرت عثمان(رض) ته راى ورکړې وه) د حضرت عثمان(رض) په نوي حکومت کې د ډېرو مالونو او شتمنيو څښتنان شوي دي. حضرت سعد بن ابي وقاص(رض) په "عقيق" کې داسې کور جوړ کړی، چې سترګې ورته برېښي.

حضرت ابوذر(رض) چې دا ټولې نادودې ليدې؛ نو له مبارزې پرته يې هېڅ چاره نه ليده؛ نو راپاڅېد؛ بې له دې چې د وخت له چارواکي، د يوه خس هومره ووېرېږي؛ ځکه يقين يې درلود که چوپ پاتې شي؛ نو د رسول الله ټوله خواري په اوبو لاهو کېږي.

خلك يې زهد او تقوا ته رابلل او د چارواکي پر کړنو او سياستونو يې نيوکې پيل کړې. بله ورځ خبر شو، چې حضرت عثمان(رض) د خيبر کلا او د افريقا د مالياتو پينځمه برخه خپل تره "مروان حکم[١١]" ته وربښلې ده. درې سوه زره درهمه يې هم "حرث بن ابي العاص" ته او سل زره درهم يې "زيد بن جوت" ته ورکړي دي.

حضرت ابوذر(رض) په جومات کې ناست و او د قرآن شريف دا آيت يې لوسته:

((وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ[١٢]))

---

[١١] (دا کس او پلار يې، پېغمبراکرم له مدينې شړلي ول)

[١٢] (توبه – ٣٤ آيت)- او هغوی چې سره او سپين زر زېرموي او د الله په لار کې يې نه لګوي؛ نو له دردناك عذابه يې خبر کړه!

مروان ته خبر راورسېد، چې حضرت ابوذر(رض) پر هغه او د حضرت عثمان(رض) پرخلافت سختې نیوکې کوي. دا خبره یې حضرت عثمان(رض) ته ورسوله. حضرت عثمان(رض) هم خپل مریی (نائل) په حضرت ابوذر(رض) پسې ولېږه. حضرت ابوذر(رض) راغی او ساه یې لا نه وه سمه کړې، چې حضرت عثمان(رض) وویل: ابوذره! له کومو چارو دې، چې خبر شوی یم، لاس واخله!

حضرت ابوذر(رض): زما له کومو چارو خبر شوی یې؟

حضرت عثمان(رض): اورېدلي مې دي چې خلك زما پرخلاف پاڅون ته راپاروې.

حضرت ابوذر(رض): څنګه؟

حضرت عثمان(رض): اورېدلي مې دي، چې تل د «والذین یکنزون الذهب....» آیت په جومات کې لولې.

حضرت ابوذر(رض) ایا ته د رسول الله خلیفه، ما د قرآن له لوستو او له هغو سره له مبارزې منع کوې، چې د خدای پر حکم عمل نه کوي؟ پر الله قسم، چې ستا پر خپګان به له ځانه الله خوشحاله کړم؛ خو هېڅکله به ستا پر خوشحالۍ له ځانه، الله خپه نه کړم.

حضرت عثمان(رض) چوپ شو، چې اوس څه ورته ووایي. غلی شو او بل غږ یې هم و نه کړ؛ همداسې غلی پاتې و، چې حضرت ابوذر(رض) ترې په پیاوړي ایمان راووت.

حضرت ابوذر(رض) او حضرت علي(ک) به سره ډېر کتل، پر حضرت عثمان(رض) شپه و ورځ د حضرت ابوذر(رض) بې باکه او بې پروا نیوکې ډېرېدې. حضرت عثمان(رض) هم پلمه لټوله، چې

حضرت ابوذر (رض) وشړي او تل، ځان له دې غمه خلاص کړي.
يوه ورځ حضرت ابوذر(رض)، حضرت عثمان(رض) ته ورغی، چې "کعب الاحبار"[١٣] يې ترڅنګ ناست و، سلامشورې يې ورکولې، حضرت عثمان(رض)، کعب ته وويل: ستا په نظر خليفه ته جايز دي، چې له بيت الماله څومره مال، چې وغواړي واخلي او چاته يې چې خوښه وي، ورکړي؟

حضرت ابوذر(رض): نه! جايز نه دي.

کعب: زما پر خيال، چې جايز دي.

حضرت ابوذر(رض) کعب ته وويل: د يهودي زويه! ته موږ ته زموږ دين راښيې.

کعب له حضرت ابوذر(رض)، حضرت عثمان(رض) ته ګيله وکړه، حضرت عثمان(رض) وويل: ابوذره! په دې ورځو کې دې زه او زما ياران پوزې ته راوستي يو.

د حضرت عثمان(رض) او حضرت ابوذر(رض) ترمنځ حالات ترينګلي او کړکېچن شول؛ حضرت عثمان(رض) غوسه او په لوړ غږ حضرت ابوذر (رض) ته وويل: څه نور شام ته ولاړ شه، چې دلته دې و نه ګورم.

---

[١٣] (يهودی ملا، چې د حضرت عمر(رض) تر خلافت پورې نه و مسلمان شوی او اوس د حضرت عثمان(رض) سلاکار وزير دی)

## د بېوزليو په پلوي ټولنيزه مبارزه

حضرت ابوذر(رض) شام ته راورسېد، حضرت معاويه بن ابوسفيان ځان ته ماڼۍ جوړوله او په زرګونو مزدوران يې پر کار ګومارلي ول؛ خوشحاله و او په جامو کې نه ځايېده. حضرت ابوذر(رض) له هغه ځايه تېرېده، چې دا ننداره يې وکړه.

حضرت معاويه بن ابوسفيان ته ورغی، و يې ويل: که دا ماڼۍ د بيت المال له پيسو جوړوې؛ نو خيانت دې کړی او که له خپله جېبه يې جوړوې؛ نو اسراف دې کړی دی.

حضرت معاويه بن ابوسفيان له خجالته اوبه اوبه شو او د ځواب لپاره يې په خوله کې لاړې وچې شوې.

حضرت ابوذر(رض) ولاړ، سيده پر جومات ورننوت او کېناست، خلك ترې راټول شول او له حضرت معاويه بن ابوسفيانه يې ورته شکايتونه وکړل: «ډېر وخت کېږي، چې زموږ معاشونه يې نه دي راکړي.»

حضرت ابوذر(رض) خپه شو او يوه شېبه يې هېڅ و نه ويل. بيا ناڅاپه راپاڅېد او خلکو ته په وينا شو: دا څه روان دي او څه کېږي! زه خو پرې پوه نه شوم. پر الله قسم دا کارونه، چې دوی کوي، نه د الله په کتاب کې شته او نه د رسول الله په سنتو کې. پر الله قسم چې باطل ته حق ويل کېږي او پر رېښتنيو د دروغجنو نامې اېښوول کېږي. پانګوالو! له بېوزليو سره مساوات وکړئ!

((وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ. يُحْمَى عَلَيْهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوَى بِهَا جِبَاهُهُمْ وَجُنوبُهُمْ وَظُهُورُهُمْ[١٤]))

پانگواله! پوه شه چې مال دې درې شريکان لري: لومړی يې ستا برخليك دی، چې د مال په نابودۍ کې به درنه اجازه وا نه خلي، دويم يې ستا وارث دی، چې هره شېبه له الله غواړي، چې مړ شې او د مال څښتن دې شي او درېيم يې ته پخپله يې، که کولای شې؛ نو تر هغو دوو نورو ځان مزبوت کړه.

څښتن تعالی وايي: ((لَن تَنَالُوا البِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ[١٥]))

پانگواله! خو پردې خبره نه پوهېږې، چې انسان ومري؛ نو د هر کار له کولو بېوسې شي؛ خو هغوی چې داسې څه يې پرېښي وي، چې تل د خلکو په کار راشي يا عالم وي، چې له جلنه يې خلکو ته گټه ورسي او يا نېك عمله اولاد ولري، چې تر مرگ روسته د خېر دعا ورته وکړي. پېغمبراکرم وويل: پالونکي مې راته وويل: "که غواړې د مکې بطحاء درته پر سرو زرو واړوم، ورته مې وويل: نه خدايه! غواړم يوه

[١٤] (توبه ٣٤ او ٣٥ آيتونه)- او هغوی چې سره او سپين زر زېرموي او د الله په لار کې يې نه لگوي؛ نو له دردناك عذابه يې خبر کړه! (پر هغه) ورځ چې دا (زېرمې) يې د دوزخ په اور سختې سرې کړې وي او وچولي او اړخونه او شاگانې يې پرې وداغل شي.

[١٥] (آل عمران – ٩٢)- هېڅکله به د نېکۍ (حقيقت) ته و نه رسئ؛ خو دا چې خپل گران څيزونه (د الله په لار کې ) نفقه کړئ.

ورځ وږی یم او هغه ورځ ستا پر عبادت تېره کړم او بله ورځ موړ یم، چې ستا شکر پکې ادا کړم" تاسې نرمې او ورېښمینې جامې اغوندئ؛ حال دا، رسول الله به پر پوزي ویده کېده، تاسې ډول ډول خواړه خورئ؛ خو رسول الله یوه ورځ هم ګېډه مړه نه کړه. پانګوالو! په دې خبره پوه نه یاست، چې هره ورځ ځمکې ته دوه پرښتې راځي، یوه یې وايي: خدایه! هغوی ته اجر ورکړې چې نفقه ورکوي. هغه بله یې وايي: خدایه! هغوی هلاك کړې چې خپل مالونه ساتي.

پر بېوزلیو او نشتمنو د حضرت ابوذر(رض) خبرې ډېرې ښې لګېدې او ټول یې عاشقان شوي ول؛ خو پر پانګوالو یې خبرې ډېرې بدې لګېدې او پر هغوی یې رپ لګولی و.

جندب بن مسلمه فهري(رض) چې د حضرت ابوذر(رض) شاوخوا ته دا شور زوږ ولیده؛ نو له ځان سره یې وویل: دا څه پر غم اوښتي یو! او سیده د شام والي حضرت معاویه بن ابوسفیان ته ورغی، و یې ویل: ابوذر دربانديې د شام خلك راپاڅوي، که شام غواړې؛ نو خلك راټینګ کړه.

زور پرې راوړم؟ خلیفه ته شکایت وکړم که څنګه؟ که زور پرې راوړم؛ نو په خپلو لاسونو به مې دې اور ته پوکی ورکړی وي او که خلیفه ته شکایت وکړم، هغه به راته وايي، چې یو سړی مې درولېږه، هغه دې هم سمبال نه کړای شو. غوره به داوي چې له شامه یې لرې کومې جګړې ته ولېږم؛ ځکه ابوذر(رض) خو هسې هم د الله په لار کې په تورې وهلو پسې لېونی دی.

د شام والي هم خپل سوچونه وکړل او په حضرت ابوذر(رض) پسې يې يو ځوك ولېږه. حضرت ابوذر(رض) راغی، په غونډه کې حضرت ابوالدرداء، حضرت شداد بن اوس او عباده بن صامت (رضی الله عنهم) د حضرت معاويه بن ابوسفيان ترڅنګ ناست ول، حضرت ابوذر(رض) هم د هغوی ترڅنګ کېناست.

حضرت معاويه بن ابوسفيان خپلې خبرې منځ ته راواچاولې: ما حضرت عمر (رحمه الله عليه) ته د "قبرس" د فتح په اړه وړانديز وکړ، ورته مې وويل: دا سيمه موږ ته نږدې او فتح کول يې راته اسان دي؛ خو حضرت عمر(رض) زما د وړانديز په اړه، عمرو بن عاص(رض) ته وويل: د سمندر په اړه معلومات راکړه. عمرو بن العاص(رض) هم وويراوه او خليفه له دې کاره پښېمانه شو؛ خو اوس مې دا وړانديز حضرت عثمان(رض) ته وکړ. هغه وويل: چې څنګه د خلکو خوښه وي، هماغسې وکړئ، اوس ستاسې خوښه، چې په دې اړه څه پرېکړه کوئ؟

حضرت ابوذر(رض): د الله په لار کې يوه ورځ تېرول، تر هغو زرو شپو غوره ده، چې د بل لپاره يې تېروې، موږ د الله په لار کې جهاد ته رابلل شوي يو او تر دې به ښه خبره چېرې وي.

هلته ناستو نورو اصحابانو هم د حضرت ابوذر(رض) خبره ومنله. حضرت معاويه بن ابوسفيان، حضرت عبدالله قيس(رض) د بني خزاره د ټبر هم ژمنی يې د لښکر قوماندان کړ. بېړۍ چمتو شوې او د لښکر قوماندان د خوځېدو حکم وکړ؛ بېړۍ روانې شوې او د سمندر منځ ته ورسېدې، چې توپان شو او نژدې و، چې بېړۍ واړوي، مسلمانانو ځان

د مرگ په خوله کې وگانه او يو بل ته يې وويل، چې د ژوند روستۍ شيبې دي؛ خو څو شيبې روسته توپان کېناست، د سمندر څپې ارامې او الله هغوی د دې بلا له خولې راواېستل. حضرت ابوذر هم د توپان تر غلي کېدو روسته دا آيت ولوست: (( وَإِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِي الْبَحْرِ ضَلَّ مَن تَدْعُونَ إِلاَّ اياهُ[١٦]))

مسلمانان تر ستونزو روسته قبرس ته ورسېدل. جگړه ونښته، ننگياليو مسلمانانو د زمريو په څېر توره وهله. قبرسيان يې وځپل او ځينې يې تسليم شول او بری د مسلمانانو په برخه شو.

گړ بهرنی دښمن وځپل شو. نور څه کار نه و، چې حضرت ابوذر(رض) پاتې شوی وای. شام ته راستون شو، چې د کورنيو نادودو پر خلاف مبارزې ته دوام ورکړي او پر حضرت معاويه بن ابوسفيان او د هغه پر څېر پانگوالو(چې د ولس پر مال يې گېډه اچولې) ژوند تريخ کړي.

يو ملگری يې حضرت ابوذر(رض) ته ورغی، و يې ويل: ابوذره! د حضرت معاويه بن ابوسفيان خبرې دې نه هېښوي چې وايي: دا مال د الله مال دی او په دې خبرو غواړي، د خلکو نوم له بيت الماله لرې کړي او پر هر څه خپله گېډه واچوي.

حضرت ابوذر: ايا هغه په خپله دا خبره کړې ده؟

ملگری: هو! په څو ويناوو کې يې دا خبره کړې.

---

[١٦] (اسراء/ ٦٧)- او چې کله په سمندر کې پر تاسې (څه) ناورين راځي؛ نو له هغه پرته چې نور (د خپلو ستونزو د حل لپاره) رابلئ (ټول) هېروئ.

حضرت ابوذر (رض): په دې خبره يې په خدای که پرېږدم.
حضرت ابوذر (رض) ووت او حضرت معاويه بن ابوسفيان ته ورغی، د ننوتو اجازه يې وغوښته او ورننوت.
حضرت معاويه بن ابوسفيان، پر ورين تندي ښه راغلاست ورتهووايه؛ خو حضرت ابوذر (رض) تندی ور نه کړ او غوسه يې ووېل: معاويه! مطلب دې څه دی، چې د خلکو مال ته د الله مال وايې.
حضرت معاويه (په موسکا): د الله بنده! ولې موږ څه د الله بندگان نه يو؟ او دا مال څه د هغه مال نه دی؟
حضرت ابوذر (رض): بيت المال د خلکو مال دی او ته وايې چې د الله مال دی.
حضرت معاويه: سمه ده، تردې روسته به وايم، چې د خلکو مال دی.
حضرت ابوذر (رض) په تلو کې و، چې حضرت معاويه بن ابوسفيان ووېل: ابوذره! ته ولې ماته داسې مچيو چيچلی يې؟
حضرت ابوذر (رض): "فی" د خلکو حق دی او ته يې ځان ته کولای نشې؛ خو تا دا حق (فی) د رسول الله، حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهم) پرخلاف، په خپلو منگولو کې نيولی دی.
حضرت معاويه بن ابوسفيان: ته ولې داسې سوچ کوې؟ داسې نه ده، چې ته سوچ کوې، ما پر کوم مال گېډه نه ده اچولې؛ بلکې "في" مې خلکو ته ساتلې، چې په عمومي چارو کې يې ولگوم او په کوم ځای کې چې اړتيا وي، انفاق مې هم کړی دی.

حضرت ابوذر(رض): ته انفاق د الله د رضا لپاره نه کوې؛ بلکې غواړې خلك درته غني او سخي ووايي؛ لکه چې درته يې وايي.
معاويه! نشتمن ستا له لاسه نشتمن او شتمن ستا له لاسه شتمن دي.
حضرت معاويه: ابوذره! له دې کانو لاس واخله! ته خلك داسې انقلاب ته راهڅوې، چې الله خبر پايله به يې څه وي.
حضرت ابوذر(رض): پر الله قسم، څو چې پانګوالو خپل مال په مساوي توګه، پر خلکو نه وي اېشلی، له خپل کاره به لاس وا نه خلم.
دا خبرې يې وکړې او غوسه له مانۍ ووت.
حضرت معاويه بن ابوسفيان د چارې په لټه کې شو، چې څه ورسره وکړم؟ يوه شېبه روسته يې خپل مريي ته وويل، چې د درې سوو دينارو يوه کڅوړه راوړي. کڅوړه يې چې راوړه، و يې ويل: په منډه يې ابوذر(رض) ته ورسوه. مريي ځان حضرت ابوذر(رض) ته ورساوه ورته و يې ويل: دا کڅوړه حضرت معاويه بن ابوسفيان ستا لپاره راکړه.
حضرت ابوذر(رض) کڅوړې ته وليدل او پوه شو، چې دينار پکې دي؛ نو و يې ويل: که دا زما تنخوا ده؛ نو ولې يې تر اوسه پورې بې برخې کړی وم؛ نو وا به يې خلم او که ډالۍ وي؛ نو بېرته يې يوسه.
مريی همداسې ولاړ و او په تمه و، چې حضرت ابوذر(رض) به ترې کڅوړه واخلي.
حضرت ابوذر(رض) غوسه وويل: ځه ولاړ شه! او خپل بادار ته يې ورکړه. زه دينارونو ته اړتيا نه لرم او غوسه جومات ته ورننوت، چې خلك په تېره، نشتمن ترې راټول شول.

حضرت ابوذر (رض) په لوړ غږ: پانګوالو! الله چې څه درکړي، نفقه ترې ورکړئ! ددې نړۍ پر ژوند مه غولیږئ! په مالونو کې د نشتمنو برخه هم وکړئ. الله وايي: "بنيادم وايي: چې زما مال زما مال؛ خو ته بې له هغه چې خورې او له منځه ځي، هغه چې زړېږي، هغه چې ښښې او هغه چې درسره پاتې دي، نور څه هم لرې"؟

پانګوالو! لوی ښتن د پانګوالو مخالف دی. رسول الله وويل: "مرګ پر سرو او سپينو" دا خبره هغه وخت د رسول الله پر يارانو هم بده لګېدلې وه؛ لکه دا اوس چې پر تاسې هم بده ولګېده؛ نو ورته و يې ويل: نو کوم مال ولرو؟ حضرت عمر (رض) وويل: زه به له آنحضرت (ص) نه ددې خبرې پوښتنه وکړم. حضرت عمر (رض) ولاړ او پيغمبراکرم ته يې وويل: رسول الله! خبره دې پر يارانو بده لګېدلې او وايي چې کوم ښه دی؟

پيغمبراکرم وويل: ژبه د عبادت لپاره، زړه د شکر لپاره او يوه ښځه چې د ايمان په پوره کولو کې مرستياله شي.

د "في" مالونه د خلکو حق دی؛ خو حضرت معاويه بن ابوسفيان ځان ته ماڼۍ پرې جوړه کړې او ځان ته يې ساتندويان پرې نيولي دي، د خلکو پر مال يې ګېډه اچولې او د خلکو مال پر خپلو درباريانو بې خرته لګوي. حضرت معاويه بن ابوسفيان هېر کړي؛ چې د دوو جوړو جامو (يوه د اوړي او بله د ژمې) د کور لګښت او د الله د کور له زيارت پرته نور هېڅ هم ورته جايز نه دي. هغه هم بايد د نورو قريشو په څېر ژوند وکړي؛ نه تر هغوی لاندې او نه باندې. هغه بايد د "في" مال، د رسول الله، حضرت ابوبکراو حضرت عمر (رضی الله عنهم) په

ځېر پر خلکو واېشي. حضرت عمر (رض) ، چې حج ته ولاړ؛ نو د سفر لګښت یې ۱٦ دیناره شو، په راتګ کې یې خپل زوی ته وویل چې ډېر اسراف مې کړی دی. حضرت معاویه بن ابوسفیان اوس بې حسابه په زرونو زرونو دینار امویانو ته ورکوي او وایي، چې کمې مې ورکړې دي! تاسې په خپله سوچ وکړئ، هغه هم خلیفه و او دا هم خلیفه دی.

حضرت ابوذر(رض) پر وینا بوخت و، چې یوه وېرندوکي د ابوذر (رض) په غوږ کې وویل: د ځان خېر غواړه، بس دی، ډېر دې حضرت معاویه بن ابوسفیان وځانده!

حضرت ابوذر(رض): حبیب مې راته ویلي: "د حق خبره کوه، که ترخه هم وي او د خدای په لار کې له چا مه وېرېږه" او زه هم ځان ته هماغه دعا کوم، چې رسول الله ځان ته کوله: خدایه! له وېرې او کنجوسۍ مې وساتې. خدایه! د ژوند له مکره مې وساتې. خدایه! ځنکدن مې اسان کړې. سړي چې دا خبرې واورېدې، پر ځای کېناست او بل غږ یې هم و نه کړ.

حضرت ابوذر(رض) له ځان سره وویل: دومره وېره به څه کړم او بیا یې د خپلې وینا په ترڅ کې وویل: دوی ډول ډول خواړه خوري او دومره خوري چې بیا یې د هضم لپاره درمل کاروي؛ خو حضرت محمد (ص) له نړۍ ولاړ؛ خو یوه ورځ یې هم چا پر دسترخوان دوه ډوله خواړه و نه لیدل؛ کله به په میاشتو میاشتو هم د هغوی له نغري د نګولي پخولو لپاره لوګی نه پورته کېده.

یوه هېښنده وویل: نو څه یې خوړل؟

ابوذر(رض): کجورۍ او اوبه. رسول الله وویل: ګېډه ډېر ناوړه ځیز دی. انسان باید دومره وخوري، چې پرې وپایي او بس، ډېره مه خورئ؛ ځکه لمانځه ته مو ناغېړی کوي او جسم زیانمنوي او د ډېرو رنځوریو لامل دی؛ په خوړو کې ګوزاره کوئ؛ ځکه پردې کار، الله خوشحالیږي، اسراف نه کول، د بدن لپاره ګټور دي او انسان د الله عبادت ته چمتو کوي "؛ خو تاسې داسې ګومان و نه کړئ، چې ګنې دوی به څه نه لرل؛ ځکه یې نه خوړل! پر الله قسم، چې دوی هر څه لرل؛ خو د الله د رضا لپاره یې خپل خواړه نشتمنو ته ورکول؛ یوه ورځ "حفصې" بي بي (مدینې ته د غنایمو د رارسېدو پرمهال) حضرت عمر(رض) ته وویل: پلاره! ښه به نه وي، چې دا زړې جامې نورې بدلې کړې او خواړه دې هم ښه کړې؟ د خدای شکر دی، اوس خو مو الله رزق پراخ کړ.
حضرت عمر(رض) وویل: هېر دې کړل، چې رسول الله او حضرت ابوبکر(رض) به څومره په ستونزو ژوند تېراوه. حضرت عمر(رض) همداسې څو نورې خبرې وکړې او د پېغمبراکرم د ژوند دومره مثالونه یې وویل، چې حفصه بي بي یې په ژړا کړه. بیا حضرت عمر(رض) وویل: زه هم غواړم د هغوی په څېر ژوند وکړم؛ کېدای شي د هغوی په څېر نېکمرغه شم؟
رسول الله به له غنیمته پینځمه اخسته، نه یې زېرموله او نه یې ځان ته څه اخستل؛ بلکې ټوله یې د الله په لار کې وېشله، تردې چې د خپل خوراك، څښاك لپاره هم څه ورسره نه پاتېدل.

یوه ورځ "عایشې" بي بي رسول الله ورته ولید؛ نو په خپګان او ژړا یې وویل: یا رسول الله! ولې له الله نه غواړې، خواړه درکړي.
و یې ویل: عایشې! که له الله مې غوښتي وای، چې د نړۍ ټول غرونه راته سره زر کړه او راته یې په لمن کې واچاوه؛ نو دا کار به یې کړی وای؛ خو زه ددې نړۍ پر لوړه تر مړښت، پر فقر تر غنا او پر غم تر خوشحالۍ خوښ یم. عایشې! نړۍ د محمد (ص) او دهغه د کورنۍ وړ نه ده. څښتن تعالی له خپلو سترو پیغمبرانو پر صبر خوشحالیږي، نه د نړۍ پر مال او زه هم د نورو په څېر مکلف یم او دستور یې راکړی، چې صبر وکړم؛ لکه نورو پیغمبرانو چې وکړ. قسم پر هغه الله، چې له اطاعت پرته یې هېڅ چاره نه لرم، د نورو په څېر به صبر وکړم.

* * *

یوه ورځ جلام بن جندب (رض) د "قنسرین" حاکم، د شام والي ته ور روان و، چې د ماڼۍ مخې ته یې یو اوږد، خوار او غمن رنګی سړی ولید، چې په زور چغې وهي: تاسې ته د اور لمبې بلې شوې دي.
خدایه! هغوی هلاك کړې، چې پر نېکیو امر (امر بالمعروف) یې پرېښې دی. خدایه! هغوی هلاك کړې، چې له بدیو منع (نهی عن المنکر) پرېښې دی.
حضرت معاویه په مظلوم او غمجن غږ وویل: دا چغې چې وهي، پېژنې؟
جلام (رض): نه.
حضرت معاویه: هره ورځ همدا مهال دلته راځي او همدا چغې وهي.

بيا يې ساتندويانو ته وويل: ابوذر(رض) راولئ.

حضرت ابوذر(رض) يې په زور مانۍ ته راښكودلی دننه كړ او د والي مخې ته يې ودراوه.

حضرت معاويه: ای د الله او رسول دښمنه! هره ورځ راځې او دلته چغې وهې، كه بې د خليفه له اجازې بل څوك وژنم؛ نو هغه به ته وې او زه به ترې ستا د وژنې اجازه اخلم.

حضرت ابوذر(رض): زه د الله او د هغه د رسول (ص) دښمن نه يم. ته او پلار دې د خدای او د پيغمبراكرم دښمنان ياست، چې په ظاهره مسلمانان شوي ياست؛ خو په باطن كې هماغسې كافران ياست!

## حضرت ابوذر (رض) ربذې ته شړل کېږي

حضرت ابوذر (رض) هماغسې بې ځنډه او بې پروا خپلو نیوکو ته دوام ورکړ، خلك یې له پانګوالۍ منع کول، ویل یې: نن هم باید د رسول الله، حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهم) د خلافت په څېر، مالونه او پانګه پر ټولو خلکو په مساوي توګه ووېشل شي.

د حضرت ابوذر (رض) غوسو، راوېښوونکیو او انقلابي ویناوو، د پانګوالو د ماڼیو بنسټونه ولړزول او د نشتمنو په زړونو کې یې د پاڅون اور بل کړ او هره ورځ ددې امکان و، چې د امویانو د زبېښناك او پانګوالۍ نظام له بېخه ونړېږي. نشتمن پوه شوي ول، چې دوی څومره زموږ حقوق لتاړل شوي؛ نو پر خلاف یې په مبارزه لاس پورې کړ.

پانګوالو د انقلاب خطر احساس کړ او د شام والي ته یې د رسول الله له دې پاك، زړور او زاهد صحابي شکایت وکړ؛ والي هم په حضرت ابوذر (رض) پسې یو سړی ولېږه او هوډ یې کړی و، چې ځان نور له دې غمه بېغمه کړي، چې د شام پر پخوانیو او نویو پانګوالو یې اور لګولی و او د والي ټولنیز دریځ او مقام ته ګواښ و.

دنګ ابوذر (رض) په خواره او غنم رنګې څېره په مزبوتې ارادې او ایمان، د والي ماڼۍ ته ننوت؛ والي مخې ته ورمنډه کړه او په ورین تندي یې حضرت ابوذر (رض) ته ښه راغلاست ووایه او چوپړیالانو ته یې وویل، چې ابوذر (رض) ته خواړه راوړئ! دسترخوان خپور شو او ډول ډول خواړه پرې کېښوول شول. والي، حضرت ابوذر (رض)

خوړو ته راوباله؛ خو حضرت ابوذر(رض) و نه منله او والي ته يې وويل: د رسول الله پر ژوند مې خواړه، د اونۍ د جوارو يو کيلو اوړه وو، پر الله قسم، چې پيغمبراکرم مې بيا نه وي ليدلی، تر هغه به ډېر څه و نه خورم. بيا يې په خپګان والي ته وکتل و يې ويل: ولاړې بدل شوې، اوس چې دې وينم؛ نو سهار يو ډول او غرمه بل ډول جامې او رنګارنګ خواړه خورې؛ خو د رسول الله ژوند داسې نه و.
والي وويل: هغه وخت تېر شو، اوس موږ په پرديو سيمو کې يو او که داسې و نه کړو؛ نو ددې ځای خلك به راته په سپکه وګوري.
حضرت ابوذر(رض): زه به هېڅکله ځان بدل نه کړم، کېدای شي په هغه نړۍ کې، په تاسې کې، رسول الله ته تر ټولو نږدې ووسم؛ په خپلو غوږونو مې له رسول الله واورېدل، چې راته يې وويل: "هغوی به د قيامت پر ورځ راته نږدې وي، چې زما تر مرګ روسته اوښتي نه وي او هماغسې پاتې شوي وي؛ لکه څنګه چې زما پر ژوند ول." پر الله، چې ټول بې له ما بدل شوي ياست.
حضرت معاويه: ابوذره! شتمنو له تا راته شکايت کړی، چې بېوزلي يې پرخلاف پاڅون ته هڅوې.
حضرت ابوذر(رض): زه هغوی له پانګوالۍ منع کوم او بس.
حضرت معاويه: ولې؟

حضرت ابوذر(رض): ځکه د خدای خبره ده، چې وايي: (( وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ وَلاَ يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللّهِ فَبَشِّرْهُمْ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ[17]))

او زه هم ورته د دې سخت عذاب زېرى ورکوم.

حضرت معاويه بن ابوسفيان: دا آيت د کتابيانو په اړه نازل شوى دى.

حضرت ابوذر(رض): نه! داسې نه ده! هم زموږ په اړه دى او هم د کتابيانو.

حضرت معاويه بن ابوسفيان: زه دستور درکوم، چې له دې کانو لاس واخله.

حضرت ابوذر(رض): پر الله قسم، چې همداسې به خلك له پانگوالۍ منع کوم او زهد ته به يې رابولم او پانگوالو ته وايم، چې ځانونه د قيامت ورځې سختو عذابونو ته چمتو کړئ.

حضرت معاويه بن ابوسفيان: خېر به دې په دې کې وي، چې له دې کانو لاس واخلې.

حضرت ابوذر(رض): زما مبارزه به تر هغې جاري وي، څو مالونه په مساوي توگه پر خلکو نه وي وېشل شوي.

حضرت معاويه بن ابوسفيان پر لوړ او گواښنده غږ: ابوذره! پام دې وسه، چې دا کانې به زما او ستا په منځ کې اوبه خړې او بېلتون به راولي.

حضرت ابوذر(رض) په سړه سينه:

---

[17] (توبه – ٣٤)

((قُل لَن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَاكَتَبَ اللّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ[18]))

حضرت معاويه بن ابوسفيان حضرت ابوذر(رض) له خپلې ماڼۍ واېست، و يې ويل: ځوك د ناستې پاستې حق ورسره نه لري.

حضرت ابوذر(رض) سيده جومات ته ولاړ؛ اودس يې وکړ او د قرآن لوستو ته کېناست. په دې وخت کې د حضرت ابوذر(رض) وړه، وچه او ژيړمخې لور، چې زړې جامې يې پر تن وې راننوته او د پلار مخې ته ودرېده، ورته و يې ويل: پلار جانه! شتمن راته وايي، چې د پلار عايد دې يو فلس ته هم نه رسي.

حضرت ابوذر(رض): لورجانې! هغوی خپلو خبرو ته پرېږده، ستا پلار ته په دې ټولو سرو او سپينو کې بې له يوه فلسه بل څه نه رسي.

د حضرت ابوذر(رض) لور ولاړه او والي له خپلو کسانو سره په غوسه او دبدبه جومات ته راننوت، خلك د جمعې لمانځه ته راټول شول، والي ممبر ته وخوت او خلکو ته په وينا شو: مال، زما مال دی او "في" زما "فی" ده؛ نو خوښه مې چې چا ته يې ورکوم او چا ته نه.

په دې کې يو سړی راپاڅېد او په لوړ او زړور غږ يې وويل: داسې هم نو نه ده! مال زموږ مال دی او "فی" هم زموږ "فی" ده او چاچې ترې بې برخې کړو، په توره به يې د الله په نزد محاکمه کړو.

[18] (توبه/ ۵۱)- (ورته) ووايه: (( موږ ته هېڅ ( زيان يا ښېگڼه ) نه رسي؛ خو داچې څه الله راته ليکلي وي، الله زموږ پالندوی (او کارساز) دی؛ نو مؤمنان بايد يوازې پر الله توکل وکړي.

والي سر ټيټ کړ او هېڅ يې هم و نه ويل او له ځان سره يې وويل: له خبرو يې د ابوذر بوی راځي.

پوه شو چې بې له ابوذر(رض) بل چا نه دي رالمسولی( حضرت معاويه په چورت کې و، چې) له دې گستاخ سره څه وکړي، راشه ور و دانگه او دومره يې ووهه، چې نورو ته هم عبرت شي. نه! په زور کلي نه کېږي او د زور باد به د انقلاب تر ايرو لاندې سکروټې راتازه کړي.

حضرت معاويه، چې سياستوال او ځيرك و، له ځان سره يې وويل: غوره به دا وي چې ځان روڼ اندی وښيي او سملاسي چوپ پاتې شي، تر لمانځه روسته يې يو تن په دې ابوذري مسلمان پسې ولېږه، چې راغی؛ نو خلکو ته يې وويل: دې سړي زما مړ شوی ضمير راژوندی کړ، خدای دې يې د تل لپاره ژوندی لري. له رسول الله مې اورېدلي، چې" تر ما روسته به داسې واکمنان راشي، چې څوك به ورسره د مخالفت مړانه نه لري او هغوی به په دې چارو د بيزوگانو په څېر دوزخ ته ټوپونه ور وهي."

د جماعت لمونځ پای ته ورسېد، والي خپلې مانۍ ته راستون شو، له غوسې يې خپل غاښونه چيچل، غورېده او غړمبېده، چې څو خپلوان يې راننوتل.

هېښنده يې وپوښتل: ولې دې تندی تريو دی؟

حضرت معاويه: ابوذر پوزې ته راوستی يم، پر خدای که همداسې مو پرېښود، خلك به راباندې راپاڅوي.

_ زه به مو له دې غمه خلاص کړم.

حضرت معاویه: زور پرې اغېز نه لري.
ـ خېر دا ځل يې ما ته را پرېږدئ.
سړی د حضرت ابوذر(رض) کور ته روان شو، چې ور و رسېد، په زوره يې ور وټکاوه، ابوذر(رض) چې ور پرانست، سړی يې و نه پېژانده؛ خو پوه شو، چې له هغوی دی، چې جنگ په بيه اخلي.
حضرت ابوذر(رض): ستړی مه شې، خېر خو به وي.
ـ شر دی! د والي مه خندېږه که نه نو...
حضرت ابوذر(رض): پر ناسمه پته راغلی يې (په ملنډو) څه څه! کوم بل څوك له مرگهووېروه، زه له مرگه نه وېرېږم.
ـ گوره خېر به دې په دې کې وي، چې له خپلو کانو لاس واخلې، ولې والي له ځانه خپه کوې؟
حضرت ابوذر: د خدای له خپگانه به راته د والي خپگان ښه وي.
ـ گوره ولې ځان د بلا خولې ته وراچوې، په موږ پسې خلك مه راپاروه.
حضرت ابوذر(رض): والي ته مې هم ويلي او ته هم ښه غوږونه خلاص کړه: تر څو چې مالونه پر ټولو مسلمانانو په مساوي توگه نه وي وېشل شوي، زه لاس اخستونی نه يم. څه اوس دې لاس خلاص او توره دې تېره.
ـ موږ ښه پوهېږو، چې ته د چا لپاره لگيا يې، ښه به درته نشي، که له خپلو کانو دې لاس وانه خسته.
حضرت ابوذر(رض): پر الله قسم، څو بېرته د الله کتاب ته ورستانه نشئ، له خپلې مبارزې به لاس وا نه خلم.

سړی غلی شو، سر یې ښکته کړ او له ځان سره یې وویل: په رښتیا، د حق و باطل په دې سیالۍ کې موږ په زور، د ابوذر(رض) ملا نشو ماتولای؛ نو راشه له چلوټې کار واخله، بډې ورکړه، کېدای شي و یې مني.
ـ ابوذره! ولې سادګي کوې، علي(ک) خو درته نه خېر در رسولای شي او نه درڅخه شر تمبولای شي؛ خو حضرت معاویه بن ابوسفیان به دې په سرو او سپینو کې پټ کړي.
ابوذر(رض): زه ستاسې مال ته اړتیا نه لرم. ما ته هماغه د الله خوښي بس ده.
ـ خوښه دې خپله! په دې کانو، پخپلو لاسونو ځان ته قبر کنې.
ابوذر(رض): تر دې ژوند، مرګ راته ډېر غوره ده.
د امویانو لخوا هره ورځ، له هر لوري، پر حضرت ابوذر(رض) دباو ډېرېده، تردې چې معاش یې هم پرې بند کړ؛ خو حضرت ابوذر (رض) له خپلې مبارزې لاس وا نه خست او یوه شېبه یې هم ظالم ته سر ټیټ نه کړ او له حکومته یې د دین پرده لرې کړه؛ یوه ورځ یې په خپله وینا کې وویل: امویان ما له مرګ او نشتمنۍ ډاروي، پر الله قسم، چې له ژونده پر مړینې خوښ یم، پر نشتمنۍ له شتمنۍ ډېر خوشحاله یم. پانګوالو او شتمنو! د خدای درکړي مالونه د خدای پر بندګانو په مساوي توګه و اېشئ او مه وایئ، چې د الله لاس تنګ دی، الله نشتمن او موږ شتمن یو.
((إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ وَاللَّهُ عِندَهُ أَجْرٌ عَظِيمٌ. فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا استَطَعْتُمْ وَاسمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنفِقُوا خَيراً لِأَنفُسِكُمْ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ

فَأُولئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضاً حَسَناً يُضَاعِفْهُ لَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ شَكُورٌ حَلِيمٌ. عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ[19]))

هغه ورځ حضرت ابوذر(رض) همداسې خپلو هڅو ته دوام ورکړ، چې د شپې کور ته روان و؛ نو ور یاد شول، چې لور یې په کټ کې رنځوره پرته ده، مبارزې ترې خپله لور هم هېره کړې وه، له زړه پرې د "إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ " آیت غبر وشو، په سوچ کې روان و، چې کور ته راورسېد؛ نو ګوري، چې لور یې پرته او مور یې ورته ناسته ده. د حضرت ابوذر(رض) مېرمن، چې د لور رنځورۍ وارخطا کړې وه، د حضرت ابوذر(رض) په لیدو په ژړا شوه. حضرت ابوذر(رض) چې د خپلې ښځې دا حال ولید؛ سترګې یې له اوښکو ډکې او په ژړا شو، په سختۍ یې خپلې سترګې پټې کړې او له ځان سره یې وویل: الله یو دی او هغه ته بېرته ورستنېږو، ولاړ او د کوټې په ګوټ کې کېناست.

د حضرت ابوذر(رض) د کور پر اسمان د غم او چوپتیا ورېځې راخورې شوې او وریاد شول، چې د قریشو غلو، د اسلام تر راووړو مخکې پر مدینه یرغل وکړ او په دې یرغل کې، د حضرت

---

[19] (تغابن/١٨-١٥)- مالونه او اولادونه مو یوازې [د] ازمېښت [وزلې] دي او دا الله دی، چې ستره بدله ورسره ده؛ نو تر خپلې وسې [خپل ځانونه] د الله له [عذابه] وساتئ او واورئ او اطاعت وکړئ او [د الله په لار کې] نفقه ورکړئ، چې درته غوره ده او څوک چې د خپل ځان له کنجوسۍ او حرصه وژغورل شي؛ نو یوازې همدوی بریالي دي. که الله ته غوره پور(قرض الحسنه) ورکړئ؛ نو هغه به څو ګرایه ډېر درکړي او و به مو ښښي او خدای ډېر مننندوی او زغمناک دی. (هغه) پر پټو او څرګندو پوهېږي [او] بریمن حکیم دی.

ابوذر(رض) یو زوی هم ومړ او د هغه حبیب ورته د زوی د مړینې تسلي ورکوله، په شونډو یې ویل: مړینې ته یې زېږولی و او ړنګولو ته یې ابادي کړې ده.
پر شتمنو د حضرت ابوذر(رض) نیوکې، ورځ تر بلې ډېرېدې، چې دا کار د حضرت معاویه بن ابوسفیان د حکومت لپاره ستر ګواښ ګڼل کېده. حضرت معاویه بن ابوسفیان هم په دې سوچ کې و، چې خپل ټولنیز دریځ او حکومت له دې ګواښه وژغوري. سوچ ورغی، چې راشه تور پرې ولګوه او خلکو ته ووایه، چې حضرت ابوذر(رض) ځکه دا کارونه کوي، چې پر خپلو مالونو او زېرمو پرده واچاوي. ( د مجاهد ځانګړې وسله تقوا او د منافق توره ده) راشه بې وسلې یې کړه؛ نو څنګه به دا کار وکړي؟ په سوچ کې ډوب شو، چې ناڅاپه سوچ ورغی او خپل چپړاسي ته یې زر دیناره ورکړل، چې ابوذر(رض) ته یې ورکړي. شپه تېره شوه او سهار شو. حضرت معاویه بن ابوسفیان، چې لمونځ وکړ؛ نو خپل چپړاسي ته یې وویل: ولاړ شه او ابوذر(رض) ته ووایه، چې حضرت معاویه بن ابوسفیان هغه دینار ماته د بل چا لپاره راکړي وو؛ خو ما په تېرو کې تا ته درکړل او پردې کار یې دومره ووهلم، چې ټول بدن مې خوږېږي. سړی حضرت ابوذر(رض) ته ورغی او دا خبره یې ورته وکړه.
حضرت ابوذر(رض) وویل: زویه! حضرت معاویه بن ابوسفیان ته ووایه: کوم دینار، چې دې رالېږلي وو، یوه شپه یې هم زما په کور کې نه ده کړې او څو ورځې مهلت راکړه، چې له خلکو یې بېرته راټول کړم.

حضرت معاویه بن ابوسفیان پوه شو، چې حضرت ابوذر هغه دینار شپه پر شپه پر خلکو وېشلي او یوه شېبه یې هم له ځان سره نه دي ایښي او یقین یې وشو، چې حضرت ابوذر(رض) ، چې هره خبره کوي، ټینګ پرې ولاړ دی او د حضرت معاویه بن ابوسفیان دا غشی هم پر هدف و نه لګېد.

حضرت معاویه بن ابوسفیان د حضرت ابوذر(رض) د مبارزې د مخنیوي لپاره، له نرمۍ، زور، پیسو او... کار واخست؛ خو څه ګټه یې و نه کړه. بله هېڅ چاره ورسره نه وه پاتې، بې له دې چې له شام نه یې وشړي؛ نو د همدې کار لپاره یې دربیم خلیفه ته ولیکل:

(( د ابوذر(رض) شاوخوا ته ډېر خلك راټول شوي، چې زه یې پوزې ته راوستی یم او زما چار یې ستونزمن کړی دی. له دې وېرېږم، چې زما په ځېر پر تا هم خلك راپانځوي، که شام غواړې؛ نو ابوذر(رض) له دې ځایه لرې کړه))

خلیفه په ځواب کې ولیکل: " ددې انقلاب د اور لوګي زما سترګې هم سوځولي، لږه ده اور راباندې ولګوي، ته ځان د سندرې مه سر کوه او پر یوه ډنګر ځاروي یې کېنوه او داسې سړی ورسره کړه، چې پر لار یې سم وزبېښې، و یې ځوروي او ما ته یې را و رسوي. ستا پام دې د شام پر خلکو وي، له سړې سینې کار اخله؛ ځکه که له خلکو سره دې کار و نه لاره؛ نو هغوی به هم له تا سره کار و نه لري. "

حضرت معاویه بن ابوسفیان ته د امیرالمؤمنین لیك راورسېد.

بېوزله او نشتمن د حضرت ابوذر(رض) له شړلو خبر شول، چې ډېر پرې خپه ول، له سترګو یې د اوښکو رودونه روان ول؛ ځکه یوازې

حضرت ابوذر(رض) د ظلمونو په مقابل کې د دوی سر پناه و او د حضرت ابوذر(رض) په تلو به بیا دوی زېښي. خلکو غوښتل د حضرت ابوذر (رض) د تلو مخنیوی وکړي؛ خو ګټه یې نه درلوده. حضرت ابوذر (رض) په مینه او وفا خلکو ته کتل، و یې ویل: خلکو! زه نفاق او فتنه نه غواړم. یوازې څه چې ستاسې په ګټه ول، درته مې وویل، خلکو! د خدای شکر وباسئ (خلکو وویل: خدایه شکر) اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده و رسوله (خلکو هم ورپسې تکرار کړه) خلکو! زه ګواهي ورکوم، چې قیامت راتلونکی دی، دوزخ او جنت شته او څه چې د خدای له لوري راغلي، ایمان پرې لرم، تاسې ټول شاهدان وسئ.

(خلکو په یوه غږ سره) موږ شاهدان یو. څوك چې پردې ګروهه ومري او د ګناهکارانو او ظالمانو پلوي یې نه وي کړې، د خدای او پیغمبراکرم د شفاعت زېری پرې کوم.

خلکو! خیانت مو چې ولید؛ نو د لمونځ او روژې په څېر درباندې فرض دی، چې مخنیوی یې وکړئ، د خدای په خپګان له ځانه خپل رئیسان، وزیران او پاچایان مه خوشحالوئ، که خیانت مو ترې ولید؛ نو ترې لرې شئ او ځان ته یې مه پرېږدئ؛ که څه، وشړل شئ او یا وځورول شئ که داسې مو وکړل؛ نو خدای به مو له ځانه راضي کړی وي، چې هغه ډېر ستر او د لوی مقام څښتن دی او موږ ته نه ښایي، د خدای د بنده په خوشحالۍ، الله خپه کړو.

حضرت ابوذر(رض) یې په کجاوه کې پر یوه خواره اوښه سپور کړ او پینځه وحشي اروپایي (د سیسیل جزیرې) مریان یې ورسره کړل. دوی

ته حضرت معاويه بن ابوسفيان ويلي وو، چې اوښه به په منډو ځغلوئ او پر لار به يوه شېبه هم دمه نه ورکوئ. هغوی هم د خپل واکمن په وينا؛ اوښه دومره په ځغاسته بوتله، چې پر لار، د حضرت ابوذر ورنو پوټکي واچاول او سرې وينې ترې روانې شوې.

پر لار د دې وحشيانو ناوړه چلن او د حضرت محمد (ص) په لاسونو جوړه شوې د برابرۍ، مساوات او رورولی د ټولنې د ړنګېدو غمونو لاسونه سره يو کړل او حضرت ابوذر (رض) يې غمجن او نهيلی کړی و. اوښه همداسې روانه وه، چې ځان يې وپوښت: ولې دربانديې دومره سختي راغلې ده؟

زړه يې وويل: ځکه د الله پر کتاب عمل کوې او خلك نېکۍ ته رابولې.

په همدې وخت کې ورياد شول، چې يوه ورځ له خپل حبيب (صلی الله عليه و آله وسلم) سره په مدينه کې روان و، ورته و يې ويل: ((زما تر مرگ روسته به ډېر ژر د ستونزو او بلاگانو په سمندر کې لاهو شې)) او حضرت ابوذر (رض) وپوښت: دا سختي به راباندې د الله په لار کې راځي؟

رسول الله وويل: هو! د دې خبرو په رايادولو يې له زړه د صبر سمندر جوړ شو او ځومره سختۍ، چې پرې ورتلې، په دې سمندر کې، د يوه څاځکي په څېر ورکېدې.

د اشرافي نظام پر خلاف خپلې مبارزې ته سوچ وړی و.انگېرله يې چې له اسمانه په ورېځو کې خپل حبيب په خپله ښاېسته او زړه وړونکې څېره راگوري، ورته د خوښۍ او آفرين موسکا کوي. دې

سوچونو د حضرت ابوذر(رض) ذهن دومره بوخت کړی و، چې پر لار ددې وحشيانو پر ناوړه چلن بېخي پوه نه شو. د خپل حبيب او ګران مشر د خبرو رايادول، د حضرت ابوذر(رض) پر ټپونو د شفا ملهم و؛ ځکه د رسول الله پردې خدای مين صحابي باندې، چې څومره سختۍ راتلې، اراده يې نوره هم غښتلېده.

ماښام و، چې حضرت ابوذر(رض) يې مدينې ته راورساوه، د اذان غږ يې واورېد او روح يې تازه شو. د "سلام" د غره غاړې ته څو تنه ناست ول، حضرت ابوذر(رض) ورباندې غږ وکړ، ورته و يې ويل: د مدينې خلك له تاريخي او لوی انقلابه خبر کړئ.

همداسې يې پر اوښه سپور کړی و، چې د مدينې غره ته ورنږدې شول، هلته حضرت علي(ک)، حضرت عثمان(رض) او څو تنه نور ولاړ ول.

خليفه: خدای دې ټول له تا وساتي جنيدب!

ابوذر(رض): زه جنيدب يم او پېغمبراکرم راباندې د عبدالله نوم اېښی، چې راباندې ډېر ګران دی.

خليفه: ولې دې د شام خلك پوزې ته راووستي ول.

ابوذر(رض): مالونه يې ډېرول او زېرمول؛ ځکه ما ورباندې د دوزخ د اور زېری کاوه.

خليفه: ته ګومان کوې، موږ وايو الله نشتمن دی او موږ شتمن يو؟

حضرت ابوذر(رض): که داسې سوچونه مو نه کول؛ نو ولې د الله مال د الله پر بندګانو نه اېشئ؛ څو ځل مې تاته وويل، راباندې دې د خائن

نامه کېښوده، څو ځل مې ستا هغه انډيوال( حضرت معاويه) ته نصيحت وکړ، هغه هم راباندې ستا په څېر د خاين نامه کېښوده.
خليفه: ته دروغجن يې او دروغ وايې، ته نفاق او اخ و ډوب غواړې.
تا د شام خلك پاڅون ته لمسولي دي.
حضرت ابوذر(رض): د خپلو دوستانو[حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهم)] په څېر حکومت جوړ کړه، چې څوك درپسې را پا نه څي.
خليفه: بې موره سړيه! ستا يې پر دې چارو څه؟
حضرت ابوذر(رض): په دې چار ما "پر نېکيو له امر او له بديو له منع" منع کوې.
د خليفه څېره له غوسې سره شوه او چغه يې کړه: څوك دې ماته ووايي، چې زه له دې دروغجن بوډا سره څه وکړم؟ له اسلامي هېواده يې وشړم و يې وهم، مړ يې کړم او که.... هغه په مسلمانانو کې نفاق راولي.
حضرت علي کرم الله وجهه: زه به درته هغه څه ووايم، چې د آل فرعون مؤمن ويلي ول:
«که دروغجن وي؛ نو ځان ته به دروغجن وي او که رښتيا وايي او څه يې چې ستا په اړه وړاندوينه کړې وه؛ نو په تا پورې هم اړه لري.»
خليفه پر ناوړو ټکيو د حضرت علي(ک) ځواب ورکړ، ورته و يې ويل: تا او ابوذر لاسونه يو کړي دي.
د حضرت علي(ک) او خليفه ترمنځ شخړه شوه او خبره يې ان جنگ ته ووته، خلکو منځگړتوب وکړ او دوی يې ارام کړل، په پای کې

خليفه وويل: زه به خلك له ابوذر(رض) سره له ناستې پاستې او معاملې منع کړم.

حضرت ابوذر(رض) ولاړ او خلکو د خليفه د دستور پر خلاف نه يوازې له حضرت ابوذر(رض) سره ناسته پاسته پرې نه ښوده؛ بلکې ورځ پر ورځ ورټوليدل او داسې په مينه يې د هغه خبرې اورېدې؛ لکه په لومړي ځل يې چې ليدلی وي.

خليفه دستور ورکړی و، چې څوك حق نه لري، له حضرت ابوذر(رض) فتوا واخلي؛ خو هغه به هره ورځ فتواوې ورکولې؛ يوه ورځ په جومات کې ناست و، چې يو سړی راغی او و يې پوښته: چارواکيو ډېر ماليات ټاکلي دي؛ نو داچې ډېر ماليات ور نه کړو، جايز دی، چې څه مالونه ترې پټ کړو؟

حضرت ابوذر(رض): نه! دا کار مه کوئ او چې راغلل ورته ووايه، چې څومره مو حق وي، هومره واخلئ او حق نه لرئ، ډېر ماليات واخلئ.

په دې کې يو ځوان راغی او حضرت ابوذر(رض) ته يې وويل: ابوذره! ته اميرالمؤمنين له فتوا ورکولو نه يې منع کړی؟

حضرت ابوذر(رض): ته د دولت څړی يې؟ پر الله قسم، که توره راته پر ورمېږ کېږدئ، هغه خبرې مې چې له رسول الله اورېدلې وي، خلکو ته به يې ووايم.

حضرت ابوذر(رض) خپله مبارزه روانه وساتله او د پانګوالو او د مريیوالو پر خلاف يې نيوکې تونډې کړې او خلك يې مساوات ته رابلل او له طبقاتي اړپېچه يې ژغورل.

درېیم خلیفه(رض) وویل: هغه احادیث او آیتونه مه وایه، چې نشتمن په شتمنو پسې راپاڅوي؛ خو حضرت ابوذر(رض) د پخوا په څېر، خپلې مبارزه روانه وساتله.

یوه ورځ خلیفه ته خبر ورسېد، چې ډېر خلك پر حضرت ابوذر(رض) راټول شوي او پاڅون ته یې لمسوي؛ څو تنه یې په حضرت ابوذر(رض) پسې ولېږل.

حضرت ابوذر(رض) راننوت، "کعب الاحبار" او څو تنه هلته ناست ول، چې خلیفه(رض) وویل: ابوذره! بس دی، نور دې دا هڅونې پرېږده! کله به له دې کانو لاس اخلې؟

حضرت ابوذر(رض): هله چې نشتمن له شتمنو خپل حق واخلي.

خلیفه خپلو شاوخوا ناستو ته په کتو وویل: ستاسې په گروهه، چا چې د خپل مال زکات ورکړی وي، نور څوك یې هم په مال کې برخه لري؟

کعب الاحبار: نه امیرالمؤمنینه! د مال زکات یې چې ورکړی وي، نوره یې خپله خوښه ده، چې د ختو کور جوړوي، که د سرو، د چا پکې حق نشته.

حضرت ابوذر(رض)، په غوسه پخپله کونټې «کعب الاحبار» وواهه، ورته و یې ویل: دروغ وایې! د یهودي زویه! او بیا یې ورته دا آیت ولوست:

((لَیْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللّهِ وَالْیَومِ الآخِرِ وَالْمَلاَئِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِیِّینَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْیَتَامَى وَالْمَسَاكِینَ وَابْنَ الْسَّبِیلِ وَالسَّائِلِینَ وَفِي

الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَاساءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَاس أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوْا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ[٢٠] ))

گورې نه چې د زكات او له خپلو خپلوانو، پلار مړيو، فقيرانو او مريانو سره د مرستې ترمنځ يې توپير راوستی او دا کار يې تر زكات ښه ګڼلی؛ نه ګورې چې د مال له زېرمولو يې منع کړي يو او د خېر په لار کې يې انفاق ته رابللي يو.

خليفه(رض): ګوره ابوذره! مورږ خو خلك څه په زور نه شو متقي کولای. زما دنده ده، چې د الهي احكامو له مخې قضاوت وکړم او خلك په منځلارۍ کې وساتم.

ابوذر(رض): مورږ به تر هغه د شتمنو ګرېوان نه پرېږدو، چې له خپلو ګاونډيانو او ورونو سره نېکي او زړه سوی و نه کړي.

كعب: که چا زكات ورکړی وي، نور يې په مال کې د چا حق نشته.

---

[٢٠] (بقره: ١٧٧)- نېکي (يوازې) دا نه ده، چې تاسې ( په لمانځه کې) خپل مخونه ختيځ او(يا) لويديځ لوري ته واړوئ؛ بلکې نېکي داده چې (چا) پر الله او د قيامت پر ورځې او پرښتو او (اسماني) کتاب او پېغمبرانو ايمان راووړ او (خپل) مال يې ورته له ګرانښت سره سره، پر خپلوانو او پلارمړيو، مسکينانو، پرديسانو، درويزګرو او مريانو ته ورکړ او لمونځ يې وکړ او زكات يې ورکړ او(همدا راز) پر ژمنو درېدونکي وي او د تنګسې او رنځوريو او د جګړې په ډګر کې صبر کوونکی وي. همدوی رېښتوني دي (او وېناوې يې له خپلو ګروهو سره همغږې دي؛ ) او همدا پرهېزګاران دي.

حضرت ابوذر (رض) بیا په غوسه کعب په خپله کونتۍ ټپل واهه، و یې ویل: که څوك د خلکو پر مال ګېډه واچاوي او د خلکو مال ناحق وخوري او بیا ددې مال زکات ورکړي او خپل فرضیات هم سر ته ورسوي، ته ورته مسلمان وایې؟ دا یې وویل او غوسه ووت.
داچې خلیفه (رض) د حضرت ابوذر (رض) زړه لاس ته راووړي، خپل مریي ته یې دوه سوه دیناره ورکړل، و یې ویل: دا ابوذر (رض) ته ورکړه، ورته ووایه، چې پر خپلو پلویان یې ووېشه.
ابوذر (رض): ایا خلیفه ټولو مسلمانانو ته همدومره ورکړي دي؟
مریی: نه.
ابوذر (رض): زه هم د نورو په څېر یو مسلمان یم، څومره چې ماته رارسي، نورو ته دې هم ور و رسي.
مریی: خلیفه (رض) ویلې چې دا زما خپل مال دی او حرام پکې نه دي ګډ شوي او زه تاته یوازې حلال مال درلېږم.
ابوذر (رض): زه دې مال ته اړ نه یم، زه نن تر ټولو شتمن یم.
مریی: هېښنده سړی یې، ما خو ستا په کور کې هېڅ هم و نه لیدل.
ابوذر (رض): په دې شکاره (ټوکرۍ) کې د څو ورځو ډوډۍ پاتې ده، چې بس مې ده، زه به دینار څه کړم؟
خلیفه (رض) څو ځل دا کار وکړ؛ خو ګټه یې نه درلوده؛ یوه ورځ یې سل دینار خپل مریي ته ورکړل و یې ویل: که تا دا دینار ابوذر (رض) ته ورکړل؛ نو ازاد یې.
مریي ورته دینار راووړل؛ خو و یې نه منل.

مريي وويل: دا دينار رانه واخله، که و يې منې؛ نو زه به له مريينې ازاد شم.
ابوذر(رض): ته به ازاد شې او ما به بنده او مريی کړې.

* * *

يوه ورځ يې خليفه(رض) ته د حضرت عبدالرحمن بن عوف(رض) ميراث مخې ته کېښود، دا مال دومره ډېر و، چې د خليفه(رض) او هغه بل سړي ترمنځ دېوال شو، چې يو بل ته نه ښکارېدل.
خليفه(رض): خدای دې حضرت عبدالرحمن بن عوف(رض) وبښي؛ صدقه يې ورکوله، ښه مېلمستيا يې ورکوله او داچې ګورې، ترې پاتې شوي دي.
کعب: تاسې ګل خبره وکړه، امير المؤمنينه! په حلاله يې وګټله او په حلاله يې وخټله او حلال ترې پاتې شوي، الله د نړۍ او اخرت خېر ور پر برخه کړی دی.
حضرت ابوذر(رض) له دې پېښې خبر شو، غوسه له کوره راووت او په کوڅو کې يې کعب لټاوه. پر لار يې د اوښ يو هډوکی ومونډ، را وا يې خست او په کعب الاحبار پسې روان شو. حضرت ابوذر(رض) د کعب په لټه کې و، چې کله به ګوتو ته ورځې. کعب هم چې وليدل، چې حضرت ابوذر(رض) ورپسې دی؛ نو دوه يې خپلې او دوه يې پردۍ کړې او پښې يې له هغه ځايه سپکې کړې. خليفه(رض) ته ولاړ، حضرت ابوذر(رض) ورپسې ورغی، د کعب سترګې، چې پر حضرت ابوذر (رض) ولګېدې، د خليفه شاته پټ شو، حضرت

ابوذر(رض) هم ورغی او له واره يې د كعب سر، په هډوكي مات كړ او چغه يې كړه: د يهودي زويه! ته هغه سړي ته چې مړ شوی او دومره مال ترې پاتې دی، وايې چې الله د نړۍ او اخرت خېر ورکړی و، ته د الله ذمه واري كوې؟ يوه ورځ پېغمبراكرم "احد" ته روان و، زه هم ورسره وم، راته يي وويل: ابوذره!

ما وويل: درځار يا رسول الله!

راته يې ويل: پانګوال په هغه نړۍ کې ړانده دي.

بيا يې راته وويل: ابوذره! ما وويل: درځار يا رسول الله!

راته يې وويل: خوښ نه يم، د احد هومره مال د الله په لار کې نفقه کړم او مړ شم او رانه دوه قيراطه (نيم دانګ) پاتې شي".

ما وويل: يا رسول الله! دوه قنطاره! (سل کيلو)؟ !

راته يې وويل: نه دوه قيراطه! بيا يې را ته وويل: زه کم غواړم او ته يې راته ډېروې.

رسول الله داسې وايي او ته د يهودي زوی راځې او وايې چې له عبدالرحمن بن عوف(رض) پاتې مال حلال دی؛ ته ما ته داووايه، چې عبدالرحمن بن عوف(رض) دومره مال حال له کومه کړ؟ خدای ورته له اسمانه په لمن کې اچولی و، که نه، د خلکو پر مال يې ګېډه اچولې وه؟ پر الله قسم، چې د قيامت پر ورځ به ددې مالونو څښتنان ډېر پښېمانه وي؛ پېغمبراکرم وايي: ((هر مال، که سره وي، که سپين، که کنجوسي پرې وشي، د قيامت پر ورځ به يې د مالك لپاره اور وي؛ خو دا چې مالك يې د الله پر بندګانو واېشي. ))

ايا حضرت عبدالرحمن بن عوف(رض) ددې مال څښتن نه و؟

کعب: ته دروغ وایې او څوك چې ستا په څېر گروهه ولري، دروغجن به وي.
خلیفه(رض) له کعب څخه وغوښتل، چې د حضرت ابوذر(رض) پر دې کړنو ورو خپه نشي او حضرت ابوذر(رض) ته یې وویل: بس دی، نور بس دی! پوزې ته دې راوستم، ځه ورك شه، چې مخ دې و نه گورم، زما او ستا نوره په یو ځای کې گوزاره نه کېږي.
ابوذر(رض): خلیفه! ارام شه! تا پېغمبر اکرم (ص)، حضرت ابوبکر او حضرت عمر(رضی الله عنهم) نه ول لیدلي؟ اوس ته په خپله وگوره، چې کوم کارونه دې ورسره اړخ لگوي؟ د هغوی په څیر یې که نه؟
خلیفه(رض): غوسه وویل: ځه ولاړ شه! زما له هېواده ووځه؛ بلکې زما له گاونډه هم ووځه.
ابوذر(رض): چېرې ولاړ شم.
خلیفه (رض): چېرې چې ځې ولاړ شه!
ابوذر(رض): مکې ته به ولاړ شم.
خلیفه: نه! هلته را څخه نشې تلای.
ابوذر(رض): ته مې د الله د کور له زیارته منع کوې.
خلیفه(رض): هو! همداسې ده.
ابوذر(رض): شام ته به ولاړ شم.
خلیفه(رض): د څه لپاره مې له شام نه راغوښتی یې چې بېرته دې ورولېږم؟
ابوذر(رض): عراق ته به ولاړ شم.

خلیفه(رض): نه! د عراق خلك درنه ډېر د دولت تر چارواکیو تنگ دي.
ابوذر(رض): مصر ته به ولاړ شم.
خلیفه(رض): بې له دې ځایو کوم بل ځای ته ولاړ شه.
حضرت ابوذر(رض): بې له دې ځایونو، بل یوځای ته هم نه ځم. که خپله خوښه مې وای، له مدینې به نه وای خوځېدلی، اوس دې خپله خوښه، چېرې چې مې لېږې؟
خلیفه (رض): زه به دې بېدیا ته وشړم.
حضرت ابوذر(رض): یعنې تر ښاري ژوند روسته مې بېرته د بېدیاوو عرب کوې.
خلیفه(رض): همداسې درسره کوم.
حضرت ابوذر(رض): که داسې وي؛ نو د "نجد" بېدیا ته به ولاړ شم.
خلیفه(رض): نه! تا باید ډېر لرې وشړم او باید ژر تر ژره له دې ښاره ووځې او همدا نن باید ووځې؛ زه دې "ربذې" ته شړم؛ (خپلو درباریانو ته): ابوذر وباسئ، پر شاتوري اوښه یې سپور کړئ او څومره، چې کولای شئ، په لار کې یې وځوروئ او څوك حق نه لري مخې ته یې ورشي؛ روسته به گورو، چې الله څه غواړي.
مروان او د دربار نورو غوړه مالانو، حضرت ابوذر(رض) په ټېلو وهلو له درباره واېست.

# حضرت ابوذر (رض) په ربذه کې

پیغمبر اکرم (ص):

ابـــوذر یوازې ژوند کوي،

یوازې به مري

او یوازې به د قیامت پر ورځ راپاڅي.

خلیفه (رض) مروان ته وویل: ابوذر به ربذې ته ورسوئ او په لار کې به څوك نه پرېږدئ، چې خبرې ورسره وکړي.

حضرت ابوذر (رض) یې پر شاتورې اوښه سپور کړ او مروان هم ورپسې شو، خلك یې د خلیفه د دستور له مخې، نه ورپرېښوول.

ابوذر (رض) شاوخوا ته کتل او هغه بدعتونه او بدلونونه یې لیدل، چې د رسول الله تر وفات روسته، رامنځ ته شوي ول. ددې ښار په گوټ گوټ کې یې یادیزې درلودې. له غمه یې سر ښکته نیولی و، په سوچ کې ډوب و او په غوږونو کې یې د پیغمبراکرم د غږ انگازې وې، چې ورته یې ویلي وو: ((تر مرگ ر وسته به د ستونزو او بلاگانو په سمندر کې لاهو شې.))

_ د خدای لپاره به وي؟

_ هو!

_ د الله پر رضا خوښ یم.

حضرت ابوذر (رض) چې سر راپورته کړ، لیدل یې چې په بېدیاوو کې یې روان کړی دی. دا بېدیا نن بیا د پېغمبراکرم ددې پاك، پتمن او زړور صحابي پر شړنې شاهدانې دي.
حضرت ابوذر (رض) یې روان کړی و، لمر هم له خپګان او شرمه وړانګې راټولې کړې او نهیلی په لوېدیځ کې ډوب شو.
حضرت علي (ک) چې د حضرت ابوذر (رض) له شړلو خبر شو، په ژړا شو او هېښنده یې وویل: د پېغمبراکرم له پتمن یار سره یې څه وکړل؟
له حضرت امام حسن، حضرت امام حسین، حضرت عقیل، حضرت عبدالله بن جعفر او حضرت عمار بن یاسر (رضی الله عنهم) سره په حضرت ابوذر (رض) پسې ووتل او په بیړه ور و رسېدل.
حضرت علي (ک)، د حضرت ابوذر (رض) مخې ته ورغی، چې خبرې ورسره وکړي، مروان رامخې ته شو، ورته و یې ویل: علي! امیرالمؤمنین راته ویلي، چې څوك حق نه لري، له ابوذر سره خبرې وکړي، که خبر نه یې؛ نو خبر شه؟
حضرت علي (ک) د مروان د خبرو پروا و نه کړه او ورنږدې شو، مروان بیا راغی او د حضرت علي (ک) مخه یې ونیوه؛ خو حضرت علي (ک) دا ځل د مروان اوښه پر سر ووهله، و یې ویل: لرې شه! د الله په قهر اخته شې.
مروان چې د حضرت علي (ک) غوسه او هوډ ولید، حضرت ابوذر (ک) یې ور پرېښود او پښې یې ښار ته سپکې کړې.

حضرت علي(ک) او یاران یې له حضرت ابوذر(رض) سره شول او ربذې ته یې ورساوه. له اوښانو راکوز شول، کېناستل او په خبرو اترو بوخت شول. خبرې ډېرې خوږې وې؛ خو بېلتون راغی او حضرت علي(ک) راپاڅېد. د حضرت علي کرم الله وجهه پر زړه د غم څپه راغله، نږدې ول، چې زړه یې پړک چاودلی وای، په ژړا شو؛ حضرت علي(ک) حضرت ابوذر (رض) ته ورغاړې وت، له سترګو یې غټې غټې اوښکې روانې وې، حضرت علي(ک) هم د رسول الله ددې پتمن، د بېوزلیو سرپناه او د نبوي کورنۍ د پلوي پر بېلتون ډېر خپه شو او په ژړا شو. حضرت ابوذر(رض) هم په ژړا حضرت علي، حضرت امام حسن او حضرت امام حسین(رضی الله عنهم) ته کتل او پر غمجن او ژړغوني غږ یې وویل: د رحمت کورنۍ! خدای مو وبښه! علي! چې تا او زامن دې ګورم؛ نو پېغمبراکرم رایادېږي. په مدینه کې ما بې له تاسې څوك نه درلودل او زړه به مې ستاسې په لیدو ډېر خوشحالېده. په شام او مدینه کې زه د خلیفه او د هغه د تره د زوی پر سر پېټی وم؛ نه یې غوښتل، زه هلته پاتې شم؛ وېرېدل حکومت یې ړنګ کړم. زه یې دلته راوشړلم، چې بې له الله بل مل نه لرم.

حضرت علي(ک) په ژړا وویل: ابوذره! ته د الله لپاره راپاڅېدلی وې او د هماغه الله په هیله وسه، دوی د خپلې نړۍ لپاره، له تا وېرېدل او ته د خپل دین لپاره له دوی وېرېدې او د څه لپاره، چې درنه وېرېدل، ورپرېږده یې او د څه لپاره، چې ته ترې وېرېدې، له ځان سره یې وساته، ډېر ژر به پوه شي، چې چا ګټه کړې او چا تاوان؟ که پر چا د ځمکې او اسمانو ورونه وتړل شي او د بنده په زړه کې د الله مینه او

وېره وي؛ نو الله به يې په خپله مل شي. ابوذره! يوازې د حق دوستي کوه او له باطله ځان لرې ساته، که تا هم د هغوی په څېر خپل اخرت په نړۍ پلورلی و او مالونه دې ځان ته زېرمول؛ نو هېڅ کار به يې درسره نه درلود.

بيا يې حضرت امام حسن او حضرت امام حسين ته وويل: زامنو! له خپل تره سره خدای په اماني وکړئ (ابوذر(رض) هم د پيغمبراکرم په څېر د دې دوو جنتي ځوانانو تندي او لاسونه ښکل کړل).

عقيله! له خپل رور سره دې خدای په اماني وکړه.

او همداسې نورو خدای په اماني وکړه او د غم و خپگان په بېړۍ کې سواره شول او حضرت ابوذر(رض) يې يوازې، د غم او خپگان د سمندر څپو ته پرېښود.

حضرت ابوذر(رض) هم، چې له سترگو يې نه وو پناه شوي، سترگې و نه خوځولې.

مروان له حضرت علي(ک) خليفه ته شکايت وکړ. خليفه(رض)، غوسه له خپل ځايه راپاڅېد، و يې ويل: مسلمانانو! زه له علي سره څه وکړم، زما مامور يې د دولتي دندې د سرته رسولو پر مهال رټلی او وهلی دی او زما له فرمانه يې سرغړولی، صبر وکړئ، چې راشي؛ نو خوښ به يې شم.

حضرت علي(ک) چې مدينې ته راستون شو؛ نو خلکو مخې ته ورمنډه کړه، ورته و يې ويل: خليفه درته مچيو چيچلی؛ ځکه له حضرت ابوذر (رض) سره دې خبرې کړې دي.

شپه شوه؛ حضرت علي (ک) جومات ته ولاړ، خلیفه وویل: له مروان سره دې ولې داسې چلن کړی؟ او زما له فرمانه دې سرغړولی دی؟

حضرت علي (ک): مروان لومړی له ما سر وغړاوه، ما یې یوازې په دې چې ابوذر له لیدو منع کولم، خبره و نه منله او را به شو ستا فرمان ته، ما ستا له فرمانه سر نه دی غړولی.

خلیفه: خبر نه وې، چې ما دستور ورکړی و، چې څوك حق نه لري، له ابوذر سره خبرې یا خدای په اماني وکړي؟

حضرت علي (ک): ایا ستا هر دستور که څه، د الله او حق پرخلاف وي، ومنم؟ نه پر الله قسم، چې هېڅکله به داسې و نه کړم.

خلیفه: د مروان بدله ورکړه.

حضرت علي (ک): د څه بدله؟

خلیفه: تا یې اوښه پر سر وهلې ده.

حضرت علي (ک): هغه زما اوښه ده، ولاړ دې شي او څنګه چې ما یې اوښه وهلې، زما اوښه دې هم ووهي. پر الله قسم چې مروان ته مې کنځل نه دي کړي.

خلیفه: داسې خو نه کېږي، چې تا به مروان ته کنځل کړې وای او هغه به یې تا ته نه کوي. پر الله قسم، چې مروان ما ته تر تا ډېر ښه دی.

حضرت علي کرم الله وجهه غوسه وویل: ته ما ته دا خبره کوې، تر ما مروان ښه دی؟ پر الله قسم، چې تر تا ډېر غوره یم او پلار مې ستا تر پلاره او مور مې ستا تر موره غوره ده.

خلیفه غوسه کور ته ولاړ او حضرت علي (ک) هم خپل کور ته ولاړ. په لار کې انصار او مهاجر ترې راټول شول، چې ارام یې کړي. سبا

سهار، چې خلك خليفه ته ورغلل؛ نو خليفه له حضرت علي (ک) ورته زړه وخوړ، و يې ويل: علي تل پر ما نيوکې کوي او هغه څوك پر شا ټېوي، چې پر ما نيوکې کوي.

خلك د حضرت علي (ک) او خليفه ترمنځ منځګړي شول او دواړه يې پخلا کړل او بيا حضرت علي (ک) په ارامۍ خليفه ته وويل: له حضرت ابوذر (رض) سره له مخه ښې مې موخه يوازې د الله خوښي وه او بل هېڅ مطلب مې نه درلود.

# یوازېنی رښتین

خلك د حضرت ابوذر(رض) په شړلو خورا خپه شول. حضرت ابوالدرداء (ض) چې د حضرت ابوذر(رض) له شړلو خبر شو، و یې ویل: پر الله قسم، که سر رانه غوڅ کړي، چې د حضرت ابوذر(رض) له سره یو وېښته کم کړم؛ نو دا کار به مې نه وای کړی؛ ځکه له رسول الله مې اورېدلي ول، چې و یې ویل: " لا تر اوسه پر ځمکه او تر اسمان لاندې، د ابوذر په څېر رښتین نه دی تېر شوی".

حضرت عبدالله بن مسعود[21](رض)، چې په "کوفه" کې د حضرت ابوذر(رض) له تبعیده خبر شو؛ نو د امویانو له غوږونو یې تل خلکو ته دا آیت لوسته:

[ثُمَّ أَنتُمْ هَـؤُلاء تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقاً مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ تَظَاهَرُونَ عَلَيْهِم بِالإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَإِن يَأتُوكُمْ اسارَى تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاء مَن يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنكُمْ إِلاَّ خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ النړی وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ[22]]

---

[21] (د پېغمبر (ص) ستر صحابي)

[22] (بقره/۸۵ )- خو همدا تاسې یاست، چې په خپلو کې وژنئ او ځینې له خپلو ځمکو شړئ او په دې گناه او تېري کې یو د بل مرسته کوئ (او دا ټول د هغې ژمنې ماتول دي، چې له الله سره مو کړې) او چې کله ځینې اسیران ونیسئ؛ نو د تاوان په بدل کې یې ازادوئ؛ حال دا، د هغوی شړل خو لا له سره پر تاسې حرام

د کوفې د والي (وليد) غوږونو ته دا خبره ورسېده او هغه هم دا خبره خليفه ته ورسوله او خليفه هم وليد ته فرمان ورکړ، چې حضرت عبدالله بن مسعود(رض) مدينې ته راولېږه.

حضرت عبدالله بن مسعود(رض)، چې مدينې ته ورغی؛ نو جومات ته ننوت.

خليفه خپل تور مريي ته وويل: دباندې يې وباسه، چې څېره يې و نه وينم.

تور مريي هم حضرت عبدالله بن مسعود(رض) اوچت کړ او له جوماته بهر يې پر ځمکه ووېشت او تر پښو لاندې يې کړ، لومړی يې ښه وواهه او بيا يې بندي کړ او هېڅ خواړه يې هم ور نه کړل، چې ساه يې ورکړه او ومړ (شهيد شو).

حضرت معاويه بن ابوسفيان ته خبر ورسېد، چې خليفه ابوذر(رض) ربذې ته شړلی؛ خوشحاله شو او و يې پتيېله، چې مېرمن يې هم ربذې ته وشړي.

"ام ذر"[۲۳] چې له کوره راووته؛ نو د پيسو کڅوړه ورسره وه. حضرت معاويه بن ابوسفيان ترې واخسته او خپل شاوخوا خلکو ته يې وويل:

---

ول. ايا د اسماني کتاب پر ځينو برخو ايمان راوړئ او پر ځينو يې کافران کېږئ؟ نو په تاسې کې چې څوك دغسې کړنې (په الهي احکامو کې توپير) کوي؛ نو سزا يې په نړۍ کې رسوايي او د قيامت پر ورځ به په سختو عذابونو اخته شي او څه چې کوئ، الله ترې نا خبره نه دی.

[۲۳] (د حضرت ابوذر مېرمن)

ابوذر به تاسې ته مسلې کولې او په خپله یې حملې پرې کوي! تاسې یې له دې کڅوړو ژغورلئ او په خپله یې دا کڅوړې زېرمولې! اوس یې کڅوړې وګورئ.

ام ذر: پر الله قسم، چې دا نه دینار دي او نه درهم؛ بلکې څه ماتې پیسې دي، چې کله به حضرت ابوذر معاش اخسته؛ نو دا به یې راته د کور د لګښت لپاره راکولې.

ام ذر چې ربذې ته ورسېده؛ نو ګوري چې مېړه یې په بېدیا کې جومات جوړوي.

یوه ورځ حضرت نعیم ریاحي(رض) ربذې ته ورغی او «ام ذر» یې وپوښتله: حضرت ابوذر چېرې دی؟

ـ په اوبو پسې تللی، اوس به راشي.

نعیم(رض) پاتې شو، چې حضرت ابوذر(رض) ووینې. څو شېبې روسته، حضرت ابوذر(رض) دوه اوښان را راوان کړي ول، چې پر هر یو یې د اوبو ژي راځوړند کړي ول. حضرت ابوذر(رض) راغی او ژي یې له اوښانو راښکته کړل.

نعیم(رض): په خلکو کې به زما په څېر سړی پیدا نه کړې، چې ستا په لیدو هم خوشحاله شي او هم خپه!

حضرت ابوذر(رض): پر پیر دې رحمت شه! دا څنګه خبره دې وکړه؟

نعیم(رض): د جاهلیت پر مهال مې خپله یوه لور ژوندۍ ښخه کړې وه؛ خوشحاله وم، چې کېدای شي ستا له خولې واورم، چې توبه وباسه، الله به یې قبوله کړي او خپه پردې وم، چې کېدای شي، له خولې دې واورم، چې توبه دې نه قبلېږي.

حضرت ابوذر(رض): د جاهلیت پرمهال دې دا کار کړی و.

نعیم: هو!

حضرت ابوذر(رض): تېر په هېر! خدای ستا د تېر وخت له گناهونو تېر شوی دی.

## د لوږې پر ضد د مخکښ مبارز
## د ژوند ویرجنه پای

د حج موسم را و رسېد. حاجیان چې له "ربذې" تېرېدل؛ نو د حضرت ابوذر (رض) په جومات کې یې لمونځ کاوه او د رسول الله له دې ستر صحابي سره یې بنډار کاوه. یوه ورځ یوه ډله حاجیان جومات ته ننوتل گوري، چې حضرت ابوذر (رض) پر لمانځه ولاړ دی، ودرېدل چې حضرت ابوذر (رض) خپل لمونځ پای ته ورسه.

حضرت ابوذر (رض) حاجیانو ته وویل: زه خپلو ارمانو وژلی یم، چې کله به هم ور و نه رسم.

خلك له حضرت ابوذر(رض) راتاو ول او ځینو داچې د حضرت ابوذر(رض) زړه یې خوشحال کړی وي، په خلیفه پسې یې خوله پرانسته؛ خو حضرت ابوذر(رض) پرې نه ښودل، پاڅېد او له خپل چوپړیال سره ولاړ.

حضرت مغرور بن سوید(رض) ولیدل، چې د حضرت ابوذر(رض) او مریي جامې یې یو شان دي؛ هېښنده یې حضرت ابوذر(رض) وپوښت.

ابوذر(رض) وویل: رسول الله راته وویل: چوپړیالان ستاسې رونه دي، چې الله ستاسې تر لاس لاندې کړي او د چا تر لاس لاندې چې یې رور کار کوي؛ نو باید خوراك و څښاك یې یو شان وي او هغه

سخت کارونه، چې په خپله یې نشئ کولای، ور و نه سپارئ او په سختو کارو کې یې مرسته وکړئ.

حضرت ابوذر(رض) ولاړ او د خپلې کېږدۍ مخې ته پر تراټ کېناست. یو سړي د حضرت ابوذر(رض) ښځه ولیده، چې مخ یې تور او مړاوی و؛ ابوذر(رض) ته راغی او د زړه سوي له مخې یې وویل: ته داسې سړی یې چې زوی نه لرې.[٢٤]

حضرت ابوذر(رض): د الله شکر دی، چې له دې فاني نړۍ ولاړ او د اخرت توښه شو.

ـ ښه به نه وای، چې بله ښځه دې کړې وای.

ـ حضرت ابوذر(رض): هغه ښځه راته غوره ده، چې ما خاکسار کړي نه مغرور.

ـ ښه به نه وای، چې ښه کور دې جوړ کړی وای.

ابوذر(رض): پر هر څه شکر دی.... نه! زه د خدای پر رضا راضي یم.

حاجیان ولاړل او حضرت ابوذر(رض) او ښځه یې په ربذه کې پاتې شول.

شپې ورځې تېرېدې او حضرت ابوذر(رض) به شپې و ورځې، د الله په عبادت کې تېرولې او ځان یې الله ته په هغې لویه او وچه بېدیا کې ډېر نږدې گاڼه. له خلیفه یې د بیت الله د زیارت اجازه واخسته او مکې ته ولاړ.

---

[٢٤] ( یادونه: دا د حضرت ابوذر د ژوند له اختلافي مسلو څنې ده. )

کعبې ته چې ورسېد، ودرېد او غږ يې کړ: خلکو! زه جندب غفاري يم! خلك چې راټول شول، په وينا يې پيل وکړ: خلکو! ايا ستاسې پر گروهه، څوك چې سفر ته ځي، بايد له ځان سره د سفر توښه يوسي، که نه؟

خلك: دا خو معلومه خبره ده.

حضرت ابوذر(رض): د قيامت سفر له تصوره ډېر اوږد دی؛ نو څه مو چې په کار راځي، له ځان سره يوسئ.

ـ په سفر کې مو څه په کار راځي؟

حضرت ابوذر(رض): د مهمو چارو د سر ته رسولو لپاره؛ د الله د کور زيارت ته راشئ. د قيامت ورځې د حساب و کتاب د اسانتيا لپاره؛ په تودو ورځو کې روژې نيسئ. د قبر د رڼا لپاره؛ د شپې دوه رکعته لمونځ کوئ. د قيامت ورځې په پار د حق خبره کوئ او له باطله ځان لرې ساتئ. له خپلو مالونو خلکو ته ور وبښئ، کېدای شي د هغې ورځې سختۍ دربانديې اسانه شي. نړۍ د ځان لپاره دوه برخې کړئ: يوه برخه يې د حلالو گټلو لپاره او بله يې د اخرت لپاره او بې له دې به مو بل څه په کار رانشي. خپل مالونه دوه برخې کړئ: په يوه برخه د خپل ژوند او کورنۍ اړتياوې پوره کړئ او بله برخه يې اخرت ته وساتئ او بې له دې به مو مال په کار رانشي.

حضرت ابوذر(رض) حج وکړ؛ "منی" ته ولاړ او خبر شو، چې خليفه په سفر کې څلور رکعته لمونځ کړی. حضرت ابوذر(رض) له غوسې سور شو او په خليفه پسې يې خوله وسپړله، و يې ويل: زه د الله له رسول (ص) سره وم؛ هغه په سفر کې دوه رکعته لمونځ کاوه؛ حضرت

ابوبکر او حضرت عمر (رضی الله عنهم) به هم همداسې کول؛ نو خلیفه څوك دی، چې په دین کې بدعتونه راولي؟

بیا حضرت ابوذر (رض) ودرېد او په خپله یې هم څلور رکعته لمونځ وکړ. د شاوخوا خلك د حضرت ابوذر (رض) له دې کاره هېښ شول، چې لمونځ یې وکړ؛ نو حضرت ابوذر (رض) ته یې وویل: ته خو خلیفه ته د همدې کار له لامله مچیو چیچلی وې او په خپله دې هم د خلیفه کار وکړ.

حضرت ابوذر (رض): دا کار د مسلمانانو تر نفاق غوره دی.

حضرت ابوذر (رض) ربذې ته ستون شو.

دلته د حضرت ابوذر (رض) د ژوند د کتاب ډېرې غمجنې او ژړوونکې پاڼې پیلېږي.

د ژوند سختۍ او تنگسې ورځ پر ورځ ډېرېدې؛ لوږ، ښځه او زوی یې لوږې سخت تنگ کړي ول؛ خو ددې ټولو ستونزو پر وړاندې یې د زړه تسل دا و، چې دا ټولې سختۍ پرې د الله، د خلکو د ازادۍ او له بېوزلیو د خلاصون لپاره راځي. د هرې سختۍ او بلا لپاره یې سینه پراخه کړې وه. څو مېږې یې درلودې، چې ژوند یې پرې تېراوه، چې هغه هم یوه په بلې پسې مړې شوې، د ژوند د ستونزو، بېوزلۍ او لوږې لېوانو پرې برید کړی و. هغه د لوږې له لاسه په خپلو سترگو، د خپلې لور مرگ ولید؛ خو د بېوزلۍ او لوږې لېوانو یوازې، د هغه پر لور صرفه و نه کړه؛ بلکې په زوی پسې یې هم ورغلل. حضرت ابوذر (رض) ووېرېد، چې که زوی یې هم په بېدیا کې ومري؛ نو مسوول به وي. پاڅېد، مدینې ته ولاړ او سیده خلیفه ته ورغی.

د وره ځنګ ته د خليفه مخې ته ودرېد او په نيولي او لوړ غږ يې وويل: خليفه! تا زه داسې سيمې ته لېږلی يم، چې نه پکې خواړه شته او نه پکې څه کښت کېږي. څو ګډې لرم، چې لا تر اوسه نه دي لنګې شوي، له ښځې پرته بل چوپړيال نه لرم، په هغې توده او وچه بېديا کې مې سيوری يوازې يوه ونه ده.

خليفه! يو چوپړيال او څو ګډې راکړه، چې ژوند مې پرې تېر شي.

ته وا؛ لکه چې خليفه د ابوذر (رض) خبرې بېخي نه وي اورېدلي، له حضرت ابوذر (رض) يې مخ واړاوه. حضرت ابوذر (رض) هغه بل اړخ ته ورغی او بيا يې خپلې خبرې وکړې.

حضرت حبيب بن سلمه (رض) د خليفه له مامورينو و، پر حضرت ابوذر (رض) يې زړه وسوځېد، ورته و يې ويل: ته له ما سره زر درهمه، پينځه سوه ګډې او يو چوپړيال لرې.

حضرت ابوذر (رض): پيسې، ګډې او چوپړيال دې هغه ته ورکړه، چې تر ما ورته ډېره اړتيا لري، زه خپل حق غواړم، چې قرآن راته ټاکلی. دا مهال حضرت علي (ک) راننوت.

خليفه (حضرت علي ته په خطاب کې): دا لېونی دې له ځان سره بوځه.

حضرت علي (ک): کوم لېونی؟ !

خليفه: ابوذر.

حضرت علي (ک): هغه لېونی نه دی! پر الله قسم، چې له رسول الله نه مې اورېدلي: «ابوذر په شرم، زهد او عاجزۍ کې د عيسی بن مريم په څېر دی.»

حضرت ابوذر (رض) د خلیفه په دې خبره ډېر خپه او غوسه شو او په خپګان او غوسې ترې ووت او ځومره چغې یې چې ورپسې ووهلې، مخ یې ور وا نه ړاوه او سیده ربذې ته ولاړ. کور ته چې ننوت؛ نو و یې لیدل چې ښځه یې د خپل زوی جنازې ته (چې د حضرت ابوذر تر راتګه څو شیبې مخکې یې له لوږې ساه ورکړې وه) ناسته وه او ژړل یې؛ حضرت ابوذر (رض) پوه شو، چې د بېوزلۍ او لوږې لېوانو یې زوی هم داړلی دی؛ د یوې شیبې لپاره یې ویرجنې سترګې پټې کړې او داچې غم وزغمي؛ نو ځان یې پر الله وسپاره؛ سترګې یې پرانستې، اوښکې یې په لاسونو پاکې کړې او په پوره ایمان یې د خپل زوی جنازه واخسته؛ خو د زوی د بېلتون اور یې سینه سېځله، خپل زوی یې په کفانه کړ او خاورو ته یې وسپاره.
پر حضرت ابوذر (رض) چې څومره سختۍ راتلې، هومره یې ځان الله ته نږدې ګاڼه. دا مهال یې په زړه کې تېر شول، چې نن تر هر وخت ډېر الله ته نږدې یې. څو شیبې د زوی قبر ته ناست و او په پلرنۍ مینه یې د زوی د قبر پر تورو خاورو لاسونه وهل او په سختۍ یې ویل:
زویه! خدای دې وبښه، ډېر ښه هلك وې، له خپلو زړو موروپلار سره دې ډېره مرسته کوله. ګرانه زویه! زه ستا پر مرګ ځان بېوزله او خوار نه ګڼم. زه بې له الله بل هېچا ته اړتیا نه لرم. زویه! که له حساب و کتابه وېره نه وای؛ نو خوښ وم، چې ستا پر ځای، الله زما ساه اخستې وای. زویه! کاشکې په دې پوهېدلی وای، چې د مرګ پر لومړۍ شپه یې څه درنه وپوښتل او تا څه ځواب ورکړ؟ خدایه! تا چې پرې څه حقوق فرض کړي ول او څه دې چې پرې زموږ لپاره فرض کړي ول؛

ما ورته خپل حق وربښلی، ته یې هم ور وبښې، چې ته تر ما ډېر ښاند او لوراند یې.

د خپل زوی له قبره راپاڅېد، د لوږې بې رحمه منګولې یې لا پر وجود ښخې وې. د رسول الله دې دوو پتمنو یارانو: حضرت ابوذر او حضرت ام ذر؛ دې د تاریخ اتلانو، څو ورځې په لوږه تېرې کړې او هره شېبه د مرګ په تمه ول؛

په بېدیا کې چوپه چوپتیا وه، د ربذې ځمکې او اسمان، د تاریخ د دوو بد مرغو اتلانو څارنه کوله او د "زر" او "زور" بې رحمه لاسونو څومره غمجنه ننداره جوړه کړې ده.

مرګ رانږدې شو؛ حضرت ابوذر خپلې ښځې ته وویل: راپاڅه، چې د هغې غونډۍ سر ته وخېژو، کېدای شي، واښه پرې وي، لږ به وخورو، چې د لوږې اور مو پرې لږ سوړ شي.

له کېږدۍ راووتل: توند باد راغی، چې د ربذې شګې یې را اخستې او پر ځمکه ایشتلې؛ ته وا، د باد زړه هم پړک چوي او د خدای پر پاکو بندګانو دومره ظلم نشي زغملای، غوښتل یې ټول طبیعت له دې ظلمه خبر کړي.

د څه وخت لپاره په لټه کې شول؛ خو څه یې و نه موندل؛ حضرت ابوذر(رض) خوارځواکی شو او پر تندي یې د مرګ خولې راماتې شوې او بېرته راوګرځېدل؛ خو توپان هماغسې په توندۍ چلېده.

د کجورې په ونې پورې د دوی کېږدۍ تړلې وه، هغه رانړېدلې وه. د حضرت ابوذر(رض) په زنګنو کې زور نه و پاتې، پښې یې سستې

شوې او سر يې پر ټټر راځوړند شو؛ ته وا له يوه باز څخه يې چې وزرونه غوڅ کړي وي.
ښځې يې د ابوذر(رض) په څېره کې د مرګ نښې وليدې. حضرت ابوذر(رض) په خوارو سترګو؛ په حسرت خپلې ښځې ته وکتل، و يې ويل: بېلتون رانږدې شو.
ام ذر(رض): دا پر تا څه وشو؟
ابوذر(رض): پر الله قسم، چې ډېر ژر به له دې فاني نړۍ، ابدي نړۍ ته ورشم.
بې هوښه شو او د ښځې يې نور طاقت او صبر تمام شو او سترګې يې وبهېدې.
حضرت ابوذر(رض) چې سترګې پرانستې، ليدل يې چې ښځه يې ژاړي. و يې ويل: ولې ژاړې؟
ام ذر(رض): ژاړم به نه، په خپلو سترګو دې وينم، چې په دې بېديا کې مرې او هيڅ کار مې له لاسه نه کېږي. نه ستا داسې جامې شته او نه زما، چې پکې دې په کفانه کړم.
د حضرت ابوذر(رض) زړه پر خپلې مسکينې ښځې وسوځېد او تسلي يې ورکوله: ښځې مه ژاړه! زېرى مې درباندې! د خداى له رسول مې اورېدلي: د مسلمان ښځې او مېړه، چې دوه يا درې زامن مړه شوي وي او صبر يې کړى وي او ځانونه يې الله ته سپارلي وي؛ نو هېڅلکه به د دوزخ اور و نه ويني. درې بچې مو مړه شول، صبر مو وکړ او ځانونه مو پر خداى وسپارل.
بيا غلي شول؛ ښځه يې په ژړا شوه.

دا مهال د حضرت ابوذر(رض) پر زړه خپل حبیب (ص) راوریېد او خوشحاله شو، چې ژر به یې وګورم. د خپلې ښځې د تسلی لپاره یې وویل: رسول الله یوې ډلې ته چې زه هم پکې وم وویل: "په تاسې کې به یو په بېدیا کې مري او یوه ډله مسلمانان به یې جنازه وکړي، چې له هغه ځایه تېرېږي "بې له ما څوك چې په دې ډله کې ول، مړه شوي او یوازې زه یم، چې په بېدیا کې باید ومرم. پر الله قسم، چې نه درته دروغ وایم او نه راته دروغ ویل شوي دي. پاځه! لار وڅاره چې څوك شته که نه؟

ام ذر(رض): چېرې وګورم؟ حاجیان تللي او څوك نه ښکاري.

حضرت ابوذر(رض): که څوك دې و نه لیدل؛ نو دا څادر راباندې واچاوه او د لارې پر سر مې کېږده؛ هره قافله چې له دې ځایه تېرېده، ورتهووایه: دا د رسول الله صحابي ابوذر دی؛ مړ شوی، چې په کفن او ښخولو کې مرسته درسره وکړي.

ښځې یې کله یوې خواته او کله بلې خواته منډې وهلې؛ خو څوك یې مخې ته ور نه غلل؛ بېرته راستنه شوه او د حضرت ابوذر(رض) سرته کېناسته.

حضرت ابوذر(رض) بیا ترې وغوښتل: ولاړه شه! وګوره که څوك راغلي وي.

ښځه یې نوره نهیلې شوې وه؛ خو د حضرت ابوذر(رض) د زړه لپاره به کله پر یوې غونډۍ او کله پر بله ختله؛ له ورایه یې سترګې پر څو سړیو ولګېدې. حضرت ام ذر(رض) تونده ورته وخوځوله او هغوی

هم د دوی خوا ته روان شول، چې ور ورسېدل؛ نو ام ذر(رض) ته یې وویل: د خدای وینځې، له مور سره څه کار لرې؟

_ یو مسلمان مري؛ راشئ په کفن او ښخولو کې راسره مرسته وکړئ، خدای به درسره ښه وکړي.

_ څوك دی؟

_ابوذر.

د رسول الله صحابي؟

_ هو!

_ خدایه! ما او مور و پلار مې له ابوذره ځار کړې.

په منډه د حضرت ابوذر(رض) کېږدۍ ته ورغلل؛ حضرت ابوذر (رض) لا ژوندی و، سلام یې واچاوه.

حضرت ابوذر(رض) په ارام اوغمجن غږ وویل: که له ما او ښځې سره مې دومره ټوټه وای، چې زما د کفن لپاره بس وي؛ نو په هغې کې به مې ځان کفن کړی وای. ستاسې دې پر الله قسم وي، په تاسې کې که څوك د خلافت مامور وي؛ نو ما دې نه کفانه کوي.

ټولو هېښنده یو بل ته وکتل؛ ځکه ټول په دولت کې مامورین ول، بې له انصاري ځوانه، چې و یې ویل: کاکا جانه! زه په دولت کې منصب نه لرم، یا به دې په خپلو جامو کې یا په دې ټوټه کې(چې مور مې راته ګنډلې) کفن کړم.

حضرت ابوذر(رض): ته مې کفن کړه.

حضرت ابوذر (رض) چې له خپل کفن او ښخولو ډاډمن شو، په ارامۍ او ډاډ یې سترګې پټې کړې او داسې د ابوذر (رض) د ژوند د سرلوړې او غمجنې کیسې کتاب وتړل شو.
غسل یې ورکړ، په کفن کې یې تاو کړ او د حضرت ابوذر (رض) د جنازې لمونځ یې وکړ او د یوه ګټ ترڅنګ یې د بېدیا په پستو شګو کې ښخ کړ.
ځوان انصاري د حضرت ابوذر (رض) د قبر خوا ته ودرېد، و یې ویل:
خدایه! دا ابوذر پر تا مین و او ستا د نازولي استازي پټمن یار و، ستا په لار کې یې له مشرکینو سره په مړانه جهاد وکړ؛
خدایه! ستا د پیغمبر تر وفات روسته وا نه وښت، په ټولنه کې یې منکرات لیدل او په ژبه او زړه یې مبارزه ورسره پیل کړه او ځکه یې وځوراوه؛ معاش یې پرې بند کړ او د ژوند له لومړنیو امکاناتو یې هم بې برخې کړ او بالاخره یې دې وچې بېدیا ته راوشاړه، چې په غربت کې یوازې مړ شو؛
خدایه! چاچې ابوذر (رض) له خپل کوره، ستا له کوره او د پیغمبر اکرم (ص) د حرم له زیارته بې برخې کړی او شړلی وي، ته ورسره پوه شه.
ټولو لاسونه اسمان ته نیولي ول او ویل یې: آمین یا رب العالمین.
له دوی یو په ژړا وویل: یا رسول الله (ص)! د ابوذر (رض) په اړه دې رښتیا ویلي وو: ((ابوذر؛ یوازې ژوند کوي، یوازې به مري او یوازې به د قیامت پر ورځ راپاڅي.))

پای